# په نیمه لار کې پاتې

# ناول

## لیکوال: صحت سمسور

د الې خوږې مورجانې او پلارجان ته !

چې په ژوند کې یې راسره زیاتې ستونزې ګاللې.

سمسور

هغه کتابونه چې سمسور وو بپانې پرلیکه کړې او یا یې پر
لیکه کوي، نور څوک یې
پر لیکه کول اجازه نه لري

# له مينې سترى صحت

ناول لاتيني کليمه ده د عجيبه څيز په مانا او په ادبي اصطلاح کې دهغو انساني جذباتو او احساساتو بيان کوي، چي په اظهارېې د نورو انسانانو همدردي پيداشي، په ناول کي د انساني ژوند لوړې ژورې، موجودې وي، د انسان له پيدا ايښت څخه تر پايښت پورې، چي کوم واقيعات پېښېږي د ټولو انځورونه د خپل فن موضوع ګرځوي، د ناول دنيا د حقيقي دنيا په شان د زمان او مکان او په نړۍ کې د پېښو د رښتينولۍ پربنا ولاړه وي. اوس که مونږ ددې ناول چې همدا اوس ستاسې په لاس کې دی ( په نيمه لار کې پاتې ) نوم ته پام وکړو ډېر په زړه پورې نوم دی. د هغه انسان د ژوند د کيسې انځور دی، چې د ژوند هغه برخه، چې په انساني ژوند کې له ارزښته ډکه او يوه سرنوشت ټاکونکې ده، د يوې نايابې او نا پايې مينې د لاسته راوړلو په موخه لکه د ژمي د مازيګر په څېر بې خونده او بې پنده تېره شي.

صحت سمسور ( په نيمه لار کې پاتې ) ناول کې مينه د زړه په وينه، د سر په بيه، د ټولنې د ناوړه دودونو په خلاف پاللې او د مينې له دومره لوی سمندره بې برخې او خالي منګول راوتی دی.

(په نيمه لار کې پاتې ) له تلوسې ډک ښکلی نوم دی، چې لوستونکي له ځان سره مخ په وړاندې بيايي، لوستونکي دې ته پاروي، چې د لوستل شويو پاڼو وروسته پاڼې هم ولولي او لوستونکي ته دا تلوسه ورکوي، چې په راتلونکي پوړ کې څه پېښېږي او څه پيښه شوې؟

ددې ناول کيسه د ټولنيزو، ښتني ناوړه دودونو او د بې وسه ژوند له کشمکش نه ډک داستان دی.

سمسور په دغه ناول کې هر کريکټر پخپل ځای کې په ښه شان لوبولی او هر يو يې په خپله ژبه ګړولی دی. ( په نيمه لار کې پاتې ) ناول يو شمېر ډېر ښکلي او په زړه پورې انځورونه لري، لکه د بيلګې په ډول.

(د شپې ويرونکي خاموشي زما او د هغې سلګيو ماته کړې وه ) او يا دا (ما به ورته وويل ليونۍ ته مې له زړه څه خبره يې ؟)

يو بله انځورونکې صحنه چې ډېره سيمه ييزه او هنري ښکلا لري

لکه : (په تازه جوړ شوي قبر د واده د زلمي دغاړې امیلونو په خاورین قبر سلګۍ وهلې.) کوم اصطلاحات اولغاتونه، چې مونږ په ناول لیکنه کې کارو؛ نوباید چې دخپلې سیمې لغات او اصطلاحات ونه کارول شي، ځکه باید داسې ویوونه وکارول شي، چې ټول لوستونکي او اوریدونکي پرې په ډېرې اسانۍ سره وپوهیږي یوه بله مهمه او له ارزښته ډکه خبره په ناول لیکنه کې مکالیمې دي.

په ناول لیکنه کې باید له تکرار شویو مکالیمو نه کار وانه خلو، ځکه د لیکوال ټوله خواري، د ناول هنري، منطقي او ژبني خوږلني په تکراري مکالمو سره له منځه ځي.

دا چې د صحت سمسور ( په نیمه لار کې پاتې ) ناول لومړنۍ ناول لیکنه ده او دې ناول کې نوموړي خپلو سیمه ییزو اصطلاحاتو ته مخه کړې، زما په اند دا به د ښاغلي صحت سمسور په ناول لیکنه کې لویه تېروتنه نه وي.

د صحت سمسور د ژوند د کتاب پاڼې لا د دوه ویشتو (۲۲ کلنو ) په شمار دي او لا یې د ژوند اوږد سفر په مخ کې شته.

د نوموړي ذهني ځیرکتیا، پوه او د لیکوالۍ سره بې کچه مینه کولی شي، چې په راتلونکي کې په هرډول نثري لیکنو کې له پوره لیکني او ژبني تغیر سره ټولنې ته په بشپړه هنري، علمي او ټولنیزو ګاڼو سمبال ناولونه، لنډې کیسې او بیلا بیلې لیکنې وړاندې کړي.

په اخر کې ورته د ښه ژوند په پار لاسونه لپه کوم.

سید حمید الله هاشمي

۱۸-۹-۱۳۹۴

# په نیمه لار کې پاتې هیلې!

صحت سمسور، هغه ځوک چې د ناول د نوم سره سم د سړي ذهن ته ورځي، په لسګونه د ناول کیسې او کتابونه یې له مخې تېر شوي دي او د ده له خوږې ژبې اورېدل شوي دي.
دی د ناول د لوستنې یوه ځانګړې تجربه او یو خاص خو غریب او عجیب طرز او عمل لري، له همدې امله یې بلا ډېر مینه وال پیدا کړي دي او همدا د مینه والو مینه یې ده، چې دی یې تر دې راوېښ او تشویق کړ، چې نن یې خپله ناول لیکنې ته مخه وکړه او دا یې د لومړنۍ هڅې ثمره ده، چې ستاسې د درنو لوستونکو په ګوتو کې ده.
صحت سمسور د ډېرو مشهورو او پخو، پخو لیکوالانو کیسې او ناولونه لوستي او لا یې هم دغه هڅه همدا اسې روانه ساتلې ده؛ نو ځکه خو یې په دې برخه کې هغه هنري ذوق غښتلی او پیاوړی دی.
د ښاغلي صحت سمسور د ناول لومړنۍ هڅه ( په نیمه لار کې پاتې ) مې چې هر څومره لوستې؛ نو هومره پرې پوه شوی یم، چې د نورو لیکوالانو له تجربو یې پوره ګټه پورته کړې ده او همغه شان لکه څنګه چې لازم دي، ده هم خپله کیسه په پوره مهارت روښانه کړې ده.
د صحت سمسور د ناول دغه له درد او سوز ډکه کیسه ډېره جالبه ده، ساده ده، خوږه او روانه ده، نېغه د سړي زړه ته ننوځي او په یو شکل نه یو شکل سړی له ځانه سره ساتي.
زمونږ ددې کتاب لیکوال تل هڅه کړې، چې د کیسې متن روان وساتي، هڅه یې کړې چې د اوږدو پر ځای لنډې او اسانه جملې وکاروي، هرې جملې ته یو ډول هنري رنګ ورکړي او د خپلې کیسې تسلسل یې مراعت کړي، چې همدا د یوه هنرمند او ښه لیکوال نښه ده.
دا چې د ښاغلي صحت سمسور دغه هڅه به څومره پر ځای وي، شاید د یوه لوستونکي په ډول پرې تاسې ښه قضاوت وکړی شئ؛ خو زه یې د

ستایلو ور ځکه بولم، چې دا یې لومړنی ګام دی که څه هم لومړني ګامونه له ستونزو خالي نه وي، خو دی پرې ډېر په جرئت راتېر شوی دی؛ نو کیدای شي چې په راتلونکي کې لا ډیر؛ خو پاخه ګامونه پورته کړي.

زه نور وړاندې نه ځم، ستاسې تلوسه هم نه اوږدوم، پرېږدم مو چې د صحت سمسور د ناول د مینې او درد دغه کیسه ولولئ؛ خو د خپل ګران ملګري صحت سمسور دغه هڅه ستایم، په راتلونکې کې ورته د لابریا هیله لرم او ددې ټولګې د چاپ مبارکي ورکوم.

په درناوي

سهارګل امیرزی

۲۴-۹-۱۳۹۴

جلال اباد

## په نیمه لار کې پاتې

په نیمه لار کې پاتې مې لومړنی ناول دی، چې ومې لیکو تردې ناوله مخکې مې ډېر زیات ناولونه لوستلي او د راډیو دلارې نه مې خپلو مینه والو ته وړاندې کړیدي.
خو لیکلي مې ندي او د هماغه ډېرو ناولونو لوستلو او د راډیو د لارې وړاندې کولو دې ته اړ کړم، چې زه هم یو څه ولیکم او زیات ملګري مې هم په همدې ټینګار وو، چې سمسور صیب، تا خو له راډیو نه ډېر ناولونه خپلو مینه والو ته وړاندې کړل او د ناولونو د کرکټرونو سره به ښه بلد هم یې؛ نو هماغه وو، چې زما په ذهن کې تیاره یوه کیسه پرته وه او هماغه کیسه مې د ذهن له دایرې را وویسته او د کتاب بڼه مې ورکړه.
دا چې زما «په نیمه لار کې پاتې ناول» به ډېرې لیکنۍ ستونزې هم لري؛ خو بیا مې هم تر خپلې وسې پوره هڅه کړېده، چې کیسه بلې خوا ته یونسم، په هماغه صحنو مې را څرخولې ده، چې ستاسې تر مخې تېرېږي او یا به هم تېرې شوې وي.
«په نیمه لار کې پاتې ناول» د ایډیټ او سمون چارې راسره زما ګرانو ملګرو تکړه لیکوال او ژورنالیست سهار ګل امیرزي او سید حمیدالله پاچا ترسره کړېدي، چې دواړو په ناول لیکنه هم کړېده ډېره زیاته مننه ترې کوم.
له شریف شاهین نه هم مننه کوم، چې زما پر ژوند یې یو څو کرښې کښلي او ملګری قاسم سلارزي دې ژوندی وي، چې زما کتاب ته یې په خپلو هنري ګوتو پښتنۍ جوړه کړه او د چاپ په برخه کې به له مومند خپرندویې ټولنې نه ډېره زیاته مننه وکړم، چې د چاپ کولو ټېټر ته یې سینه وډبوله او چاپ یې کړ.

لوستل یې پر تاسو !
او زما یې دالله پامان
په مننې ستاسې سمسور

(۱)

اخ... ! ! !

څه پیکه ورځ راباندې تېره شوه، مازیګر هم خپل روح، ورو ورو د تورتم غېږې ته وسپاره، شپه شوه، شپې هم خپله واکمني قایمه کړه او د خپل خوی او عادت له مخې یې د تورتم څادر پر کایناتو وغوړاوه.

د خپل عمر په پنځه لسم پسرلي کې وم، د لمانځه سره مې ډېره مینه وه، زما د مور او پلار لومړنۍ پوښتنه به هم له مانه دا وه چې، بچیه ! لمونځ دې کړی که نه؟

د ماسختن د لمانځه وخت و، لومړی مې لمونځ وکړ او له لمانځه وروسته خپلې خوب خونې ته لاړم، کتاب مې راواخیست، لوستو هم خوند رانه کړ، ما ویل راشه د افغانستان له حالاتو ځان خبر کړه؛ نو تر ځنګ پرته راډیو مې چالانه کړه، دشپې ۸ بجې وې، د راډیو څپه مې پر یوې نړیوالې راډیو برابره کړه، له راډیو مې خبرونه واورېدل، ټول خبرونه خواشینونکي وو.

یو هم داسې خبر نه و، چې زما زړه ته یې سکون وربخښلی وای، ځکه په وطن کې مو هره ورځ له مرګه بل څه نه وي، هره ورځ مو په وطن کې وسله وال بې ګناه انسانان وژني، د خبرونو اورېدو وروسته مې راډیو بنده کړه، کمپله مې پر ځان راکش کړه او د فکر د نیا ته ننوتم.

که څه هم ورځ راباندې ډېره بې خونده تېره شوې وه، او اغېز یې لاختم شوی نه و، چې فکر او سوچ مې د الله هغه ښکلي خلقت ته شو، چې پر خپل قدرتي کیف یې د بشر په ښه نړۍ ته رالیږلی و.

ما غوښتل چې د مینې تنابونه له دغې ښکلي بشر سره وتړم، دا ډېره ښکلې وه، د کلي د هرې انجلۍ په ژبه د دې د ښایست، پوهې او د ښې انجلۍ کیسې کېدلې.

د دې ښایست پر ما دومره تاثیر کړی و، چې زه یې په مخ کې تېریدی نشوم او نه یې ما نوم ورته اخیستی شو، چې ورته ووایم څومره ښایسته نوم یې درباندې ایښی دی؛ خو څه خیر، دا هغه خبرې وې چې هره ورځ به مې په زړه کې تېرېدې.

دواړه په ښوونځي کې وو ؛ خو د دوی ښوونځی له مونږه یو څه په واټن کې و ، له کلي مو ښوونځي ته د تلو لاره هم تر ډېره شریکه وه؛ خو د دوی ښوونځی په په ۷ نیمو بجو پیل کېده او زمونږ ښوونځی به په ۷ بجو پیل کېده، دا په اتم ټولګي کې وه او زه په ۹ ټولګي کې، هره ورځ به ددې په خاطر ناوخته ښوونځي ته تلم، دومره انتظار به مې ورته کاوه، چې یو ځل به مې ددې، ښوونځی جوړه سپینا لوپټه وکته؛ نو بیا به هغه ورځ راباندې ډېره ښه تېرېده، نور ټولیګوال به مې د جمعې په ورځ رخصتۍ ته ډېر خوښ وو ؛ خو زه به د ښوونځي رخصتۍ ته خپه وم، د جمعې ورځ به چې کله رانږدې شوه، په زړه کې به مې له خفګانه درد شو ، ما به ویل چې خدایه سبا بیا جمعه ده، بیا رخصت دی، زه به څنګه دا ټوله ورځ د هغې له لیدو پرته تېروم ؟

د رخصتۍ نورې ورځې خو لا پرېږده، په ما به دغه یوه ورځ لکه د کال تېرېده، نور زده کوونکي به رخصتیانو ته خوشالیدل او زه به خپه کېدم.

شپه پخه وه، خوب نه راته، په سوچونو او فکرونو کې ډوب وم، چې څنګه به ورته د خپلې مینې اظهار کوم؟ څنګه به ورته وایم چې ته مې دزړه سر یې او له تا پرته مې ژوند نه تېرېږي؟

ځکه د سهار رڼایۍ ته لږې شیبې پاتې وې او ما هم دا کلک هوډ کړی و، چې حتما به ورته سهار په لیک کې دا دوه جملې لیکم، چې ( له تاسره مې مینه ده )او ( ته مې ډېره زیاته خوښېږې )

زمونږ د کلي د ملا صیب اذان د فکرونو او خیالونوله نړۍ راویښ کړم، او د ربښتینې دنیا پر لورې یې زما پام کړ.

د سهار د اودس لپاره مې مور له اوبو تازه لوټه راډکه کړې وه، اودس مې وکړ او د جومات په لورې روان شوم.

کله چې مې د سهار لمونځ په جمعه وکړ، له دعا وروسته نېغ بېرته خپل کور ته راغلم او دخپلې خونې الماری ته لاړم، چې بېلا بېل کتابونه مې پکې پراته وو.

دالله ج سپیڅلی کلام مې راواخیست، چې په لوستلو یې څوک نه مړېږي، یوه سیپاره مې تلاوت کړه او دزړه پرسر مې ونیو

دا دعا مې تکرار کړه، چې خدایه ستا د دې کلام په خاطر نن هغه ورځ ده، چې په دوه جملو کې ورته د خپلې مينې اظهار وکړم، او ته مې پدې ازموینه کې کامیاب کړې.
د الله ج کلام مې ببرته په خپل ټاکل شوي ځای کېښود ، ببرته له خپلې خونې راووتلم، د لمر وړانګې د ځمکې پر مخ خورې شوې وې او د تورتم تیارو ته یې د پای ټکی ایښی و.
زموږ د کور د باغچې لمر ګلي، چې لا هم د لمر نه د ساه اخیستلو لپاره په انتظار و ، خپل سرونه يې د نرې باد په ملتیا کله یو خوا او کله بل خوا تاوول، د ونو شنو پاڼو هم د الله ج پر نوم د ترنم ټالۍ خوړلې، د مرغیو شور هم په رحمن، رحیم او غفور ذات ثنا ویله، په غرونو کې شیشه ایزو کاڼو د لمر د رڼا په مقابل کې سترګکونه وهل او د سترګو ګاټې یې بربښول؛ خو د الله ج پر لویوالي يې شکرونه ایستل، چې د کایناتو ستر ښتن څومره مهربانه دی، چې هرڅوک یې په خپله دنیا کې مصروفه کړي دي.
ما هم د سهار چای وڅښه، د ښوونځي د تګ لپاره مې ځان چمتو کاوه، ځکه د ښوونځي د تګ لپاره مې نیم ساعت پاتې و ، د ښوونځي شین لباس مې پر تن کړ، د سپینو بوټانو مزې مې د ګوتو په هنر کلک وتړل، د نن ورځې کتابونه مې راواخیستل، د کورنۍ له غړو او مور څخه مې خدای پاماني راواخیسته او له کوره را بهر شوم.
کله چې لس قدمه له کوره را لرې شوم؛ نو په ذهن کې مې داسې څه ګرځېدل، لکه څه چې رانه ورک وي، زر زر مې د خپلو کتابونو بیک او جیبونه وکتل؛ خو ورک شوی څیز مې پیدا نکړ.
ببرته په منډه خپل کور ته ننوتم، د خپلې خوب خونې هر څه مې پر بل مخ واړول؛ خو ورک شوی څیز مې پیدا نکړ، ذهن کې مې داخبره ګرځېده تاسره خو داسې څه نه و ، چې ته یې لټون کوې.
کتابونه هرڅه مې بیا له سره وپلټل؛ خو بیا هم هیڅ په لاس رانغلل.
په همدې لټولو ، لټولو اخته وم، چې د سهار ۷ نیمې بجې شوې او ورک شوی څیز مې بیخي له ذهنه تښتیدلی و ، کله چې مې مغز ته راته، پر ۷ نیمو بجو

لس دقیقي اوښتي وې ناهیلی او خفه کېناستم ، پدې وخت کې مې مور کوټې ته را ننوته او راته یې وویل،
ولې بچیه ! څه شوي چې داسې خپه ناست یې؟ ما وویل مورې نن رانه دټول عمر خواري ورکه شوه؛ خو پیدا مې نکړه، کله چې مې پیدا کړه؛ نو وخت یې تللی و.
خو څه ! مور مې خبره نکړه، چې له ما څه ورک شوي وو ، بیا ځې مې ورته وویل، چې ګرانې مورې ! له مانه مې د ملګري یو کتاب ورک شوی دی او نن یې رانه کتاب غوښتلو ، چې باید حتما زما کتاب نن پر ما وسپارې، مور مې راته وویل، دا خو څه دومره غټه خبره نده، بل به ورته واخلې؛ خو دومره سوچ مکوه ما وویل سمه ده مورې.
کله چې مې مور له کوټې ووته؛ نو ما خپل دولس رنګه قلمونه راواخیستل او د کتابچې له مینځ نه مې سپینه پاڼه راپرې کړه، په رنګه قلمونو مې د سپینې پاڼې پر مخ دا دوه جملې ولیکلې:
(له تاسره مې مینه ده) او (ته مې ډېره زیاته خوښېږې ) او ددې دوه جملو لاندې مې E_L توري د مخفف په بڼه ولیکل، چې ددې دوه جملو وروسته د بدن رګونو مې زړه ته ایله دخوشالۍ وینه چالان کړه، لیک مې دکتابچې په منځ کې کېښود او زه هم د ښوونځي پر لور وخوځېدم.
کله چې خپل ټولګي ته لاړم؛ نو دریم ساعت و استاد راته وویل، چې ولې دې ناوخته کړ؛ ما هم ورته وویل، لږ څه کار راته پیدا شو ؛ نو ځکه ناوخته راغلم، زه په صنف کې کېناستم او له ځانه سره مې وویل، نن به حتمي دا خط ورکوم، چې هر قسم کېږي ،ناست په صنف کې وم او ټول فکر مې له خط سره و.
د ټولګي ملګرو هر یو به رانه پوښتنې کولې، چې نن څنګه داسې په سوچ کې ناست یې او د سوچ نړۍ دې دمخ رنګ زیړ اړولی دی؟ خیر دی سوچونه مکوه !
خو دصنف ملګرو ته مې وویل، ډېر مې مه چېړئ، ځکه د شپې مې د درد د لاسه خوب ندی کړی، داسې شدیده تبه مې وه، چې له بدنه مې داور تیلی بلیده.

ملګرو دې هم کور ودان وي، ډېر یې ونه چېړلم اوخپلې طبعې ته یې پرېښودم، ځکه پر ما خو د شپې د مینې تبې حمله کړې وه او دوی ته مې د ځان د درد تبه یاده کړې وه.
عاشوقانو ته به د مینې تبه معلومه وي، ځکه دمینې تبه داسې ده، چې هر څه دې په جوش راولي، په داسې لارو دې ورخیژوي، چې ته به دمینې له درده ځان ساتې؛ خو دغه درد به دې ورو ورو د عاشقۍ مېدان کې د اتل په څېر معرفي کوي.
خو خیر ! ښه و، دوه ساعته مې په ښوونځي کې تېر کړل، بېرته مې دخپل کور لار ونیوله او کتابچه مې له بیک څخه راوخیستله، په لاس کې مې ونیوله، کله چې هغې کوڅې ته راورسېدم، چې ما او دا د ښکلا بشر به سره پکې یوځای کېدو، پښه نیولی شوم.
په دغه وخت کې د انجونو دلېسې د رخصتۍ زنګ ووهل شو، انجونې رارخصت شوې، له وړاندې مې چې وکتل، لینا لکه د زاڼو د کتار میره، د خپلو همزولو په سر کې را روانه ده.
کله چې دوئ له ما تېرې شوې؛ نو زه هم د دوی په کتار پسې شاته روان شوم، دا حوره داسې په ناز نخرو له نورو انجونو سره روانه وه، چې ته وا ددې ټولو انجونو مشري ورپه غاړه ده.
د هر پل په اخیستو به یې دکوڅې خاورې سره نخولې، هر قدم یې زما لپاره یوه دنیا وه؛ خو زه زړه نا زړه دانجونو په ټولي پسې روان وم، همدا هیله مې لرله، چې کله به لینا له نورو انجونو بېلیږي او هغه وخت به رارسیږي، چې زه ورته لیک ورکړم، ترڅو مې زړه دسکون احساس وکړي او بدن مې دخوشالۍ اتل شي؛ خو د تقدیر کارونه ګوره چې له انجونو بېله شوه، دخپل کور د طرف پر کوڅه یې قدم سم کړ، نو سم له واره یې ورور پر کوڅه کې راښکاره شو، ددې مخ ته یې ځان راورسوه، له هغې سره پر خبرو شوه، لینا سیده د خپل کور په وره ننوته او زه یې همداسې له دوو جملو سره ناهیلی پرېښودم.
زه هم کور ته ننوتم، مور مې رامنډه کړه، ویې ویل، بچیه ! له ما سره دې مینه ده؟ او زه دې زیاته خوښیږم؟ ما ورته وویل، هو مورې ! ته مې مینه یې، ته مې

ځان يې ستا برکت دی، چې زه نن دومره خوشاله يم، که ته نه وای مابه چاته ويلی وای، چې ته مې مينه يې او ته مې خوښېږې؟
خوځه خير، ورځې تېرېدې، ما هغه شيبې شمارلې، چې کله به ورته ليک ورکوم او د دغه دوو جملو جواب به ترلاسه کوم.
هغه ورځ هم راورسېده، چې ليک مې د هغوي د دروازې مخې ته وغورځاوه، خو هغې ته مې ورنه کړ، ليک يې پورته کړ او د خپل کور په دروازه ننوته.
ما تر هغې ځارله چې کله يې دروازه رابنده شوه او له سترګو مې پناه شوه.
له ځانه سره مې وويل، چې ځه! که خير وي کار خو وشو او هغه ارمان مې هم پوره شو، چې ليک مې ورته ورکوو.
له ځانه سره به مې په زړه کې ريبل او کرل، کله به مې ويل، هسې نه چې د کورنۍ مشران خبر نه کړي! بيا به مې وويل، هسې نه چې پلار مې خبر نه کړي او کله به مې خپل ځان ته دا ډاډ هم ورکاوه ،چې نه، نه مينه خو همداسې پيلېږي.
همداسې له ځانه سره په خبرو ، خبرو لګيا وم، چې د کلي جومات ته ورسېدم، زموږ د کلي جومات دوه دروازې درلودې، چې يوه يې د جنوب پلو او بله دروازه يې د ختيځ په طرف ماتې دي؛ خو ماته چې کومه لنډه دروازه وه، هغه د ختيځ لور ته دروازه وه، چې لاندې ترې د اوبو ښه برابر لښتی تېر دی، چې لمونځ کوونکي پکې خپل اودسونه کوي، پدغه دروازه جومات ته ننوتم، لستوڼي مې رابډ وهل، په اودس کولو لګيا شوم، ځکه ۱۲ بجې وې او په يوه بجه جمعه کېدله، څنګه چې مې دلاسونو پر وينځلو شروع وکړه هغه خط چې ما لږ ساعت وړاندې د لينا د دروازې مخې ته ګذار کړی و، پخپلو سترګو مې وليد، چې خط يې پخپله اوچت کړ او له دروازې ننوته؛ خو هغه رنګينې دوه جملې، چې ما پر دولسو رنګه قلمونو ليکلې وې، اوس يې دلښتي په اوبو کې د وړو، وړو ځپو سره ملتيا کوله او ټوټه، ټوټه په اوبو کې را رواني وې، يوه، يوه ټوټه به مې رانيوله او ښکلوله به مې او ويل به مې، چې ځه! ستا دنازولې په لاسونو خو به ټوټه، ټوټه شوی وي، همدا به دې ځواب و، چې اوبو ته دې ګذار کړی دی او جواب يې تر ما راورسېد.

د لیک توکړه شوې ټوټې مې ټولې راونیولې، په لاس کې مې کلکې وزبېښلې او هغه د مینې دوه جملې چې ما لینا ته لیکلې وې، دورغوي په زور مې ترې د مینې الفاظ ګډوډ کړل، د کاغذ ژوند ته اوبو د پای ټکی کېښود او زما ژوند د لینا لاس ته راوړلو پسې نور هم په ټوپونو شو. ځکه چې هغې زما خط په خپلو لاسونو ټوټه کړی و او اوبو ته یې ګذار کړی و.
اودس مې پای ته ورسوه او په لامانځه ودرېدم، لمونځ مې په جمعه وکړ، له جمعې کولو وروسته ملاامام د دعا لپاره لاسونه د غفور ذات دربار ته پورته ونیول او په دعا کولو یې پیل وکړ، دعا مو په جمعه سره وکړه؛ خو ما ټول لمونځ د هغې په یادونو پای ته ورساوه، ځکه چې د هغې یادونه راباندې ببخې زورور شوي و، داسې حد ته یې رسولی وم، چې په لار به روان وم؛ نو دهغې په یاد به مې له ځان سره خبرې کولې او دا دوه جملې به مې زیاتې تکرارولې (له تاسره مې مینه ده) او(ته مې ډېره زیاته خوښېږې).
له جوماته راووتم او په خولې مې همدا دوه جملې تکرارېدې، یواځې روان وم، له ځانه ځکه خبر نه وم چې ما دا دوه جملې په بار، بار تکرارولې، شاته راپسې زموږ دکلي یو دوکاندارغلی، غلی را راوان دی او زما خبرو ته یې غوږ نیولی، کله چې په خپله کوڅه ورننوتم؛ نو دوکاندار را غږ کړ، له تاسره مې مینه ده او ته مې ډېره زیاته خوښېږې.
دوکاندار راته وویل: هلکه! له چا سره دې مینه ده چې دا څو ورځې بیخې زموږ له سترګو پناه یې؟
ما ورته وویل، خان اغا وروره! بس کله ناکله چې ډېر څه له ځانه سره تکراروم؛ نو بیا مې همداسې په خولې جارې وي او دا کومې جملې چې مې له ځانه سره ویلې، دا مې دکیسو په یو کتاب کې لوستې دي، نو ځکه مې له ځان سره تکرارولې، له دوکانداره مې په دې بهانه ځان خلاص کړ او د خپل کور په طرف روان شوم، کله چې مې دلینا حورې په دروازه سترګې لګیدلې؛ نو پښه نیولی شوم او دا دوه جملې مې د هغې د کور په لورې ورچوف کړې.
لاړم، سیده خپل کور ته ننوتم، د غرمې ډوډۍ مې په نه زړه وخوړه، د ډوډۍ له خوړلو وروسته خپلې خونې ته ننوتم، د خپلې کوټې ورمې په ځان پسې د ماشومانو د شور ماشور له امله بند کړ څملاستم، له ځانه سره د هغې د یاد په

خبرو لګیا شوم او په خبرو خبرو کې د خوب ښاپیرۍ د مینې له نړۍ د خوب نړۍ ته وړی وم، کله چې راویښ شوم؛ نو د ماذیګر څلورنیمې بجې وې، زر راپاڅېدم او د مازیګر لمونځ مې وکړ، خپله راډیو مې څنګ ته واچوله، د سیند غاړې ته د ساعت تېرۍ لپاره لاړم، ځکه زما له راډیو سره ډېر زیات شوق و، هر چېرته چې ځم، نو خپله راډیو له ځانه سره وړم.

کله چې د سیند غاړې ته ورسېدم؛ نو راډیو مې چالانه کړه او ستنه مې د یوې نړیوالې راډیو پر څپه برابره کړه، چې له راډیو نه دا سندره د جاوید امرخیل په غږ غږېدله:

پوی به شي لا پوی نده نادانه ده

هسې لیونۍ ده پر ما ګرانه ده

سندره مې په لومړي ځل اورېدله، بلا خوند مې ترې اخیسته، د سیند د غاړې یخ شمال داوبو مستي او زما د مینې مسته مستي یې لا نوره هم پر نڅېدو راوستله، بس سندره ختمه شوه او زما د مینې جذبه یې لاپسې توده پرېښوده.

های های ! لیونی نور تور وي که سپین، نور مې؛ نو همدا سندره له ځانه سره زمزمه کوله، دکنړي سیند مستو څپو به ورته د موسیقۍ تال برابر وو او د سیند شور به ورته د کمپوز جامې وراغوستلې.

د مازیګر زیړي لمر د هر عاشق زړه د مینې په ټپو، نڅاوه، زه هم هغه مئین وم، چې په ټپو او سندرو مې د هغې د ښکلا صفتونه کول، د هغې طلایې ویښتان، سرې نرۍ شونډې، غټې ښکارګرې سترګې، د شیدو په شان سپین غاښوونه، ګرد مخ او د تللو انداز یې زما د زړه په تخت پاچاهي کوله، مازیګرې و، سپین ږیري، ځوانان او ماشومان به هره ورځ د سیند غاړې ته راتلل او هریو به د خپل ذوق په لوبو مشغول و.

چا به د خوسي لوبه کوله، چابه کرکټ او چابه د ډبلۍ لوبې کولې؛ خو هغه عاشوقان چې د مینې دونیا یې اباده وه خوشاله برېښیدل او هغه چې زما په شان به په نیمه لار کې پاتې و؛ نو زړه به یې د مایوسۍ او خپګان ټوپونه وهل او د خپلې مینې لاس ته راوړلو لپاره به یې له ځان سره د لاس په ګوتو اشارې کولې.

کوم میئن چې خپلې مینې ته د رسیدو له پاره د حل لار پیدا کوله؛ نو له ځان سره به یې خندا وکړه او دا غږ به یې کوو

کار وشو !

دا نو دعاشوقانو خپل شیپر و ، بوډاګان په دې شیپر نه پوهیدل؛ خو ځوانان به پرې پوهیدل، چې یو ځل به غږ وشو ؛ نو بیا به ماشومانو او ځوانانو د لوبې پر مهال دا غږ کوو.

کار وشو !

خو د مازیګر زیړې وړانګې د سیند شور د میئن د زړه ارمانونه، ګودر ته د پیغلو راتګ، دا هغه څه وو چې زموږ سیمې ته یې ښکلا وربخښلې وه. ګودرونه مو په پیغلو ګرم وو او د سیند غاړې د ځوانانو رسیدلې وې، په ښکاره به کوم ځوان انجلۍ ته د مینې اظهار نشو کولای، ځکه چې زموږ په سیمه کې د پښتنو رواج ځوانان او پیغلې تړلې وو، پیغلې په خپل سر انتخاب نشو کولای او ځوانان هم همداسې د موراوپلار او کورنۍ تر اغېز لاندې وو.

هر څه به د مور، پلاراو کورنۍ په خوښه ترسره کېدل.

ګرد چاپیر ، په شنو نښترو پوښل شوي غرونه او دغرونو لمنو کې بېلابېل ټبرونه ژوند کوي.

د کونړ سیند چې په تاریخي باب کې د راسا په نوم ځلانده څپې وهي، د ورځې پاچاهي یې په ټولیدو وه، شپې خپله د تورتم سترګه رپوله، بوډاګان، ځوانان، ماشومان او میئنان د خپلو کورنو په طرف روان شول، ما هم خپله راډیو ځنګ ته واچوله او ورو ورو د مینې په نړۍ کې د خپل کور په طرف راروان شوم، کله چې خپلې کوڅې ته راورسیدم؛ نو بیا مې د هغوي د روازې ته وکتل او له ځانه سره مې وویل،

ای ! پر خپل ښایست مغرورې انجلۍ ! اخر به دې دا غرور هم مات شي او دا دکبره ډکه پادشاهي به دې په سیند لاهو شي، بیا چې هر څومره کوشش وکړې؛ خو وخت به له وخته تېر وي، ستا د حسن نړۍ به بیا د تل لپاره مړاوې شي او پرما کبر به دې د غرور جام د تل لپاره نسکور شي.

زه لاړم د خپل کور په دروازه مې قدم کېښوده او د کورنۍ پر غړیو مې سلام واچوو، د سلام جواب مې راکړل شو او مور مې راته په مینه وویل:
زما ګرانه نازنینه الیاس جانه بچیه ! چېرته تللی وې؟ ما ویل مورې ! د سیند غاړې ته تللی وم، نن مې دا زړه تنګ شوی و ؛ نو ومې غوښتل چې چکر ووهم او دا زړه مې لږ خوشحاله کړم.
مور مې راته وویل: بچیه ! خیر دی سوچونه مکوه، ته خو لا ماشوم یې، هسې نه چې دا د زړه کړاو دې سپین ږیری کړي، ما ورته وویل، مورې ! ته بې غمه شه ! بیا به درته پته لګیږي، چې رښتیا سپین ږیری کېږم اوکه لا نور هم ځوانېږم.
مور مې وخندل او راته یې وویل، بچیه ! لاړ شه او لمونځ دې وکړه اویوه سیپاره تلاوت وکړه او بیا ویده شه، چې شپه درباندې په خوشالۍ سره تېره شي.
ما هم د مور خبره ومنله، لمونځ مې وکړ او نهه ویشتمه سیپاره چې د سیپارې پیل له سورت ملک نه کېږي، تلاوت کړه، له تلاوت کولو وروسته بیا د خوب بستر ته لاړم او د خوب په بستر کې، بیا د مینې سوچونو واخیستم، او همداسې د مینې د سوچونو په نړۍ کې ویده شوی وم.
سهار د ملا اذان په ویلو له خوبه راپورته شوم، اودس مې وکړ، د جومات په لور رهي شوم، بیا چې د هغوي دروازې ته ورسېدم بیا مې له ځانه سره وویل،
اې ګرانې لینا ! ته به یا ویده یې یا به ویښه او ښه په مزه زړه دې خوبونه وکړل؛ خو زما له سترګو دې خوبونه داسې الوځولي دي، لکه کارتوس چې د ماشیندارې له خولې ووځي.
لاړم جومات ته لمونځ مې وکړ، بېرته له جوماته کورته راغلم، تلاوت مې وکړ، بیا مې د ښوونځي کالي پرتن کړل، د هغې وخت په انتظار شوم، چې کله به دا له کوره راوځي او ښوونځی ته به ځي، اخیر د ښوونځی په لباس کې د کور له دروازې یې قدم بهر کړ، سپین پړونی یې د لمر رڼا منعکسه کوله، تورو جامو یې لمر د ځان پلو راکش کاوه، چې پړوني یې له دې حورې لینا نه لمر شړه او جامو یې د لمر ملګرتیا کوله، په همدې کشمکش کې د دواړو

ترمنځ اخ وډب روان و، چې دا ترې نا خبره وه او مایې ننداره په خپلو سترګو کوله.
دا د ښوونځي په لور رهي شوه، زه هم ورپسې شوم .له قدم اخیستو سره یې زما په زړه چړې را ښکلې؛ خو د پښو سینډلو اواز یې دکوڅې له میده کاڼو کړپا پورته کوله، د هر تېرېدونکي کس نظر به یې ځان ته راړوه، د ښوونځي له کتابونوډک تور بیک به یې په غاړه کړی و، چې د قدم له اخیستو سره به یې تور بیک ټالۍ خوړلې او د بیک سپین زنځیر به شرنګ، شرنګ کاوه، چې ددې دقدم سره به یې زما د مینې لپاره د ناز سندره جوړوله او مابه له دغې خوندورې صحنې خوند اخیسته.
بالاخره د ښوونځي له نورو انجونو سره یو ځای شوه، دښوونځي په دروازه ننوته او زه بیا له زیاتو خبرو سره د خپلې لېسې په په لور رهي شوم، له ځانه سره مې وویل،
کبرجنې خیر دی ! کله کله خو راګوره ! ترڅو به په خپل حسن نازېږې، اخیر به دې دا دخوشالۍ دنیا ورانه شي او د همدې ملګرو له قطاره به بېله شې، نه به دې ناز وي او نه به دې نخرې، نه به دې کبر وي او نه به دې مستي.
خو خیر ! هغه ورځ به هم راشي، چې بیا به ته چغې وهې او له دواړو پښو به کلکه نښتې یې.
او مابه غواړې او بیا به هم زه تا ؛ خو تاته به پښتو او د خپلې کورنۍ عزت اجازه نه درکوي، چې ما د ځان ملګری کړې او ماته به د خپلې کورنۍ شرم ښکاري چې د بل په نوم شوې دې د ځان په نامه کړم او له دې وطنه دې د نورو وطنونو میلمنه کړم؛ خو خیر ! اوس مې دا خبرې له ځان سره کولې، ځکه تاته مې کولای نشوې او چې تاته مې مخامخ کولای؛ نو عکس العمل به دې څه و، په یولیک کې مې درته دوه جملې ولیکلې؛ خو تا زما دوه جملې داسې قطرې، قطرې کړې وې، چې نور دې هم زما د زړه په پاچاهۍ ولکه ټینګه کړېده او تر هغې به دې پرېنږدم، ترڅو چې مې د ځان لپاره ملګرې کړې نه یې، ځکه تا زما لیک په خپلو لاسونو ټوټه، ټوټه کړی و؛ نو ځکه دې زما زړه هم د ځان طرف ته لا مایل کړی و، زه مې په خپل زړه پوهېدم چې تا غواړې او ته دې په خپل زړه نه پوهېدلې، چې ستا زړه څوک غواړې، په همدې خبرو، خبرو

کې وم، چې د لېسې په د روازه مې قدم کېښود او خپل صنف ته لاړم ،ګورم چې دوهم ساعت په پای ته رسيدو دی استاد راته وويل، ولې ناوخته راغلی؟ بيا مې استاد ته بهانه وکړه، استاده ! کورس مې شروع کړی دی؛ نو ځکه ناوخته راغلم، اينده کې به نور ناوخته نه راځم، دانو هغه بهانه شوه چې هره ورځ به مې استادانو ته کوله.

ورځې تېرېدلې،اخير مې ښوونځې ته د پای ټکی کېښود ، زه په ذات دالله قسم خورم چې په دې څو کلنو کې ددې حورې لينا زړه نه ليکونو ځای ته راوست، نه تعويذونو او نه دمونو؛ خو په دومره تېره شوې موده کې مې له مانه زما دمور په شمول ځينې خپلوان خبر شول، دوه نژدې د راز ملګري مې په يولسم صنف کې خپله خبر کړي وو او هغوي ته مې قسم ورکړی و ،چې مړ هم وم زما له مينې څوک خبر نه کړئ؛ خو په وخت کې به ددې جينۍ له خولې خپله ووځي، يوې د راز ملګرې ته چې د پلاني ځوی پر ما مېئن و او ماته يې ډېر خطونه راستول، چې ماته يې خطونو او ددې کړېدو هيڅ اهميت نه درلود.

خو ددې انجلۍ له خولې به ټول کلی خبر شي، دا هغه خبرې وې، چې ما مې خپلو دې دوو ملګرو اتل او شبير ته کړې وې.

های های !

وختونه دي تېرېږي او زما زړه هم درزيږي؛ خو مور او د کورنۍ غړو ته مې وويل، چې مورې په هر قيمت چې کېږي، بايد دا انجلۍ د خپل کور اېنګور جوړه کړې او زما د درديدلي زړه درد نور د تل لپاره ختم کړې، دا هغه خبره وه، چې مامې د مور په شمول د خپلې کورنۍ ځينو غړو ته وکړه.

خو مور مې راته څه وايې؟:

الياسه بچيه ! ته دې لومړی خپلې زده کړې پای ته ورسوه، بيا چې ته څوک غواړې همغه به درته وکړم، لومړی بايد پوهنتون ووايې، کله چې دې پوهنتون خلاص کړ؛ نو بيا به درته ستا د خوښې جينۍ وغواړم.

ما هم وويل، مورې سمه ده، زه ستا خبره منم؛ خو په يو شرط او هغه دا چې که داجينۍ دبل چا شوه؛ نو بيا به زه دتل لپاره د هيچا نشم، ځکه څلور کاله ما ددې په ياد زړه خوړلی او څلور کاله به ددې په ياد نور هم زړه خورم اوبيا چې دا د بل چا کېږي؛ نو بيا به له ما خاطر جمعه شئ، مورمې هم خبره تائيد

کړه او راته یې وویل، څنګه چې ستا خوښه وي همغسې به کېږي، یوه خبره یې راته لا دا هم وکړه، چې دا خو د ډېرو خویندو خور ده او ترڅو ، چې دې ته لمبر رسیږي؛ نو هغه به بل وخت وي، ماهم وویل، مورې ! نوره ستا خوښه ، ما خپله غاړه درباندې خلاصه کړه ،هغې راته وویل، چې پلار سره به دې پدې اړه مشوره وکړم، چې څه وایي؟
خو څه ! مور مې د پلار سره مشوره کړې وه، په سبایې راته وویل، چې بچیه ! پلار دې وایي، چې دا باید درس پای ته ورسوي او بیا به ورته د ښځې غم کوو؛ خو خوښه او نا خوښه لا پکې چا راوستې ده، ښځه ده او ورته وبه رسیږي.
یاره نو !
د پلار په خوښه او ناخوښه خبره راباندې سر وچورلیده، سترګو مې تور وخوړ او همدغه جمله مې په مغزو کې تاوېده راتاوېده چې خوښه او نا خوښه لا پکې چا راوستې، ښځه ده او ورته وبه رسیږي.
د الله ج دربار ته مې لاسونه اوچت کړل، ومې ویل یا الله ! ته مهربانه ذات یې، ته خو دا حوره لینا زما له ژونده مه جدا کوې، چې په ژوند ژوندی یمه ته مې په دې مقصد کې کامیاب کړې، ته مې دا ارمان ونه رژوې او ته مې ددې د ژوند ملګری جوړ کړې، مور مې امین وایه او ما دعا کوله.
خو څه خیر ! وختونه دي، روان دي او د لینا یادونه مې داسې خوري لکه شکونړ چې د جوارو د پټي پر وږو ورپیښ شي، چې نیم وږی وخوري او نیم پرېږدي.
همداسې هم زما زړه ځینو خبرو پرېښودو او ځینو خبرو خوړو ، هوا هم مخ په ګرمېدو وه.
زما د زړه نه دمیني تاوونه هم د اور دلمبو په څېر پورته کېدل، د کنړ ښکلي غرونه له نښترو، څېړیو، غوړاځکو او رنګا رنګ ګلونو نه ډک معلومېدل، شادوګانو، سورلنډو او لېوانو به هره شپه چغې وهلې.
زموږ کور ته مخامخ د سپیره غر ! په لمنو کې له هر کوره د لاټین زیړې رڼاګانې د مازیګر د لمر رڼا ترسترګو کوله، چې دغه ټوله رڼا به له یوې دنیا مینې نه ډکه وه، زموږ په حجره کې رنګا رنګ دګلانو بوټي او د رات کیراڼي

یعنې د شپې شهزادګۍ، چې ښکلی مزه ناک بوي لري،ان دکلي په ټولو کورنو ورته او د هر کور نه يې د خپلې مينې پور غوښته.
هر کليوال به يې په صفتونو زموږ حجرې ته راتلل، تر ډېره به زموږ په حجره کې د دغه عطرين بوټي بوی ته پاتې کېدل او له شپې به يې خوند اخيسته.
زموږ دکلي کورونه له ختو جوړې کلاګانې دي، چې د سيمې ټول خلک مو په اسلام ميئن او د خپل دين د فرايضو پوره پابند دي.
دکلي ځوانان مو په خپل وخت د جومات جمعې ته ځانونه رسوي او د کلي مشران خلک مو د جرګو او مرکو په مينه مست خلک دي ؛ خو لنډه دا چې د هرې طبقې د کسانو خپل کار معلوم دی.
هرڅوک خپل کار ښه په مينه ترسره کوي، په غم او ښادۍ کې له يوبل سره پوره پوره مرسته کوي.
غلت رواجونه مو د کليوالو نه خوښيږي، دخپلو لورګانو په سر څوک ولور يعنې پيسې نه اخلي، له ولوره ټول کلی کرکه لري، ان په ټوله کې به ووايم، چې زموږ د ولايت خلک د خپلو لورګانو په سر پيسې نه اخلي. که چېرته کوم ځوان له اقتصادي پلوه کمزوری وي؛ نو له هغې سره د خسر کورنۍ پوره مرسته کوي او هغه د واده سامان هم د خسر کورنۍ خپلې لور ته اخلي.

کتاب او راډیو په لاس به هر سهار د سیند غاړې ته تلم او هلته به مې د کانکور لارښود مطالعه کاوه.

مازیگر به بیا د خپلې سیمې خوړ ته چې له غرونو نه به په کې سپینې د چینې رڼې اوبه، چې سندریز شور به یې جوړ کړی و، د خوړ له غټو او وړو تیږو سره به یې غبرګې وهلې، خالداره شګو به د اوبو ښکلایز شور په مستیو راوستو، چې موټروانانو به پکې خپلې موټرې وینځلې، روانې وې او د کنړې سیند له اوبو سره به د خوړ دغه رڼې اوبه یوځای کېدې. مازیګر به له خپلو ملګرو مخکې د خوړ غاړې ته د کتاب سره تلم کله چې به هغوی راتلل؛ نو مابه خپله مطالعه کړې وه او بیابه مو د کرکټ په کولو پیل وکړ، موږ په خپل منځ کې دوه لوبډلې وو، چې د یوې لوبډلې مشرې به زما تر غاړې وه او د بلې مشري به د شبیر ترغاړې وه.

موږ به هره ورځ په خپلو کې سره سیالي کوله او له دریو به دوه لوبې ګټل وو، کله به ما دوه لوبې ګټلې او کله به هغه.

کله چې به د نورو کلیو له هلکانو سره زموږ میچ و؛ نو بیا به دواړه لوبډلې یوځای کېدو، چې ددې لپاره مو ځانګړی کپتان مبارز و.

مبارز رښتیا مبارز و، چې په کپتانۍ کې پوره کامیاب و، دلوبې د بیټنګ په اوپنرانو کې زما خاص ځای و، چې لومړی به زه سترایک یعنې د توپ مخې ته درېدم، په لومړي بال به زه تاوېدم، چې کوم طرف ته به مې زړه وغوښتل، همغه طرف ته به مې بال وهه او دوهم اوپنر به راسره زړګی و، چې د سټاپ په کولو کې یې پوره مهارت لرلو، هغه دچا خبره زه الیاس خان ال راونډر وم.

کوم بالر ته به مې وویل، چې په دې اور کې درباندې درې یا دوه شپږیزې وهم؛ نو بیا به مې پرې شپږیزې وهلې او چې وبه مې نه وهلې نو، نو نه به وې.

له بل اړخه دکانکور ازموینه په رارسېدو وه او د مینې نړۍ مې نوره هم راباندې زوروره شوې وه، له زده کړو یې بېخي ویستلی وم، ګنګس به ناست وم.

دکانکور لارښود کتاب به مې لوستو؛ خو سوچ به مې ټول د لینا سره و، چې دا به کله ماته خپل زړه راکوي او ماته به وایي، چې له ما بې غمه شه او زه ستا

په نیمه لار کې پاتې... www.samsoor.com صحت سمسور

يمه؛ خو ما دا خبرې له ځانه سره کولې او هغه بیخې په زړه دومره سخته وه، که چېرته راسره په یو ښېدیا کې ځانله ملګرې شوې وه او زما ځنکدن وای؛ نو د مسلمانۍ او انسانیت له خاطره یې ولا که او به هم راکړې وای.
ځکه ما څلور کاله ددې مینې مزل وکړ؛ خو ددې په زړه کې هیڅ رحم نه راته او هره خبره به یې راله غلې پرېښوده، زیات لیکونه مې ورته لیکلي و چې یو عارضه لیکونکي به په خپل ژوند کې نه وي لیکلي؛ خو بیا هم زما زړه ماته دا ګواهي راکوله، چې هرڅه به خدای وکړي او الله مهربانه دی، هغه ورځ به هم راشي، چې بیا به ستا دیادونو کیسې له ځانه سره کوي او په خپلو خبرو به پښېماني څرګندوي؛ خو زما زړه ترې نه صبرېده او د هغې زړه له کاڼي کلک و.
یعنې داسې زړه ما په خپل عمر نه و لیدلی، ځکه چې دې په زړه سختۍ داسې کاڼر زړه لره، چې د رحم تمه ترې نه کېده او نه یې په زړه کې د رحم څرک لګیده؛ خو دا دومره ډېر لیکونه، چې ما ورته د مینې په باره کې لیکلي و په کور کې څه، چې چا ورسره لیدلي هم نه و او بیا به هم زه مجبور وم، چې د خپل لیک لار به مې څارله په کومه ورځ به، چې دې لیک د خپلې دروازې له مخې اوچت کړ؛ نو مابه یې دکلي په جومات کې انتظار کوه او د جومات د هغه لښتي په غاړه به ناست وم، چې دکنړي سیند مستو اوبو به په وړه کې لښتي کې هم د زور وړې، وړې چیپې وهلې او ددې په خاطر به ناست وم، چې زما د مینې لومړنی لیک ددې په ګوتو ټوټه، ټوټه شوی و او دهمدغه وړه کي لښتي انصاف ګرو اوبو زما تر ګوتو رارسولی و.
دغه دابو لښتی د دوی د کور څنګ ته راتېر شوی و، چې ګرد چاپېره ترې دیوال و.
زما لومړنی د مینې لیک به ورته بې ارزښته ښکاره شوی و، چې د خپل غرور له امله یې قطره قطره کړی و او د ویالې د اوبو په ملتیا یې د خپلو غټو ښکارګرو سترګو پناه کړی و.
سترګې چرته وې چې وبه مې لیدې؛ نو بیا به مې بیخي ترې خوب نشو کولای نوره څېره خو پربده.

هغه ورځ هم راورسیده، چې زما لیکونه به یې، نه ټوټه کول او نه به یې بېرته ماته احوال راته.
د کانکور امتحان ته هم درې ورځې پاتې وې، د شنبې په ورځ مې د ملګرو سره یوځای د کانکور د ایډي کارت کارتونه واخیستل او په سې شنبه مو د کانکور ازموینه وه.
له یوې خوا زیات خپه دې ته وم، چې ما خو د کانکور د اماده ګۍ د کتاب د لوستلو په وخت کې ایله بېله لینا ته د مینې خطونه لیکل او په مازیګر کې به مې کرکټ کاوه.
هئ !؟ هئ !؟ نه مې مینه لاس ته راوړله او نه به په کانکور کې د خپلې خوښې پوهنځي ته کامیاب شم!
ځکه زه په ځان پوهېدم، شپه او ورځ به مې سوچ د مینې دنیا خوړه او د مینې په دنیا خو هغه عاشقان پوهیږي، چې څوک د مینې په دام کې ننښتی وي او تر هغې ټوپونه پکې وهي، چې کامیاب شوی نه وي او ما پکې تر اوسه ټوپونه وهل.
خو هغه ورځ هم په را رسېدو وه، په کوم ورځ چې زموږ د کانکور ازموینه وه.
د شپې لخوا مې د کانکور امتحان ټول اړین توکي برابر کړل، بیا مې سورت رحمن، سورت یاسین او سورت ملک تلاوت کړل،کومې دعاګانې چې مې یادې وې، ټولې مې پرځان چوف کړلې او د خوب بستر ته مې ځان ګذار کړ، ځکه چې سهار ته په وخت بیا د کانکور امتحان ته تلم، کله چې د خوب په بستر کې څملاستم؛ نو د څملاستو سره سم بیا دلینا یادونو له ټولو خواو راګېر کړم، بیخي یې خوب ته نه پرېښودم. یوې خواته دهغې یادونه، بلې خواته شپه او خاموشي، سهار ته د کانکور امتحان ته په وخت ځان رسول دا هغه څه و، چې نن شپه یې له ځان سره په جنګ کړی وم، یو خواته مې ترې خلاصی نه و.
بېرته د خوب له بستره راپاڅېدم، راډیو مې چالان کړه، ما ویل که د راډیو په چلانولو خوب راشي، ورته ویده شم، بیغمه سهار راپاڅیږم او په خیر د کانکور امتحان ته لاړ شم، خو خوب چرته و !!

بس راډیو لا د میني په نړۍ کې منډو ته جوړ کړم او دمنډې په راکولو یې د ځان طرف ته مایل کړم ساعت ته مې وکتل، د شپې یولس نیمې بجې وې، چې له یوې نړیوالې راډیو د شاعرانه بنډار خپرونه د پای شیبو ته نږدې شوې وه او د یو شاعر له خولې مې ددې غزل بیتونه اوریدل چې نطاق ورته

واه واه واه کول !

دريسې مــې له زړګـي نه څاڅي وينې
راشــه، راشه وه شـيرنې، وه شـــيرنې
کــه زه نه مرمه نو هــسې به زه نه مرم
ګينې زه خـو يم وژلى دا ســـتا مينې
مانه هېڅــکله د مينې جانان خدايګو
نه بېلېږي که په ژوند وي که په مړينې
بې له تامې دا زړګى هسـې خوږيږي
چــې ته نه يې تــا پسې يې نازنينې
د دار پړي دې له غــاړې را تــاويږي
زلــفې جــوړې که زما لپاره ورينې
جـبار خيله د غـــزل د حسن ناوى
له بــاګرامه راجګېږي که يې وينې

اخ !اخ !

د شاعر له خولې د غزل ویل، زما له سترګو خوبونه داسې وتښتول، لکه باز چې په مرغۍ حمله وکړي، د خپلو پنجو ښکار یې کړي او نورې مرغۍ له ویرې داسې په خپلو ځایونو کې غلې شي، چې د چڼ، چڼ اواز یې چاپیریال خاموشه کړي او فضا ټوله دویر له ساندو ډکه شي.

زه هم خاموشه شوم او داسې ژور فکر واخیستم، چې بیخي له ځایه ونه خوځېدم، له ځانه سره مې دا وویل، نه چې دا حوره زما د زړه سر، زما ژوند، زما مینه، زما د خطونو قاتله او زما د زړه دتل لپاره ځای نیونکي د بل چا نشي؟

ددغه خبرو د لاسه بیخي په یوه ډډه دکوټې په غولي کې پروت وم، چې بیخي په بل اړخ اوښتم نه، کله چې مې د ذهن پردو درد شروع کړ او د بدن رګونه مې

راوپړسیدل او په بل اړخ واوښتم؛ نو د کلي د جومات لاوډ سپیکر په ټنګېدو شو، له ځانه سره مې وویل، چې الیاسه بچیم! شپه خو دې سرګردانه تېره کړه، ورځ دې هم ټوله د کانکور د سوالونو سره ډغرې وهل دي، هسې هم پاتې راځې، راځه! یو لس ملټه خو سترګې پټې کړه، چې دې ذهن په ارام شي بیا به لمونځ وکړې.

کله چې مې سترګې پټې کړې، نو مور مې د کوټې د روازه وډبوله او له خولې يې د مهربانۍ دا الفاظ جاري دي:

زما ګله بچیه! پا څیېږه ملا اذان کړی دی او جمعې ته ځان ورسوه، شابه! چې سهار ته به دې د کانکور امتحان ته ځې، اوبه مې درته د دروازې مخې ته ایښې دي، هله نو راپاڅیږه! اودس دې وکړه! ترڅو چې زه لمونځ کوم او بېرته راځم؛ نو ته باید راپاڅیدلی یې، ما ورته وویل، مورې! ښه پاڅیږم.

کله چې په دې پوی شوم، چې مور مې لاړه؛ نو دوه ملټه وروسته مې پلار د کوټې ور راته وډبوه راته يې غږکړ الیاسه بچیه!

پاڅیږه! لمونځ دې وکړه، نن دې د کانکور امتیحان دی، ترهغې راته ولاړه و، چې کله زه له خپل ځایه راوچت شوم، سر راباندې ګرځیدو، د بې خوبۍ د جټکو له امله مې سر د دېوال سره ولګېده! ور مې بېرته کړ داوبو لوټکه مې راوخیستله، اودس مې وکړ، پلار مې جومات ته لاړ او زه بېرته خپلې کوټې ته راغلم، په خپله کوټه کې مې لمونځ وکړ او بېرته د خوب ټالیو د خوب غېږې ته د ننه کړم، د سهار شپږ بجې مې مور بیا راغله او راته یې وویل: بچیه پاڅیږه چای مې درته تیار کړیدی او ملګری دی هم راغلی و ویل یې، الیاس ته وو ایه ځان تیاروه، چې کانکور امتحان ته په وخت لاړ شو.

سترګې مې ومښلې، د خوب د لاسه راباندې سر تاوېده، په وجود مې سړې تبې منګولې ښخولې، د تللو واک مې نه درلود، چې قدم مې اخیستی وای او له کوټې مې قدم بهر کړی وای؛ خو په ډېر مشکله مې چې څنګه ځان د تګ لپاره چمتو کړ؛ نو له پښو مې سپینې وتښتیدې، درز شو راولیدم، په ځان بیا نه یم پوی شوی.

کله چې مې سترګې وغړولې ځان مې لوند خیشت و او دومره اوبه یې راباندې اچولې وې، چې د یخنۍ له لاسه مې ژامې کړپیږې، دکلي ډاکتر یوه یوه ستنه ماتوي او ماته په چالان سیروم کې یې تشوي.
مور او پلار د کورنۍ ځینې غړي او یوه وړه کۍ خور، چې زه پرې له حده زیات ګران وم، زما دکټ شاه او خوا راټول دي او له ژړا یې سترګې سرې اوښتې دي.
مور مې هم په ژړا خپل زړه تش کړی و او زما په مرض پوهه شوې وه، چې نازولی زوی خو یې سوچونو خراب کړیدی.
هر یو رانه پوښتل چې اوس څنګه یې؟
په کمزورې اشاره به مې ورته سر وخوځوه، ورته به مې وویل، چې ښه یم.
ډاکتر راته سیروم چلان کړ او نور په خپله مخه لاړ؛ خو زما سړه تبه دومره توده شوې وه، چې وړه کۍ خور مې راته سر کېمنډه او زما له خولې د فریاد سوي ځیګروي ختل.
کله چې مې غږ کړ څو بجې دي؟
نو راته یې وویل ۷ بجې، ما ورته وویل چې په اته بجې؛ خو زموږ د کانکور امتحان شروع کېږي، زه باید ۸ بجې د کانکور امتیحان ته ځان ورسوم، دکورنۍ غړو مې نه منله، مور ته مې وویل؛ زما جامې تیارې کړئ چې ځم ناوخته کېږي راباندې؛ خو هغې راباندې ټینګار کاوه، چې بچیه ! د کانکور امتحان له تانه مهم ندی، ته ناروغ یې چې روغ وای تللی به وای، ما ورته وویل مورې ! بیا بل کال پورې صبر نشم کولای، که مړ کېږم هم؛ نو باید ځان امتحان ته ورسوم د سیروم ستنه مې له لاسه وویسته ګورم چې یو یو ګاونډي مې تپوس ته رآځي، په ګاونډیانو کې خو مې هغه څوک هم راتله، چې دا هرڅه راباندې د هغې د لاسه وشول.
که چېرته مې زړه پر هغې نه وای میئن شوی؛ نو اوس به رک روغ وم او د هغې په باره کې د سوچونو دلاسه به نه سودایي کېدم او دې حال ته به نه راتلم.
خوب مې لیده او که دا هرڅه رښتیا و ؛ خو ګورم چې دکور په دروازه مو هغه حوره لینا را ننوته، چې طلایي زلفې یې باد کله یو خوا او کله بل خوا

تاوولې، د قدم له اخیستو سره یې زما له وجوده تبه داسې الوځوله، لکه په ژمي کې چې دونو پاڼې د ونو له ښاخونو سره خدای پاماني کوي.
نرۍ سرې شونډې یې ځاني داسې سرې وې، لکه تازه یې چې پرې سره سورخي سولولې وي.
سپینو غاښونو یې له ورایه ځلا کوله، تور رنګه سینډلو یې زه د تبې له نرۍ نه بلې نرۍ ته یوړم، شین رنګو جامو یې زما په شمول ټول د ځان طرف ته متوجې کړل، په رارسېدلو سره یې ماته په غلچکي نظر راوکتل او زما د حال پوښتنه یې وکړه، یوازې همدومره یې وویل:
اوس څنګه یې؟
او بس نور یې هیڅ ونه ویل، ما هم ورته وویل، چې شکر اوس ښه یم، لږ ساعت ناسته وه او بیا له ځایه پاڅیده او دخپل کور په طرف روانه شوه؛ خو زما دکورنۍ ټولو غړیو ته یې وویل، چې د الیاس پوښتنې ته راغلې وم، خبره شوم، چې چېه پرې راغلې وه؛ نو اوس خو که خیر وي ما شا الله ښه دی.
مور مې ترې مننه وکړه.
په کمزوري وجود مې ځان د تګ لپاره چمتو کړ او د احتیاط لپاره مې راسره ورور هم ملګری شو، ځانته سپیشل موټر مو ونیو، مور او پلار او د کورنۍ ټولو غړیو په دعا رخصت کړم او ټولو راته ډېرې دعاګانې وکړې، ویل یې چې بچیه! الله دې د خپلې خوښې پوهنځي ته کامیاب کړه، لومړی خو به دې الله کامیاب کړي او که دولتي پوهنتون ته بریالی نه شوې بیا خو شخصي پوهنتون چا وړی ندی، چې کوم پوهنځی دې خوښ و هغه به وواېې.
ما هم د کانکور امتحان ته ځان ورسوه، کله چې ورسېدم نو استادانو د کانکور لارښوونه شروع کړې وه، زه یې هم په خپل انتخاب شوي ځای کېنولم
.
کله چې دکانکور امتحان د سوالونو حلول شروع شول، نو پر ما هم دتبې اثر مخ په شروع کېدو شو، نه یم خبر، چې ما پارچه څنګه حل کړه*
او انتخابونه مې څنګه وکړل؟ خو د کانکور امتحان و او تېر شو، مګر تبې دومره په عذاب کړم چې نه یم خبر.

د ځان دمعاینه کولو لپاره د اسعداباد مرکزي روغتون ته لاړم، هلته مې دوینې ټیسټ وکړ له یوې خوا تبې کمزوري کړی وم او له بلې خوا دکانکور د ورو خانو توږولو راباندې سر ګرځولی و.

ډاکتر راته د تبې علت ملاریا یاده کړه او ویل یې، چې ډېره شدیده ده.

د ملاریا ګولۍ او نوره دوا یې راکړه او بېرته مخ په کور را روان شوم، کله چې کور ته راغلم؛ نو د کورنۍ ټولو غړیو مې پوښتنې کولې او ویل یې چې پخیر بېرته راغلې.

ما هم ترې مننه وکړه له سهاره تر ماښامه مې هیڅ هم خوړلي نه و

وریندار مې راته دکیک سره د شیدو چای تیار کړی و؛ خو زړه نا زړه مې یوه پیاله چای وڅښه او لږه شیمه راکې پیدا شوه او ځان مې تر خپلې خونې ورسوه، هغه صحنې مې مخې مخې ته کېدلې، چې له تېرې شپې راهیسې راباندې تېرې شوې وې، په همدغه صحنو کې ویده شوی وم، کله چې راپاڅیدم؛ نو دشپې دولس بجې وې، مور ته مې غږ کړ چې مورجانې! زما دوایي چېرته ده؟

خو د مور په شان مهربانه له نعمتونو ډکه، دجنت له حورو یوه حوره، چې د اولاد په درد دردېږي ټوله ورځ یې زما له امله لا لهنده تېره کړې وه. اوس مې په یو غږ کولو سرته ولاړه وه، د شیدو پیاله یې په لاس کې د ملاریا دګولیو سره نیولې وه او ترڅنګ یې وچه ډوډۍ هم له ځانه سره زما لپاره راوړې وه، راته یې وویل، بچیه! اول لږه ډوډۍ وخوره او بیا د ملاریا ګولۍ، ځکه څه دې ندي خوړلي، هسې نه چې ګولۍ دې په معدې پسې ونه نښلي او خدای مکړه بل څه چل درباندې ونشي، ورته ومې ویل، مورې! الله به خیر کړي.

ما ډوډۍ او دوایي له شیدو سره وخوړه او مور مې د سر په کېمنډلو شروع راته وکړه او ورو، ورو یې دترنم په غږ الله هو ویله، چې اوس مې هم هغه الله هو رایاده شي؛ نو له سترګو مې بې اختیاره اوښکې رواني شي او د مور د هغې صحنې ارمان کوم، چې سر یې راته کېمنډه، درد په ما و؛ خو زړه مې د مور وران و، یعنې په نن شپه یې زما د لاسه خوب نه و کړی، زه ترې ویده شوی وم؛ خو د هغې دمونه او الله هو همداسې تر ملا اذان پورې جاري وو.

کله چې د ملا د اذان په غږ راپاڅیدم؛ نو مورته مې وویل، موري! ته تراوسه نه یې ویده شوې؟

نو مور مې راته وویل بچیه! زه به ولې ویده کېدمه، چې زما د زړه په ټوټه دې درد وي او زه دې بې غمه خوبونه کوم، دانو مور ته مناسبه نده، چې د هغې په بچي دې د شپې درد وي او مور یې خوبونه کوي.

یعنې د مور دا مینه او نورو مینو ته، چې زما فکر شو، نو ورته مې وویل، موري! الله دې زما په ژوند له مانه ما اخله! ستا یوه اه! ته به زه په عمر ونه رسېږم او ګرانې موري! الله دې د جنتونو سرداره کړه یعنې د مور د هغې شپې شوګیر چې هر کله رایاد کړم؛ نو زه وایم چې هره مور به له بچي سره څومره تکلیفونه ګالي لکه له ماسره چې مې مور په دې شپه ګاللي و او نور به یې لا څومره ګاللي وو.

د سهار لمونځ مې وکړ او بېرته خپلې کوټې ته راغلم، د قرانکریم زړه (سورت یاسین) مې تلاوت کړ، لږ مې اندامونه سپک شول، له خپلې کوټې بهر را ووتم.

زموږ د کور په حویلۍ کې داوبو وړوکی لښتی تېر شوی و، چې د کنړ د سیند له څپو یې مستي یاده کړې وه او د اوبو وړو څپو داسې شور جوړ کړی و، چې زما ټول پام یې د ځان پلو ته راواړو، چې په کور کې ولاړ د نارنجو او توتانو پاڼو د اوبو دې شور سره پاڼې ورو، ورو نڅیدلې، د ګلاب ګلونه او د ډمبر ګل ګلونو داسې مزه ناک بوی کاوه، چې د کور د حویلۍ شین چمن دې ته اړ کړم، چې پکې څملم او له دغه مزه ناک او مینه ناک چاپېریال نه خوند واخلم.

کله چې په چمن کې څملاستم؛ نو کتل مې لمر ګلیو ته چې لا یې سرونه ښکته نیولی و او ورو ورو نري باد داسې خوځول لکه د لمر د راختو زیری چې پرې کوي.

زه هم له چمنه راپاڅیدم او له کلا بهر را ووتم د سهار لمر وړانګو ایله ستر ګککونه وهل دونو پاڼو ښکلی هوا چلوله مرغانو له خپلو ځالو د خوراک راوړلو پسې له خپلو ځالو الوتل او د خپلې خېټې غم راخیستې و.

زه هم په چکر روان شوم، تبه مې اوس بیخي نه وه، میده میده قدمونه مې اخیستل، دکلي له کورنو لوګي داسمان په طرف الوتل، له ځینو کورونو

دغوړو ډوډيو بوييونه او د شيروار شربلو غړونه راتلل، دکلي د اوبو وياله هم په مستۍ روانه وه، يوه نيمه مرغۍ به يې غاړو ته راکوځېده، تېره مښکوه به يې په اوبو کې ښکته کوله او اوبه به يې څښلې، ځينې خلکو د سهار چاى لپاره په لاسونو کې شين چاى، تور چاى بوره نيولې وه او د کور په طرف به روان وو، واړه ماشومان چې خولې به يې، په مستو ککړې وې، چابه ژړل او ځوک به له خوبه خوبولي په خپلو وزو او ګډو پسې شاته روان و او د څر لپاره به يې روان کړي وو.
يو ماشوم چې پوره خوب نيولی و، په خيرن مخ يې اوښکو لارې کړې وې او لاېې هم سلګۍ وهلې، کتل مې ورته چې د خپلې وزې پړی يې په لاس کې نيولی دی او څر ته يې روانه کړېده.
د اوبو وياله هم ښه ډکه روانه ده او د اوبو ښکلا ييز شور يې زما فکر د ماشوم دګډې بچو ته کړی و، چې په خپل منځ کې يې سره ډغرې وهلې، په همدې ډغرو ډغرو کې و، چې د يوه وري ډغره ماشوم ته برابره شوه او ماشوم يې د اوبو منځ ته ګذار کړ، د ماشوم له سترګو يې د خوب نړۍ وتښتوله او خيرن مخ ورته د ويالي پريمانه اوبو ووينځه ماشوم مې له اوبو را وويست لوند خيشت و او په ژړا سره يې دخپل کور لاره ونيوله.
زه هم بېرته راوګرځېدم او دخپل کور پر لور روان شوم، کله چې مې د لينا د کور په دروازه بيا نظر پرېوتو، نو پرونيو صحنو هغه ځای ته بوتلم، چې ما خوب ليده او که هغه مې په رښتيا تپوس ته راغلې وه، هغه زموږ په دروازه يې درانتوتلو انداز، د طلايي ويښتانو ځليدل، د شيدو په شان سپين غاښونه او شين کميس، توري مکتبۍ سينډلې هئ !؟ هئ !؟ نو هماغه صحنه مې په ذهن کې تله راتله، ما ويل کاشکې هغه ورځ نن وای ځکه په هغه ورځ؛ خو مې ټول سوچ دکانکور امتحان راخراب کړی و.
دا ورځ او نورې ورځې هم تېرېدې؛ خو ددې لينا په زړه کې هيڅ رحم نه ليدل کېده، هماغه کيسې تکرارېدې، چې اخر ټول کلی په ما خبر شو.
او هغه ورځ هم راورسېده، چې دکانکور امتحان د ازموينې پايلې اعلان شوې، دکلي جومات ته لاړم او دوه رکعته نفل لمونځ مې وکړ او ډېرې دعاګانې مې ځانته وکړې، چې يا الله ! که کامياب شوی يم دابه؛ نو ځومره

زما لپاره د خوشالۍ خبره وي، ځکه زما لومړی د کانکور امتحان و او هغه مې هم ټول د تبې د شدید درد سره ورکړی و او له انتخابه نه وم خبر، چې ما به کوم پوهنځي انتخاب کړي و؛ خو د خوښې پوهنځی مې ادبیات او ژورنالېزم و.
په کلي کې د انټرنېټ پوره ستونزه وه، یعنې انټرنېټ مو په کلي کې نه و؛ خو ښه و په ښار کې مې ملګري لرل، دیو ملګري جانان دې کور ودان وي راته یې وویل، ایډي کارت لمبر دې راکړه، چې نتیجه دې معلومه کړم. دا ایډي کارت لمبر مې ورکړ او راته یې وویل، وروسته زه احوال درکوم، ما هم وویل سمه ده، زه به په طمع یم.
پنځه ملټه بعد مې ټیلیفون وشرنګېده جانان و، راته یې وویل څه شیرنې دې له زړه نه ویستلې ده الیاس جانه او کنه؟
ما وویل هو! څه دې پکار دي؟ هغه راته وویل د مبایل کارت به لومړی رالیږې او بیا به درباندې زیری کوم، ما هم ورته وویل سمه ده؛ خو څه! د خوشالۍ ساعت کله کله وي، چې کله مې کارت ورولیږه؛ نو زیری یې راباندې وکړ، چې یاره! مبارک دې وي، بیا هم له ډېرو ښه یې.
ورته مې وویل څنګه له ډېرو ښه یم؟ ویل یې په ۲۰۰ نمرو دکنړ عالي دارالمعلمین ته راغلی یې، ما ورته وویل، چې پرېده مړه! تاته دې دا دارالمعلمین درپاتې وي.
هغه وویل ولې؟
ما وویل، مړه نو په دارالمعلمین زه څه کوم؟
ټیلیفون مې بند کړ او د نورو ملګرو د حال معلومولو لپاره هغه ځای ته لاړم چې مورږ ملګري به سره راټولیدو او یو بل ته به مو کیسې کولې، چې ګورمه هریو پوښتنې کوي هلکه! څه ته کامیاب شوی یې؟
ما ورته وویل، خپله به خبر شئ خو ډېر زورور شول، ورته مې وویل، د کنړ عالي دارالمعلمین ته، ټولو وخندل.
خو څه! دا نور ملګري مې هم څوک بې نتیجې او څوک کمپیوټر ساینس، شرعیات، زراعت او همداسې نورو پوهنځیو ته راغلي و.
په نورو ملګرو پسې ما هم غوږ ونه ګروه! سیده خپل کور ته راغلم.

دکور غړيو او پلار ته مې وويل، چې زه خو دکنړ دارالمعلمين ته کامياب شوی يم، چا راته ويل، ويې وايه او چا راته ويل مه يې وايه؛ خو له ځان سره مې تصميم ونيوه او ومې ويل، دا خو نه وايم.

په کور کې مې دکورنيو د ټولو غړيو سره مشوره وکړه؛ نو راته يې وويل ته بايد پيښور ته لاړ شې، هلته بايد کورسونه او نور درسونه ووايې ما هم ورسره ومنله.

کله چې مې پيښور ته د تګ لپاره چمتوالی ونيو؛ نو ايله بيله مې خپل کارونه برابر کړل او مخ په پيښور مې سباته د تګ لپاره ځان چمتو کړ.

په نن ورځ مې پيښور کې خپل ملګري ته چې د ډېر زيات مينه ناک او زما د راز ملګری و هغه ته مې زنګ وواهه او ورته مې وويل، چې ياره زه خو سبا پيښور ته درځم، د هغه دې هم کور ودان وي راته يې وويل، چې زما خو ستا په شان ملګري ته اړتيا ده الله دې زر تر زره راوله زه هم خوشاله شوم او ورته مې وويل، چې سبا مې انتظار کوه که د الله نه خير و ؛ نو حتما سبا درځم.

په نن ورځ مې په کور کې ځانګړی قدر هم و شو، لکه زه چې له کومه ځايه ميلمه راغلی وم.

بيا شپه شوه او دحورې لينا د مينې په فکر کې شوم چې دا ځلور کاله مې د حورې لينا په ياد زړه خوړلی و او ټول د مينې کيسو داسې جو جو کړی وم.

که خبره به مې د يو شي په باره کې شروع کړه؛ نو ختمه به مې کړه په بل څه، يعنې په مينه کې سم سرسام شوی وم. له ځانه سره مې وويل؛ نوره که پوهيږي پوهه دې شي او کنه پوهيږي؛ نو الله دې پوهه کړي هماغه و چې شپه او خاموشه خاموشي وه سوړ باد لګېده، دکنړي سيند شور مې تر غوږونو را رسيده د کور د توتانو او نارنجو ونو پاڼې د باد په مرسته رپيدلی ګرد چاپير غرونه او زموږ له حجرې د رات کيراڼي بوی مې ذهن ته قوت وربخښه، ښه شېبه مې د رات کيراڼي د بوی سره د خپلې مينې په ياد د خپل کور په چمن کې ټوپونه وهل شروع کړل، د ګلاب ګلونه مې بوی کړل، لمر ګلو ته مې وکتل، چې سرونه يې غړند نيولی او نری باد يې کله يو خوا او کله بل خوا تاووي.

نن شپه زما لپاره په کور کې وروستۍ شپه وه او نور له کوره مسافرېدم او خدای خبر چې بیا به کله کور ته راتلم؟!
سپنې پنځه ورقې مې راواخیستې او له کور بهر حجرې ته راووتم د حجرې په چمن کې مې جانماز وغوړه لاټین مې ځانته ولګوه د شپې یوولس بجې وې، له غرونو د ماتونکو او خوړونکو حیواناتو رنګا رنګ غږونه راتلل، دکلي سپیو د شیطانانو په لیدلو د کلي خاموشي ماته کړې وه او له ګرد چاپیره به یې د غپا اوازونه راتلل.
نور چاپیریال دانسانانو له غږونو په ارام و؛ خو هغه څوک چې عاشوقان وي؛ نو هغوی بیا له داسې ماحول سره عادت شوي وي، زما په څلور متری کې د اوبو وړه کي لښتي چې اوبو یې سندرې ویلې او د رات کیرانې ښکلی بوي چې زما زړه ته یې یو قسم خوشالي رابخښله او د مینې لیک ته یې راله پوره مینه ناک الفاظ د مغزو له چینې راویستل او د دغه الفاظو په مټ مې حورې لینا ته داسې لیک ولیکه، چې دمینې په تول تلل شوې الفاظ یې ستاسې ترمخې انځوروم، چې ګرانې لینا ته مې د لیک په شکل د قلم له ژبې دکاغذ پر مخ ښنبلول.
د اوبو شړار، دماشو بنګار، د سپیو غپا او د نورو ځارونکوحیواناتو، غږونو او د ګلانو عطرینې غبرګې به ورته زما له ځانه سره په تکرارولو یو رنګین چاپیریال برابر وو.

ګرانې !
دا لیک درته په داسې توره شپه لیکم، چې یوآځې راته اوبه سندرې وایي، عطرین بوټې راته دمینې توري زیاتوي، ترلاټین راتاو پتنګان ځان د لاټین په وړو سوریو ننباسي ځان پر اور ستې کوي، ماشې او غوماشې مې پر بدن چکونه لګوي، چې خپلې خیټې زما پر وینه ډکې کړي، نری شمال مې مخې ته پرتې سپینې پاڼې داسې رپوي لکه ستا دامر تابع چې وي او ستا لخوانه ورته ویل شوي وي، چې د خط لیکل دې ماته کوم اهمیت نلري، ترخنګ پرته هدیره چې له نظره مې د حجرې دېوالونو پناه کړې ده اوتکه توره شپه دومره راته ډارونکې ده، چې کله سترګې د لاټین له رڼا اوچتې کړم؛ نو د بدن

وینښتان مې نیغ ودریږي او د ډارونکو حیواناتو غړونو سره لا ستا په سوچونو کې ډوب شم او په اسمان کې ځلیدونکي ستوري راته داسې سترګککونه وهي، چې راته وایې، په دې لیک کې انشاالله کامیابېږې او د رنګه قلم له خولې داسې توري څڅیږي، چې هر توري سره مې د زړه درد کله په خوشالۍ او کله د مایوسۍ طرف ته بیایي ستا لخوانه چې د لومړي لیک ټوټه کېدل او بیا په اوبو کې اچول رایاد شي؛ نو په دغه وخت مې زړه وردیږي؛ خو چې کله مې ټول لیک لاس ته قطره قطره راځي؛ نو بیا مې زړه د خوشالۍ طرف ته ځي.

ګرانې ! له تا یوه هیله لرم چې د ددې لیک ځواب ضرور باید راکړې او که رادې نکړ؛ نو داسې وګڼه چې ستا د ځواب په نشتون کې به زه مړ شم

دومره درته د زړه له درده لیکم چې، ای پر ما ګرانې ښایسته حورې نازنینې لینا جانې !

زما د زړه ملکې ! زما د ژوند خوشالوونکې او د ښکلاییز حسن څښتنې ! چې د قدم په اخیستلو زما د زړه ماڼۍ نړوې د زلفو ټالونه دې ماته د مینې په ټال کې ټالۍ راکوي، د غاښونو سپین والی دې د شیدو څښل رایادوي سرې نرۍ شونډې دې ما داسې دګلابونو بوی کولو ته اړ کوي چې د ګلابو د پاڼو نه ستا د شونډو هره ورځ پور واخلم؛ خو ته په خپل ځان دومره مغروره یې چې بیخي په څلورو کلونو کې دې کوم اهمیت ماته رانکړ، نه دې ماته په مینه راوکتل او نه دې د ښوونځي په کتابونو کې د مینې او خواخوږۍ له درس نه عبرت واخیست، یوآځې او یوآځې دې په خپل ژوند کې غرور یاد دی او هغه هم داسې غرور چې په خپل غرور ولاړې ونې له بیخه اوباسي؛ خو پر زړونو دې وس نه رسیږي او هغه همداسې بې ځوابه پرېږدي، چې د ځواب اجازت دې یا غرور نه درکوي او یا هم کېدای شي چې د مینې له درده نه یې خبره. کېدای شي خبره یې؟ ځکه د یو چا دژوند داستان خو به دې لوستی وي د لیلا او مجنون کیسه چې ډېره مشهوره ده له یو چا خو به دې ددې کیسې په باره کې ډېر څه اوریدلي وي، چې مجنون ولې په لیلا مین شو علت یې څه و؟

ایا یوآځې میئن په دې دنیا مجنون تېر شوی او که نور به هم تېریږي؛ خو تاته دومره وایم چې د مینې درد داسې لیونی کړی یم چې کله پر لاره روان یم؛ نو

ستا د نوم توري د ترنم په الفاظو وينځم او د سوچ په دنیا کې له ځانه ناخبره روان یم.
لوری مې نه وي معلوم، چې په کوم طرف روان یم او چرته به ځم، که دوکان ته د سودا اخیستلو پسې لاړ شم نو د بوري پرځای مې د جامو پوډر او د پوډرو پرځای مې سوډا اخیستې وي.
بیا په کور کې دکورنۍ د غړیو د لاسه په هغه ځیزونو پسې بیا ځغلم او د ټولو د خندا وړ ګرځم چې هر یو راته وایي، دې ځوانۍ ته دې وګوره او ستا دې کمزورو مغزو ته وګوره اخر څه به درنه جوړیږي؟!
که ته یې نه منې؛ نو اوس یاداشتونه په قلم لیکم چې رانه هیر نشي؛ خو ډېر کله مې ستا نوم ډېرو دوکاندارانو ته د سودا اخیستلو په وخت ویلی دی چې لینا شته؟
خو بېرته خپله خبره زر اخلم، دوکاندار راته وایي لینا لا اوس کوم ځیز دی؟
زه ورته وایم، نه مړه دوکانداره خوله مې غلته شوه، ویم چنې یا ممیز او یا هم کوم بل ځیز شته؟
بیا راته هغه ووایي چې هو؛ خو په دې خبرو هغه څوک پوهیږي، چې مینه یې کړې وي او د مینې له ژونده خبر وي؛ خو که ته نه یې خبره؛ نو زه دې خبروم چې مینه څه ته وایي؟
مینه مینې ته وایي، مینه د زړه درد ته وایي، مینه په مینه کولو ژوند ته وایي.
خو ته باید پوهه شې لکه ته چې زما خوښیږې دې ته مینه وایي.
او همداسې نور ډېر تعریفونه دي؛ خو خیر ته همدا یو یاد لره، چې زه پر تا مینن یم
او چې کله ته مینه شوې؛ نو بیا به ته هم پوهه شې، چې مینه رښتیا څه ده؟
اوس نو دومره درته وایم، چې ګرانې لینا جانې دوروستي لیک توري په پوره کېدو دي او له تا غواړم چې ددې لیک ځواب حتمآ راکړې.
ځکه مرګ نه دی معلوم، خدای ناخواسته که مړ شم؛ نو ستا په زړه به کومې خبرې تېرېږې؟
نورې خبرې بیا تا پورې اړه لري چې ارمان به کوې او کنه؟

او هو رښتیا ستا وروستی کال هم دی ته به له دولسمه فارغیږې او هغه هم اول نمره، ځکه چې څومره زه د نورو  نجونو له خولې خبر شوی یم له شپږمه همدا سې اول نمره روانه یې او فارغه به هم شې.
د خوښې له پوهنځي دې هم خبر یم، چې کله دې مرکه په خپل مکتب کې له یو ټلویزوني ژورنالېست سره کوله  او په مرکه کې درنه ژورنالېست پوښتنه وکړه، چې د خوښې پوهنځی دې کوم یو دی؟
تا ورته په ځواب کې وویل طب !
ګراني که هر څومره ځان اخوا دیخوا کړې؛ نو بیا مې هم  د زړه له شیش محله نه وځې، ځکه ما ستا په هیرولو کې ډېر کوشش وکړ؛ خو بیا هم بریالی نشوم، زړه مې همدا ګواهي راکوي، چې هرڅه په کولو کېږي او چې څه په بار بار غواړې هماغه درسیږي.
ته به ډاکتره شې او زه به دې د ژوند ملګرى لیکوال شم، خو ګراني زما لاس ونیسه او ما مه پرېږده چې په نیمه لار کې پاتې شم! زه الیاس خان به ستا د ډاکترۍ ارمان درپوره کړم، که چېرته زما شې او که چېرته د بل شې؛ نو بیا داسې وګڼه چې ډاکتري دې په اوبو لاهو شوه.
او سر له اوسه درته د ښوونځي نه د فارغېدو مبارکي وایم !
الله ج دې وکړي چې پخیر له دولسمه هم اول نمره فارغه شې او دزړه ارمانونه دې هم الله پوره کړه؛ خو یوه خبره یاد ساته، چې سهار ته پخیر له کوره د مسافرۍ لومړی مزل مې شروع کېږي او نه یم خبر چې ترڅو پورې به  د مسافرۍ ژوند تېروم.
یاده مسافري مې ګاونډې هېواد پاکستان ته د زده کړو په خاطر ده، د کورنۍ ټول غړي مې په دې ټینګار کوي، چې زه دې نورې زده کړې له خپله هېواده بېرون وکړم،  ترڅو په راتلونکې کې رانه یو تکړه کمپیوټر کار جوړ شي؛ خو زما مینه په ټوله کې له ژورنالېزم او ادبیاتو سره ده.
خو لینا جانې تاته دومره وایم، چې ما له یاده مه باسه او چې کله دې هم زړه درد وکړ؛ نو د ملګري د ټلیفون شمېره مې درته په لیک کې ولیکله صرف یو زنګ ورته ووهه او ورته ووایه، چې  د الیاس سره مې کار دی ،  نوره ته بې غمه شه بیا زه پوهیږم.

ګرانې ! مخکې خو به مې درباندې هره ورځ سترګې لګيدلې، ځکه هره ورځ به مې ليدلې چې ته به ښوونځي ته روانه وې او زه به دې په شا پسې لکه عسکر روان وم.

خو له دې وروسته زما مينې، کوښې به يې خو زه به نه يم، شکرونه به او باسې چې ښه شوه د ليوني نه خلاصه شوم، که ته هر خطاب راته کوې نو بيا يې کوه؛ خو هرو مرو ددې وروستي ليک ځواب راکړه !

ستا د ځواب په هيله ستا ليونی او سرګردانه ميئن !

او د ليک په پای کې درته دا ټپې د خپلو رګونو په وينو ليکم، چې زړه دې و درد يږي.

له درده داسې ليونی شوم
په نيمه شپه کې درته ليکمه خطونه
د سترګو نم مې نه وچيږي
د زړه په سر مې سرې پولۍ ولاړې دينه
ښه ده چې خدای صبر راکړی نو
ځکه دا ستا نو ستمونه په زړه ورمه
ګناه دا ستا نده زما ده
پخپله خوښه مې زړګی درکړی وونه
په بل مې کله پيروزو کيږي
دا ښايسته ځواني دا ستا په نوم ليکمه
ستا دغمونو په ښوونځي کې
ما سبقونه دياری ويلي دينه
زه دې دزړه په رنځ اخته کړم
ظالمې ښه ورځ به الله نه درکوينه
د زړه له درده مې خوب نښته
ستا د نامې توري په سرو وينو ليکمه

ليک مې ورته وليکه دکاغذ په پاکټ کې مې بند کړ او دپاسه مې پرې وليکل دضرورت رقعه

د وروستي ليک ليکونکی ستا دزړه سر L ____ E

دلیک دلیکلو وروسته لاړم اودس مې وکړ د جومات ملا امام هم د سهار اذان وکړ د سهار د لمانځه لپاره مې د جومات لاره ونیوله، جومات ته لاړم لمونځ مې وکړ او بېرته کورته راغلم، سترګې مې خوب ته وږې وې ما ویل په موټر کې به خوب وکړم.

د سهار چای مې وڅښه او د کورنۍ غړیو مې تیار د سفر سامان چمتو کړی و.

لاړم د خپلو خپلوانو په کورنو وګرځېدم، له هر خپلوانه مې دعا واخیستله بېرته کورته راغلم.

دمور له سترګو مې اوښکې څڅېدلې او همدا ټینګار یې کوو، چې زما ښایسته بچیه ! پر ځان ډېر ډېر پام کوه او بې ځایه وختونه مه تېروه.

د مور او پلار په شمول مې د کورنۍ غړیو ډېر ټینګار زما پر زده کړه و، چې زده کړه وکړم او خوشې چتې وخت باید تېر نکړم.

له ټولو مې خدای پاماني راواخیسته هر یو راته ډېرې ډېرې دعاګانې وکړلې؛ خو د مور له خولې مې د دعا ګانو باران جوړ و په نن ورځ یې ډېر زیات ښکل کړم بیا یې رخصت او په الله ج یې وسپارلم.

لیک مې هم تیار په خپل جیب کې خوندي کړی ؤ ، کله چې مې له کوره بهر قدم کېښود؛ نو له سترګو مې اوښکو د ګرېوان لاره ونیوله، بیک مې شاته ټالۍ خوړلې له خپله کوره لرې کېدم او پر هغه کوڅه ورسمېدم، چې په کومه کوڅه به لینا ښوونځي ته تلله.

ښوونځي ته ډلې ډلې انجونې روانې وې؛ خو یوه وړه انجلۍ چې تورې جامې او سپین ټکری یې پرسر و په وړو وړو قدمونو یې د ښوونځي لار لنډوله جینۍ ته مې غږ کړ ماشومې زما خواته راشه کله چې مې ماشومه خواته راغله؛ نو لیک مې له جیبه راویسته او ورته ومې ویل، یوه جینۍ راځي زه یې درته ښایم، دا لیک به هغې ته ورکړې او ورته وبه وایې چې دا لیک ستا یوې همصنفۍ راکړی دی.

لیک مې ماشومې نجلۍ ته ورکړ د ۵۰ روپیو لوټ مې ماشومې ته په لاس کې ور کېښود او ورته ومې ویل چې دا ستا شو چې هرڅه پرې اخلې خوښه ستا ده.

ماشومه مې ترخنګ ولاړه وه کله، چې مې سترګې دلینا په دروازه ولګیدې؛ نو ایله لینا له دروازې قدم بهر کړ او په ناز اخیستونکو قدمونو یې د ښوونځي لاره ونیوله ما یې په نن ورځ سمه نندارهوکړه ځکه مخکې مې لاره نیولې وه ماشومې ته مې وویل، چې همدې جینۍ ته به لیک ورکړې، کله چې مې له خوا تېریدله؛ نو برګ برګ یې را وکتل او سیده تېره شوه بس راکتل نه و، سم دټوپګ ډزؤ، چې بیا یې زخمي کړم، ماشومې ته مې وویل ورځه پسې او زه درنه لاړم.

ماشومه انجلۍ په ورمنډو شوه او د هغې څنګ ته یې ځان ورسوه لیک یې ورکړ او نوره ترې روانه شوه، زه لکه زخمي شوې مرغۍ په ماتو وزرونو مې د سرک لاره ونیوله او په سوچونو کې روان وم، چې د سرک په سر ولاړو ونو کې دکوو کوو مرغه اوازونه مې پر غوږونو ښه لګیدل او د موټر انتظار مې کوو.

(۳)

## پېښور ته تګ

د روژې مبارکې میاشتې رارسېدو ته پوره دېرش ورځې پاتې وې د تېډې موټرمخکې سیټ ته وختم د سفر دعا مو په ګډه وویله او مخ په جلال اباد موټر حرکت وکړ، ونو بوټو مې پر حال افسوس کوه او داسې تېزې منډې یې راپسې وهلې چې ماله دوی څخه ځوک تښتوي؛ خو موټر داسې په تېز رفتارۍ مزل کوو چې ونې یې همداسې پرخپل حال پرېښودلې او زه یې له یوې دنیا سوچونو سره بلې نړۍ ته وړی وم.

دموټر شاته سیټ ته مې نا ځاپي ورپام شو، یو سړی چې تقریبا له عمره ځوان معلومېده ورسره دوه انجونې چې مخوونه یې په تورو نقابونو پوښل شوي و په شاته سیټ کې ناست و، نجونو په خپل منځ کې ورو ورو خبرې کولې چې کله به یې دنرۍ خندا اواز زما ترغوږونو را رسېده؛خو زما د زړه او ذهن پام ټول د لینا یادونو ته و، خو دې وخت کې رابانده له شاته سیټ نه ځوان سړي غږ کړ ،ځوانه ځنګه داسې سوچ کې ناست یې؟

ما ورته وویل کاکا څه یې کوې، بس په لومړي ځل راته مسافري راترغاړې ده؛ نو ځکه ورته سوچ وړی یم، بس دکاکا دې هم کور ودان وي غوږې مو سره وکړې، ښه ډاډ یې راکړ ، ډېر یې تشویق کړم، چې ته لا ځوان یې، باید له ژوند سره مبارزه وکړې او خپل تعلیم وکړې.

موټروان هم لکه سم چې دانجونو حرکات څاري او خوند ترې اخلي موټر یې له هوا سره په لوبو کړی و اوپه ټیپ کې د همایوون خان په غږ دې سندرې په زړونو سم چک لګوو.

داسې راته ګورې لکه نه چې راته ګورې
نېغ مې د زړګي وځي کاږه چې راته ګورې

استاد ته مې وویل، چې استاده که لږ په قرار یعني سلو لاړ شو څه ګناه خو نه کېږي، چې ته داسې ورخطا یې، موټر چلوونکی لکه زما خبرو چې پرې هیڅ تاثیر نه وي کړی او یا یې سر ته د ملاریا تبه ختلې وي بس په هماغه تېز رفتار روان و او ځوان سړی داسې معلومېده لکه خپله چې د موسیقۍ شوقي وي پر

موټړ وان يې هيڅ غږ نه کوو چې وروره داخه کوېږ دا موټړ خلک داسې چلوي؟
ما هم نور پر موټروان غرض ونکړ او خپلې ډريورۍ ته مې پر ښنود بس هماغه د تېز رفتار وجه وه چې ځنګه دپټنۍ ترۍ ته ورسېدو سيند ته مې پام شو ، کنړی سيند هم داسې غوسناکه چپې وهلې چې په ليدو يې دسړي «غونې» راجګيدو استاد ته مې وويل که هرڅومره مست يې؛ خو دا مستي ډېره ښه نه وي، ځکه اوس نو سيند او سرک سره خوا په خوا دي او ته بايد خپلې ډريورۍ ته پوره پاملرنه وکړې، هسې نه چې د سيند د څپو ښکار مو کړې هماغسې وشو ، ډريور نو خپلې مستۍ داسې په هوا کړی وو چې په سيده سرک کې وارخطا شو د موټر کنټرولول يې له لاس ووتل، موټر په تېز رفتارۍ کې يو دم په هوا شو او زما په شمول په موټر کې ناست کسان يو دم په چغو سر شو ، ځکه چې د سندرو د خوښۍ شيبه مو پای ته ورسېده او په خپلو سترګو مو خپل مرګ ليدو ؛ خو موټروان څه کړی وای اوس نو موټر په هوا کې ځان د سيند څپو ته ورسپاره په همدې کم وخت کې مې دومره توره وکړه چې د موټر مخکنۍ شيشه مې د پښو د لغتو په زور ماته کړه او موټر خپل ځان د سيند خطرناکو څپو ته په سپارلو سره مې يو دم سر وچ درد وکړ خبر نشوم، چې ځنګه له موټر ووتم؛ خو چې کله مې د سيند د څپو سره مقابله شروع کړه، نو بې رحمه زورورو چپو مې دبدن څواک کمزوری کړ او ډېرې زياتې اوبه مې له ستونې تېرې شوې، داوبو د تېريدلو سره مې خپل واک د لاسه ورکړ، بدن مې سست شو او له لامبو وهلو يې وويستم؛ خو دومره مې وکولای شول، چې له ما شاته پيغله نجلۍ چې د سيند قهرجنو څپو يې د اوربل وېښتان ګډوډ کړي ول او له خولې يې ځګيروي ختل د خپل چپ لاس په مرسته مې ټينګه ونيوه، او د ښي لاس په تيپولو تيپولو مې د سيند غاړې ته د وتلو هڅه کوله؛خو ښه و د الله مرسته او کمک و چې په سرک تېرېدونکو موټروانانو خپلې موټرې غاړې ته ودرولې وې، څوک مو په ننداره بوخت و او څه کسانو زموږ مرستې ته ځانونه راورسول، له سينده يې راوويستلو بيا په ځان پوهه شوی نه يم، چې مړ يم که ژوندی، کله چې مې سترګې وغړولې؛ نو سيروم مې دښې لاس په رګونو کې د خپل قوت اثرات ښودل.

دواړه پښې مې په سپینو بنداژونو پوښل شوې وې راته ولاړ د سپینې چپنې والا ډاکتر نه مې پوښتنه وکړه، چې په پښو مې څه چل شوی دی
د ډاکتر دې کور ودان وي راته يې وويل، چې پښې دې ماتې ندي لږې شيشو غوڅې کړي دي، نو ځکه مو په بنداژونو پوښلي.
له ډاکتره مې مننه وکړه او ورته ومې ويل، هغه چا چې زه دلته راوستی یم هغه کس ماته راوله، ډاکټر هم په خوښۍ ومنله او بهر ته ووت لږ ساعت وروسته يو ځوان غنمرګی هلک له ډاکتر سره راننوت او په خوښۍ يې وويل، ښه دی چې روغ یې او زموږ دا هيله وه چې په تاسې به څه نه کيږي
له ځوان هلک نه مې دنوم په باره کې پوښتنه وکړه، ځان يې راته خالد معرفي کړ.
د نجلۍ پوښتنه مې ترې وکړه چې هغه نجلۍ څنګه ده ؟
ځوان راته وويل، هغه هم ښه ده خو ډاکترانو ويل، چې زياتې اوبه يې تېرې شوي انشاالله چې ډېر زر به روغه شي.
له خالده مې د موټروان د يوې بلې نجلۍ او د هغه ځوان سړي تپوس وکړ چې څنګه چل دی په هغوی کې خو د کوم يو احوال نلرې چې مړه به وي که ژوندي؟
راته وې ويل، چې ډريور ژوندی دی او د سړي او هغه بلې نجلۍ څه پته نه لګيږي، چې نيول شوي به وي او که سيند به وړي وي ځکه ما تاسو دلته د نورګل روغتون ته راوړی یاست.
يره نو ډريور ته مې سخته غصه راغله، چې دا بدبخته يې وړی وای؛ نو ښه به و، دا هر څه دده له لاسه پر موږ وشول.
خو څه به مو سر خوږم، کومه نجلۍ چې ما له سينده راويستلې وه دهغې خونې ته ورغلم د پخوا په پرتله ډېره ښه وه په مشکل سره يې خبرې کولې پوښتنه مې ترې وکړه چې اوس څنګه يې؟
راته يې وويل، چې اوس ښه يم له خور او تره نه مې څه احوال لرې ؟
ما ورته وويل، هغوی هم ژوندي دي.
نجلۍ خوشاله شوه او ويې ويل، شکر چې ژوندي دي.
ژوندي چرته و نجلۍ په دربمه ورځ پيدا شوې وه او سړی په پنځمه ورځ له سينده راويستل شوی و.

له خالد ډريوره مې ټيليفون وغوښت، دپلار دټيليفون شمېره مې ډايل کړه او دپيښې نه مې خبر کړ، پته مې هم ورکړه.
تقريبا نيمه ساعت به نه وه تېرشوی، چې پلار مې دکورنۍ دنورو غړيو سره راورسېد ، ټولو په ژړاګانو خپلې سترګې سرې راويستلې وې، دپيښې ټول جريان مې دکورنۍ غړيو ته ووايه ټولو ډېر شکرونه ايستل او هر يو ويل ښه دی چې الله په خپل امان کې ساتلی يې، کومه نجلۍ چې مې له سينده رايستلې وه هغه مو هم له ځان سره کړه او خپل کور ته مو راوسته له نجلۍ نه مو دنوم پوښتنه وکړه، نوم يې سيلۍ وه او سيلۍ نو رښتيا سيلۍ وه؛ خو د سيند ځپو او اوبو يې دمخ رنګ تک زيړ اړولی و، دکنړ ولايت دمرکز اسعداباد اوسيدونکې وه دکورنۍ د غړيو په باره کې مو ترې معلومات وغوښتل، خپل دکور ادرس يې موږ ته راکړ پلار مې يو کس ته وظيفه وسپارله او د سيلۍ دکورنۍ غړي يې راخبر کړل د نجلۍ ټوله کورنۍ ډېره خپه وه، ځکه چې دوه کسان يې سيند ويوړل او يوازينۍ بختوره همدا سيلۍ وه چې روغه رمټه له سينده پاتې شوې وه ډلې ډلې کليوال زموږ تپوس ته راتلل او په کليوالو کې هغه ګاونډۍ لينا هم تپوس له راغله چې زما دزړه په شيش محل يې پاچاهي ټينګه کړې وه او تردېره يې زما دزړه سرحد همداسې وران او کنډر پريښی و.
سيلۍ مو خپلې کورنۍ ته وسپارله او د سيلۍ کورنۍ له ما زياته مننه وکړه چې د هغوی لور مې بچ کړې وه سيلۍ ته مې په سپينه پاڼه د خپل کور دټيليفون شمېره وليکله او هغې ما ته د خپل کور د ټيليفون شمېره راکړله
پنځه ورځې به تېرې شوې نه وې، چې له پښو مې پټۍ لرې کړې او د ناروغۍ له بستره سره مې خدای پاماني وکړه، ثانيه په دقيقه ، دقيقه په ساعت، ساعت په ورځ او ورځ د اونۍ په پوره کېدو کې مرسته کوله زه هم ښه شوی وم، بيا مې د قدمونو په اخيستلو د کلي کوڅې ګزوګام کولې او د هغه چا ديدن ته به مې وچې سترګې داسې نيولې وې لکه ښکاري چې ګوته په ماشه د مرغيو ټولې ته زنګون کېش کړی وي
هئ !؟هئ !؟

ژوند و تېریده بس هره ورځ هماغه کوڅه په هماغه وخت د لینا دیدن او د هغې مړاوي کتل او زما سره د سترګو جنګول؛ نو بیا بېله نړۍ وه لکه څوک چې مې په ټپي شوي زړه د ملهمو پټۍ ږدي؛ خو د پخوا په پرتله یې زه اوس له سترګو پوهېدمه، زما مینه چې د هغې لپاره مې په خپل زړه کې ورته ځای ورکړی و او دلیکونو تورو ورته زړه نرم کړی و ؛ نو یو څه به یې خوا ږه راکتل او د مخکې په څېر به یې ناز نه کوو، مخ به یې نه اړاوه یوائې کتل، غلي تېریدل او بس.

لکه دبریالي صمدي په غږ دا سندره

خـیر نن کـه درته ما وکتل تا راوکتل

خو ګورم به دې بیا که دې سبا راوکتل

ما ویل چې دا کتل یې همدا د څو ورځو کتل نه وي او بیا وروسته خبره نوره همدا سې غلې پاتې نه شي.

بیا مې هم زړه نه کرارېده او په کور کې مې وویل، چې زه باید پېښور ته د درسونو لپاره لاړ شم او که دلته پاتې شم؛ نو کېدای شي چې لوپر رانه ووځي کورنۍ مې ومنله، چې باید ضرور لاړ شم ځکه چې له درسونو پاتې کېدل مې ډېر په زیان دي.

د مازیګري لمر زیړې وړانګې ورو ورو په ختمېدو وې او د ماښام تیارو ته یې ښه راغلاست وایو، په جیب کې مې ټلیفون وشرنګیده چې ومې کتل سیلۍ وه، ما ویل دا جینۍ چې زموږ له کوره لاړه تراوسه یې بیا زما احوال ندی اخیستی نن یې څنګه زړه وکړ، چې ټلیفون یې راته وکړ د ټلیفون د اوکی په ښټنه مې زور کړ له بلې خوا له سلامه مخکې د بخښنې الفاظ جاري و.

وبخښه تر اوسه موږ د خپلې کورنۍ د مړو په فاتحه اخته وو ته مې په یاد وې؛ خو وزګاره نه وم اوس مې سلام ومنه

ماهم ورته وعلیکم ووایه

سیلۍ راته وویل ګرانه څنګه یې؟ کورنۍ مو څنګه ده ؟

ما وویل ښه یم کورنۍ هم ښه ده، ته څنګه یې او ستاسو کور ته خیرت دی ، هغې وویل اوس ښه یم او کور ته مو هم خیرو خیرت دی.

ښه ګرانه ! ډېره مننه نورې خبرې به کوو نن شپه اته بجې زه درته زنګ دروهم.

ما وویل څنګه چې ستا خوښه وي.

ټلیفون یې بند کړ او زه دګرانه ټکي ته فکر ویوړم، چې جنۍ څنګه ما ته خپل نوم وانخیست او د ګرانه لفظ یې استعمال کړ ماله ځانه سره وویل د ګرانه لفظ؛ خو خلک هغه چاته کاروي چې مینه ورسره لري، هغه یې د زړه سر وي دا خو زما هیڅ نده یوائې همدا کمک مې ورسره کړی و، چې له سینده مې ژغورلې وه او دې راته نن په خبرو کې دګرانه لفظ استعمال کړ، ځه خیر دی نوم به مې ترې هیر شوی وي، ځکه یې راته دګرانه لفظ استعمال کړ په زړه کې مې همدا خبرې ګرځیدې، چې د تورتم تیارو پرځمکې خپل څادر غوړو او هغه وخت چې سیلۍ راته زنګ راوهه په رانژدې کېدو و.

(۴)

## د سیلۍ زنګ

د شپې له اتو بجو څو د قیقې تېرې وې له کومه وخته چې سیلۍ په تمه کړی وم، چې زنګ درته در وهم؛ نو له هغه وخته مې په زړه کې نورې خبرې تېریدې راتېریدې، چې دا جینۍ به څه وایي ؛ خو اوس یې د زنګ په انتظار له خپله کوره رابهر شوم او حجرې ته مې د تللو تکل وکړ.

کله چې حجرې ته لاړم د شپې تیارو خپل ځان په ویرونکو غړونو کې رانغاړلی و، تازه هوا دونو پاڼې نخولې زموږ په حجره کې د بیلا بیل ګلانو بوی او خصوصا د شپې ناوې یعنې د رات کیراڼي ښکلی عطرین بوی مې پر حواسو ښه لګیده په چمن کې مې ډډه ووهله او د ډډې په وهلو سره د ماشو بنګاری هم شروع شو، چې یو یو ماشي به مې پر بدن خوله لګوله چې د خولې لګولو سره به له ماشي هم ساه وتله، د سپیو غپاګانې او د پیشوګانو د میو میو اوازونو مې ټول پام ځان ته اړولی و، چې یو دم مې د ټلیفون ټلۍ په شرنګېدو شوه، چې ومې کتل سیلۍ وه.

ټلیفون مې اوکی کړ

-سلام جانانه

-وعلیکم سلام

-څنګه یې؟

-ښه یم ته څنګه یې؟

-زه هم ښه یم، کورته مو خیر ت دی؟

-بلې خیرت دی

-ښه جانانه که خپه کېږې نه؛ نو نوم دې راته ووایه چې نوم دې څه دی؟

-ما ورته وخندل ولې تا ته خو ما خپل نوم درښودلی و کنه؟

-جانانه ولا ستا نوم مې له ذهنه وتلی و؛ خو ته مې له ذهنه نه وې وتلی

-ښه چې داسې ده که نوم درته وښایم نو بیا به څه راکوې؟

-ته چې څه غواړې.

-نوم درښایم؛ خو په یو شرط که یې ومنې؟

-وایه ستا به لا شرط څه وي، چې ته اوس پر ما خپل شرطونه منې.

-خبره ډېره نه اوږدوم، ته به راته نور د جانان نوم نه اخلې، ځکه ته باید ماته د ورور نوم واخله نه د جانان، د ورور په نوم ښه ښکارې.
-جانانه دا دې شرط و مړه دا خو ډېر اسان شرط دی
جانان به درته نه وایم، ګران به درته ووایم
زما له خولې هم دګرانې لفظ ووته ګرانې ! نورې خبرې دې نه دې یادي، چې همدا په یو نوم پسې ښتې یې، ما ورته وویل سیلۍ لیونۍ زما نوم الیاس دی او له رنګه خو تا خپله هم لیدلی یم.
هغه ورځ دې په یاد وه، چې د سیند له څپو سره دې ډغرې وهلې او اخر بیا زما د لاس بندیوانه شوې، هغې وویل هو ډېره مننه درنه بیا هم کوم چې زما ژوند دې وژغوره او الله به دې بدله هم درکړي.
سیلۍ وویل ګرانه ! لږ مخکې دې ماته په خبرو کې د ګرانه لفظ استعمال کړ ولې؟
ما ورته وویل، چې دا لفظ زه هرچاته وایم پدې مقصد مې درته ووایه چې ګرانې خور ښه یې، دیو څو شیبو لپاره یې خاموشي اختیار کړه ټلیفون یې او کی و، د بلې غږ مې پرې وکړ، بلې غږ مې اورې، ګرانه بیا داسې ونه وایې چې ګرانې خور ښه یې
ګرانه یوائې به همدومره راته وایې، چې ګرانې ښه یې، ما هم ورته وویل ولې نو دې کې څه خبره ده.
بس الیاسه ! خبرې ډېرې دي، بیا یې درته وایم، ماورته وویل سمه ده څنګه چې ته وایې هماغسې به کېږي.
سیلۍ راته وویل ګرانه ! ته په هغه ورځ چېرته تللې او څه پسې تللې ما ورته وویل پېښور ته د کورسونو لپاره تللم، چې هلته کمپیوټري او نورې زده کړې وکړم.
ښه دا خو ډېره ښه وه که په هغه ورځ په خیرو خیرت سره تللی وای او دغه غمجنونکې واقعه نه وای پیښنه شوی؛ خو اوس هم د الله ډېر ډېر شکر دی، چې موږ دواړه له مرګه بچ شو او د چاچې په دې دنیا وخت پوره و نو هغه هسې هم الله ځان ته وبلل او د هغې خواته لاړل.
ماورته وویل، هغوی خو مړه شول، موږ هم ورپسې یو.

له سیلۍ مې وپوښتل سیلۍ تا سره چې په موټر کې ناسته وه هغه ستا څه وه،
تاخو ویل چې زما خور ده ایا رښتیا ستا خور وه؟
د سیلۍ اواز ژړغونی شو ویې ویل، هغه زما د رازونو ملګرې، څومره
صفتونه یې چې په خولې راتلل د هغې یې راته وویل، چې د ترور لور مې
داسې ښه نجلۍ وه چې ما او هغه به چې هرچېرته تللو یوځای به تللو زما او د
هغې جامې سینډل او نور استعمالوونکې توکي ټول یو شان و.
خو د الله کارونه ګوره، چې زما خور اوس نشته، زه به د زړه رازونه چا سره
شریکوم، ما ورته وویل نورې ملګرې به لرې، له هغوی سره یې شریکه وه.
خو سیلۍ د خپلې مړې شوې ملګرې په یاد سلګۍ وهلې او زما ذهن ته یې
هغه صحنه انځوروله، چې اوس هم په سیند کې لامبو وهم خو وچې ته پورې
وتی نشم.
سیلۍ ته مې وویل، بس دی ګرانې خپه کېږه مه، هرڅه به الله ښه کړي، غمونه
او خوشالیانی؛ خو زموږ په ژوند کې اغېزل شوي دي.
کله خوشالۍ او کله خپګان کله غم کله درد بس څه چې د الله له طرفه پېښېږي
بیا نو هغه دانسان په وس پورې پوره نده ستا د ترور لور ته به یې مرګ له
سینده لیکلی و.
ښه سیلۍ وایه کنه نورې څه خبرې دي پوهنتون ته بېرته کله ځې
سیلۍ وویل ولا ګرانه خبرې ډېرې دي؛ خو مشکلات بیا زیات دي زه نوره
پوهنتون ته نه ځم او که ځمه له چا سره به لاړه شمه ما ورته وویل ولې ستاسې
کورنۍ؛ خو ډېر ځوانان لري، یو ځوان ځان سره که او ورسره ولاړه شه او که نه
وي؛ نو بیا به زه درشم زه به دې بوځم.
سیلۍ وخندل ما وویل، ولې خاندې خندا داسې راغله بل څوک هم نه او
ته... !!!
او کنه زه تا ته ښکاره مه؟ ما ته خو ډېر ښکلی ښکاري
ای لیونۍ خبرې بس ندی مبایل کې به دې پیسې خلاصې شي
راته ویې ویل، نن شپه ډېرې خبرې درسره کومه او زما مبایل هسې هم پرې
«Free»دی.
ښه چې پرې «Free» دی نو بیا پوښتنه کوه ځواب به یې درکوم.

ځکه زه خو په ډېرو پوښتنو ستړی شوم.
هغې وویل پوښتنې هم زه کوم د ژړا په وخت کې ژړا راشي د خندا په وخت کې درته وخاندمه
زه ستړې نه شوم او ته ستړی شوې جانانه! لږې اوبه وڅښه چې مری دې تازه شي.
ما وویل اوس اوبه له کومه کړمه، ولې اوبه دې خواته نشته، ما ورته وویل سیلۍ خو ستاسې د سیلیو د لاسه به اوبه سړی ځنګه وڅښي چې په خبرو دې راته زړه شین کړ.
مړه خیر دی که زه دې خواته وم ما به درته راوړې وې.
زه هم لاړم اوبه مې وڅښلې، مری مې صافه شوه، بیا مو خبرو ته ادامه ورکړه.
سیلۍ راته وویل، ښه الیاس جانانه ته له کومې پوهنځي سره مینه لرې
ما ورته وویل ستا د لحاظه زما به کوم پوهنځي خوښېږي، هغې راته وویل زراعت او یا هم اقتصاد ما وویل، نه غلت زما د خوښې پوهنځي ژورنالېزم او ادبیات دي نور پوهنځي مې نه خوښېږي او له همدې پوهنځیو سره مې شوق دی.
ښه جانانه الله دې د خپل خوښې پوهنځي ته کامیاب کړه.
سیلۍ بیا وویل، ای جانانه! ته داسې چل وکړه د جمعې په ورځ زموږ کره راشه چې مور مې هم یادولې باید ته راشې.
ښه ګرانې! مور دې په څه نوم یادولم
مور مې د زوی په نوم یادولې او ویلې لورې ته چې بې له سینده ژغورلې وې هغه زوی ته مې خبر ورکړه، چې زموږ ځای ته راشي او د زړه خواله ورسره وکړو.
ورته و مې ویل سمه ده نوره دې په خدای سپارم راتلونکې جمعې ته به درشم.
د راتلونکې جمعې په ورځ مې له خپل کوره رخصت واخیست او و مې ویل چې زه د هغه چا کور ته ځم د کومې کورنۍ نجلۍ چې ما له سینده راویستلې وه ځکه هغې کورنۍ ماته بلنه راکړېده که تاسو شوک ځئ خو راځئ او کنه ځئ هم خوښه مو خپله؟

ملګري شبير ته مې ټليفون وکړ او ورته ومې ويل، چې سره د خپل موټره راشه چې ځو مرکز اسعداباد ته د هغه دې هم کور ودان وي، راغی په موټر کې ورسره سپور شوم او د مرکز اسعداباد په لور موټر مزل شروع کړ.
په دغه ورځ په اسمان کې وريځې تاوېدې راتاوېدې پسته هوا او ترڅنګ يې دونو نڅيدلو بيل خوند کوو.
نري نري باران هم په وربدلو پيل وکړ، موټر له خوږه واوښته له شبيره مې وپوښتل هلکه څنګه کوم نوی کېسټ نشته؟
هغه هم سويچ بورډ tool box ته لاس کړ يو کېسټ يې راوخيسته او ټيپ ته يې واچوو سم له واره د کرن خان په غږ
داسندره چالان شوه چې ويل يې
دغره په سر کچه کوټه ده او باران وريږي
دچــا دياد راسره شپه ده او باران وريږي ...
هئ !؟ هئ !؟ نو سندره وه باراني موسم او د موټر په سلو تګ بيل خوند کوو له تازه هوا نه مې خوند اخيسته په شبير مې غږ وکړ شبيريه ! ګوره په احتياط موټر چلوه، هسې نه چې خدای نا خواسته کومه پيښنه رامنځته شي هئ د کرن خان په غږ سندرې يو په بل پسې اوښتې
باراني سندرې يې زه له ځان سره اخيستی وم او بيا مې د لينا قواره مخې ته نېغه ودرېده چې کرن ويلي وو
داخاموشي د سرينډې په شان خبرې کوي
ستا جدايي مې ميلمنه ده او باران وريږي
دچــا دياد راسره شپه ده او باران وريږي ...
شپه نه وه ورځ وه او د هغې يادونه او د موټر مزل و له شبير سره مې خبرې نه کولې؛ خو په خيال کې مې دلينا سره خبرې کولې چې ورته ويل مې ليونۍ بس دی کنه نور مې مه کړوه، ترڅو به مې کړوې او ولې مې په ځان پسې رنځوروې، چې په دې وخت کې د موټر د بريک اواز پورته شو په شبير مې غږ کړ هلکه ولې څه چل دی
هغه وويل، هيڅ هم نشته چې ومې کتل د موټر له مخې وزه تېره شوه، يره نو د موټر ناڅاپي بريک له خيالي نړۍ نه رابهر کړم.

موټر د نواباد له بازار نه تېر شو کنړي سيند له مستۍ نه ټوپونه وهل چې د توپچي بېز ته ورسېدو موټر پوليسو تالاشي کړو.
د پوليسو دې کور ودان وي، نور څه يې ونه ويل بس زموږ سيټ ته يې سر راښکاره کړ په اسعداباد بازار کې مې تازه ميوه او نور خوراکي توکي له ځان سره را واخيستل شبير راته ويل اوس نو چرته ځو ما ورته ويل بس شبيريه څه سر به دې خوږوم، يو ځای ته ځو چې اوس به يې ووينې موټر د کيرالې په پله تېر شو او د کنړ د معارف رياست سره ترې ښکته شوم سيلۍ ته مې زنګ وواهه ښه و ټليفون يې اوچت کړ د سلام سره سم مې پرې غږ کړ ليونۍ پخير راورسېدم د کنړ له معارف رياست سره يم نور ځای راته ندی معلوم.
هغې راته وويل ۵ ملټه صبر وکړه ورور به مې درشي پنځه ملټه وروسته يو هلک چې تقريبا ۱۵ کلن به و راغی روغبړ يې راسره وکړ، ځان يې د سيلۍ ورور معرفي کړ، ورته ومې ويل د موټر لاره مو کور ته تللې او که نه هغه راته وويل هوو تللې په موټر کې راسره د سيلۍ ورور کيناست د نوم پوښتنه مې ترې وکړه ځان يې نسيم معرفي کړ.
نسيم شبير ته لاره ښودله چې موټر مو د نسيم دوی دکور په خوا کې ودرېد نسيم ته مې وويل، چې په موټر کې تازه ميوه ده دا هم درسره کورته ننباسه هغې ليوني ويل، پدې دې څه کول ورته ومې ويل، ډېر جنجال مکوه.
نسيم د حجرې ور ببرته کړ ما او شبير حجرې ته ورننوتو د سيلۍ پلار ورونه او د تره زامن زما له راتګه خبرېدل يو يو به راته ښه و بنداړ په ګرمېدو وو.
ټول ځوانان و د سيلۍ بل ورور عمران و چې ډېر ټوقي وو دهغه دټوقو دلاسه مو له خندا نه تشي خوړيدل، چای وڅښل شو او ډوډۍ هم وخوړل شوه.
وروسته د سيلۍ پلار له ځان سره خپل کور ته ننويستم، چې په ننوتو کې مې د سيلۍ په څېره سترګې ولګيدې سيلۍ چې ګلابي کاټن يې په ځان کړی و، غټې سترګې تور ويښتان چې دانه دارې زلفې يې پر مخ خورې ورې پرتې وې او په سرو شونډو يې د ګلابي سرخي اثرات له ورايه ښکارېدل، تابه ويل سمه د هندي سينما وتلې فلمي لوبغاړې کترينه کيف ده؛ خو ليونۍ دومره ښکلې وه چې نور چاته زما پام نشو او سترګې مې د هغې په څېره کې ګنډلې پاتې وې، ښه و ځان مې کنټرول کړ.

مور يې راوړاندې شوه او په دواړه مخه يې ښکل کړم دغه ښکلولو دومره اغېز راباندې وکړ، چې ورته ووايم مورې! يو ځل مې بيا ښکل کړه ځکه چې د هغې په ښکلولو کې يوه دنيا مينه وه هغه هم دمور مينه، ورپسې سيلۍ خپل لاس د سترې مشي په دود راته ونيو، کله چې مې د هغې لاس په لاس کې ونيو دومره پاسته لاسونه و، لکه موم سيلۍ مې په سترې مشي کې ښې لاس کلک په خپل لاس وچيچه خو پر ما يې کوم اثر ونکړ.

د سيلۍ له مور او پلار سره مې د هغوی په کور کې خبرې وکړې هغوی ډېر خوشاله و.

د سيلۍ په اړه مې ورته وويل، چې سيلۍ به پوهنتون ته ځي او کنه هغوی راته وويل، هو بچيه بايد لاړه شي ځکه هلته يې د پوهنتون درسونه شروع دي، بيا محرومېږي او نيت مو کړی، چې په همدې اونۍ کې بايد پوهنتون ته لاړه شي.

په همدې خبرو خبرو کې وو چې د مازيگر اذانونه وشول، د سيلۍ دوی د کورنۍ نه مې په وسو وسو ځان راخلاص کړ، ځکه د سيلۍ پلار اکبر خان کاکا او نور د کورنۍ غړي يې ډېر شله وو چې نن شپه بايد موږ سره وکړئ او سبا ته به ځئ.

د سيلۍ دوی کورنۍ سره مو خدای پاماني وکړه شبير هم موټر تګ ته چمتو کړی و، د مازيگر لمونځ مو د اسعداباد جامع جوماټ کې ادا کړ، دا ځل مې شبير ځنګ ته کېنوه او خپله د موټر جلب ته کېناستم پټۍ مې له سينې تاوو کړه او د موټر په ايکسليټر مې خپه ټينګه کړه دکېسټو دوکان مخې ته مې موټر ودروه، شبير ته مې وويل لاړ شه او يو کېسټ را واخله.

لمر سترګه د ډوبيدو په حال کې وه چې د مرکز اسعداباد له بازاره مو موټر را وويستو چې مخ په قبله يوه هديره راځي لاسونه مو ددعا لپاره اوچت کړل مړو ته مو دعا وکړه.

د سفر دعا مو په خپل ځانونو چوف کړه د موټر ټيپ ته مې کېسټ ور واچوله، سندرغاړی يې عرفان خان و، چې په غږ کې له کرن خانه کم نه و.

د عرفان خان جادوګر غږ په زړونو لوبې کولې چې ويل يې:

لامې چې زړګي ته رانژدې نه وی

لامـو چې تر منځه فاصلې نه وي
مـا به درنه سر صد قــه کـړی وو
تـاته کـه پیغور د زمـانې نـه وي
د ماښام اذانونه کېدل، چې موټر زمونږ ولسوالۍ ترشا پرېښوده او لمونځ ته مو ځانونه خپل د کلي جومات ته را ورسول.
د شپې ۸ بجې وې، چې د کور دروازه مو ټک ټک شوه وره ته ورغلم ګورم چې شبیر په لاس کې یو بیک نیولی دی، راته یې وویل ملګریه! د سیلۍ ورور د موټر په ډاله کې دا بیک ستا لپاره ایښی و، چې ویل یې دا دالیاس تحفه ده، کله چې کور ته ورسېدئ؛ نو بیا به بیک په الیاس وسپارې.
کله چې مې بیک د شپې په خپله کوټه کې کولاو کړ، ډېره سودا یې کورنۍ اخیستې وه، لکه د خسر کورنۍ چې خپل زوم ته ډالۍ اخلي؛ خو په دې بیک کې یو لیک هم پروت و، چې لیک مې پرانیست کړ په ښایسته رنګه خط د سیلۍ لخوا لیکل شوی و.
سیلۍ لیکلي و
ګرانه نازنینه او زما ښکلې جانانه سلام!
له کومې شپې نه چې مې تاسره په ټلیفون خبرې وکړې، له هغې شپې نه مې نېغ په زړه کې ګرځې راګرځې، له زړه مې ټول جهان ستا خبرو هیر کړی دی، ته څومره خوږې او پستې خبرې کوې، هره خبره دې دمینې کشش لري او دومره خوږوالی پکې پروت دی، چې زه تاته مخامخ ناسته وای او تا راته خبرې کولی او ما دې له خبرو خوند اخیستلی
ته پوهیږې چې زه له تاسره څومره مینه کوم او څومره زیات مې خوښ شوی یې له الله ج جلاله نه غواړم، چې ما او تاسره یو ځای کړي او دتل لپاره سره یوځای و اوسو.
ګرانه ډېرې خبرې مې ندي زده دومره مینه درسره لرم، لکه مور او پلار چې یې له خپلو اولادونو سره لري، دلیک په خبرو مې زړه نه مړیږي او نه به په خبرو مړه شم که نور مې درته ټلیفون کوو ته به راته خبرې کوې او زه به دې خبرو ته ښه ښه کوم.
قندولکه!

زه یو سوال کوم خو ځواب به یې په ټلیفون کې راته وایې؛
تاته دې مور په وړکوالی کې څه درکړي دي چې ته داسې خوړې او پستې خبرې کوې او زړونه په خپلو خوږو او پستو خبرو دځان طرف ته مایل کوې دځان دملګري کولو په هیله ستا سیلۍ !

په دې سوال مې له ځان سره ښه ډېر وخندل، ټول فکر مې ځانته شو ومې ویل، کله چې دې ټلیفون راته وکړ نو بیا به یې درځواب کړم.
دا کرل ریبل مې له ځان سره کول، چې ته له ما څه خبره یې، چې زه له چاسره مینه لرم، څوک مې خوښېږي او څوک مې د زړه په تخت پاچاهي کوي، ستا له سینده ژغورل نور څه نه و، بس زما د مینې غوښتل و، چې ته وایې مینه راسره وکړه؛ خو زه له تا سره مینه نشم کولی او نه مې زړه غواړي چې تاته ځان په واک کې درکړم، ځکه چې زما د مینې ډیوه بل څوک ده او زه غواړم چې ځان د هغې په واک کې ورکړم ته خپل کار کوه او ما خپلې مینې ته پرېږده، څوک چې زما ډېره خوښیږي هماغه به زما کېږي او انشاالله زه به هماغې ته رسېږم، چې په هر قیمت وي او ته چې د هرچا په قسمت یې هماغې ته به رسېږې.
دا خبرې مې له ځان سره کولې، چې وړوکي ورور مې د ډوډۍ د خوړلو راته وویل، چې ډوډۍ تیاره ده او ډوډۍ وخوره !
د ډوډۍ له خوړلو وروسته خپلې خونې ته لاړم، د مینې داستاني ناول مې د کتابونو له الماری څخه راواخیستو او په لوستلو یې بوخت شوم.
دشپې تر دولسو بجو مې دناول کیسه پای ته ورسوله، چې په مینه شروع شوې وه او دمئین په مرګ پای ته رسیدلې وه، یعنې ټوله کیسه یې د مینې وه، چې هلک په یوې مکتبي انجلۍ میئنېږي چې انجلۍ د ولسوال لور وي او هلک دغریب سړي ځوی وي، جینۍ څلور زلمي ورونه لري او هلک بیا دپلار یوآځنی زوی وي، چې شپږ خورګانې لري او بل کوم ورور نه لري، پلار یې د دهقانۍ ترڅنګ په خپل زوی ښوونځی هم وایې، چې په اینده کې ددې په درد دوا شي؛ خو دقسمت کارونه بل ډول وي، چې هلک د نجلۍ دکورنۍ لخوا په ډیره بې رحمانه توګه وژل کېږي او ټوټه ټوټه کېږي او بیا په بوجۍ کې د هلک د غوښې توکړې اچوي او د اوبو په ویاله کې یې خوشې کوي، چې د پیژندلو نه وي.

غریب سړی د خپل زوی له میینتوبه خبریږي، چې زوی یې د ولسوال په لور میئن دی؛ خو ولسوال چرته غریب سړی پیژني، کله چې غریب سړی له ولسوال نه د جینۍ ریشته غواړي د خپل زوی لپاره؛ نو ولسوال یې په ډېرې بې شرمۍ له کوره وباسي او داسې یې رټي چې غریب سړی په خپل تګ پښېمانه کېږي او چې کله کور ته راځي؛ نو خپل زوی ته وایي، چې له دې نه پس د دغه سړي نوم ماته په خوله وانخلې؛ خو د غریب سړي زوی له نجلۍ زړه نه صبریږي او د جینۍ زړه هم غواړي چې د غریب سړی زوی سره خپل راتلونکی ژوند وتړي، د دوی ترمنځ د مینې خبرې تودې روانې وې، چې بله ورځ د غریب سړي زوی د ولسوال یو زوی له خپلې خور سره په خبرو وینې، د ولسوال زوی نور ورونه له دې خبرو نه خبروي او ټول په ګډه فیصله کوي، چې د غریب سړي زوی خپل کور ته نن شپه په دې بهانه راولي، چې دخور نکاح ورسره وتړي، کله چې د خور په مرسته هلک راغواړي؛ نو خور ته وایي، کوم هلک چې ستا خوښېږي؛ نو هغه سره به نن شپه مونږ ستا نکاح وتړو، ته یې را وغواړه!

کله چې هلک دخپلې معشوقې په بلنه د هغوی کورته ورځي؛ نو د جینۍ ورونه هلک وژني او ټوټه ټوټه کوي یې او د اوبو په ویاله کې یې خوشې کوي د ولسوال لور د هلک پلار ته د خپل ساتونکي په مرسته خبر ورکوي، کله چې د هلک پلار د خپل زوی له مرګ څخه خبرېږي او د ولسوال کور ته راځي؛ نو جینۍ هم خپل ژوند ته د پای ټکی ایښی وي او د زهرو په واسطه یې ځان وژنه کړې وي او په دې سره داستان هم پای ته ورسیږي.

کله چې به په ناول کې د مینې صحنې ته ورسېدم؛نو نېغه به مې لینا سترګو ته ودرېدله، چې بیا به مانه د ناول لوستل پاتی و، دلینا په اړه به مې فکر کاوه او د هغې راکش کول مې د مینې مېدان ته لویه هیله وه؛ خو چې کله ناول دمیئن په مرګ پای ته ورسېدو، ټول فکر مې ځانته شو او ومې ویل، الله دې خیر کړي، چې د ملک د لور د ورونو ښکار زه ونه ګرځم او د غریب سړي د زوی په شان کانې پر ما ونکړي؛خو بیا مې ځان ته ډاډ ورکړ، ځکه ما په یو کتاب کې لوستلي وو چې « دهرڅه لپاره مبارزه مهمه ده او هغه څه چې ته

وغواړې؛ نو هغې ته به رسيږې»دغې خبرې ماته يو څه هيله راکړه او قانع شوم چې د الله څه خوښه وي هماغه به کيږي.
پاڅېدم او دوه رکعته نفل لمونځ مې ادا کړ، د لينا په باره کې مې ډېرې زارۍ الله ج ته وکړې، چې خدايه ! ته يې زما کړې، ته مې ورته ورسوې او زما په ژوند يې دبل چا نکړې؛ خو ددې دعاګانو رنګ ته په طمع وم، چې څه زيرى به ماته راوړي.
شپه نيمايي ته رسېدلې وه، سورت الملک، لس وروستي سورتونه او دخوب دعا مې پر ځان وويله، د خوب غېږې ته مې ځان وسپاره، لامې سترګې نه وې پټې شوې، چې ټليفون وټنګېده، په خوبولو سترګو مې د ټليفون د اوکې تنۍ کېکاږله او په خوبولي غږ مې وويل: بلې سلام عليکم !
اوففففف ! جان ! وبخښه چې له خوبه مې راويښ کړې !
ته دومره ژر ويده شوى يې، زه څه خبره وم، چې ته به دومره وختي ويده کيږې !
ورته مې وويل: ليونۍ ! ته خو يو ځل ساعت وګوره چې څو بجې دي !
اوهو جان ! داخو د شپې يوه نيمه بجه ده او ميئنان؛ خو د شپې خوب نکوي، ته څنګه ميئن يې چې ويده شوى يې، ياره نو !
ليونۍ !ته دې شپې ته وګوره او ستا دې خبرو ته وګوره ! !
هاهاهاها
ويې خندل او ويې ويل: ولې جان خپه شوې !
ورته مې وويل: نه ولې به خپه کيږم؛ خو شپه ده بې غمه وېده شه ! په دې وخت کې خلک خوبونه کوي او ته ټيليفونونه کوې او بل زه خو څه ميئن نه يم چې د شپې به خوبونه نه کوم ميئنه؛ خو ته يې چې خوبونه نکوې، خداى خبر شه، په چا به ميئنه يې.
ويې خندل او راته يې وويل: په تا ميئنه يم ځکه ستا په ليدلو مې د سترګو نه خوبونه تښتېدلي دي.
اوهو ! ما درته څه ويلي دي، چې زما دلاسه دې خوبونه نشته؟
نه، تا راته څه ندي ويلي؛ خو زه مې له زړه سره څه وکړم، هميش رانه تا غواړي؟

خو زړه ته دې وو ایه چې دا له مانه مه غواړه !
ښه زه به یې همدا اوس ستا په مخکې زړه ته وو ایم، چې زړه دا د خوږو او پستو خبرو لرونکی ځوان له مانه مه غواړه !
هاهاهاها
داسې سمدستي خبره کله زړه مني، چې ته یې ورته اوس وایې !
کله چې وېده کېدې بیا له ځان سره په دې اړه سوچ وکړه، کېدای شي د حل لاره ورته پېدا کړې او زړه دې له ما صبر شي.
ای جان !
څه وایې، همدا اوس چې مې تاته د زړه خبره وکړه زړه ته مې وویل دا ځوان له مانه مه غواړه؛ خو زړه یې نه مني کنه، راته وایي چې دا هستي د لاسه ورنکړې، که ور دې کړه؛ نو بیا به یې ډېر ارمان کوې.
په غوسه مې ورته وویل: نورې خبرې بس کړه ! ټلیفون بندوم ځکه شپه ده او زما د لاسه دا د مینې خبرې نورې نه کېږي، ځه ! خپل کار کوه.
خیر دی کنه جان ! زړه مې چوي، دومره راته وو ایه چې مینه درسره لرم.
نه ولې ته ټوک یې، چې تاته به زه د مینې داجمله وایم، ته خو لیونۍ شوې یې، دا خبرې له بل چا سره وکړه ! زه دې خبرو ته وزګار نه یم.
خو خبره نه وه داچې کومې خبرې ماته کوي، داخبرې ما ټولې لینا ته په خطونو کې لیکلې وې، ځکه دهغې جادویي ښېرې خاوندې د لاسه؛ خو زما خوبونه حرام شوي و او د سیلۍ خوبونه زما د لاسه نه و.
زه په دې سور بور نه پوهېدم، چې زه اوس کومه لار غوره کړم، زما په زړه کې ټوک ګرځي او د چا په زړه کې زه ګرځم، زما د زړه په ماڼۍ کې لینا ګرځېدله او د سیلۍ په زړه کې زه ګرځېدم.
سیلۍ وګټله او ما بایلوده، ځکه سیلۍ د خپلې مینې اظهار په خپلې خولې وکړ او اوس یې هم غوښتونکې ده؛ خو تر اوسه ما لینا ته په ښکاره توګه د مینې اظهار ونکړ، ځکه ټول مې د لیکونو پرمټ ورته خپل د مینې اظهار کړی و، چې تر اوسه د هغې له خوانه ماته د هو ځواب نه و راکړل شوی، ما لینا غوښتله چې خپله یې کړم او سیلۍ زه، له راتلونکې ژونده خبر نه وم، چې زه

به يې ګټم که سیلۍ، زه به لینا لاس ته راوړم که سیلۍ به ما د خپلې غېږې بند یوان کوي.
ښه جان! ماچې کوم خط درلیږلی و، هغه دې ولوستو؟
ورته مې وویل، هو ومې لوستو، هسې ځان په ما تاوانوې که څنګه؟
هو جان! غواړم ځان په تا تاوان کړم؛ خو چې کله به دربانديې تاوانېږم؟ زه هغې ورځې ته په انتظار یم.
ګوره ګرانې! بس دی نورې داسې خبرې مکوه! خپه کېږم، ځکه چې ته هغه څوک یې، چې ما له تاسره مرسته وکړه او ته زما د مرستې په بدل کې اوس ټول ځان زما په واک کې راکوې، دا ښه کار ندی.
جان!
څه وایې، جان دې له تا قربان شي هاهاها نه قربان دې نشي، زه دې درنه قربان شم.
ما درنه په لیک کې یو سوال کړی و، د هغې ځواب دې څنګه کړ، اوس به یې راکړې کنه؟
هو! درکوم یې، ماته مې مور په وړکوالي کې شیدې راکړې وې، سوال دې ځواب شو؟
نه شیدې به نه وې ګوره!
نو څه شی و، چې ته وایې شیدې نه دي؟
ستا په نظر څه شی دی؟
زما په نظر شات به وي، چې خبرې دې خوږې دي، څوک پرې نه مړېږي!
ښه که مړېږي او که نه؛ خو نن پرې ته ښه مړه شوې، کېدای شي د سهار چای ته هم اړتیا ونلرې، ځکه زما په خبرو به مړه شوې یې.
وېې خندل، نه یم مړه، خیر دی رښه مې مه! ځکه ستا رټل مې نوره هم اړه کوي چې خبرې درسره وکړم.
ښه ګرانې! خبرې ډېرې زیاتې شوې، نور دې په سر را درد کړ پاتې ښه شپه ولرې،
دالله پامان!
ای جان! تاته هم ښه خوب ونه، مینه دې کمه مشه او الله دې زما نصیب کړه.

د ټليفون اړيکه مې پرې کړه، ومې ويل راشه که تو ديږې.
رښتيا تود شوم، د مينې نړۍ مې بيا راوپارېده، بيا مې د لينا ښکلې څېره ترمخې انځور شوه، په خيال کې مې د هغې په زلفو کې ګوتې وهلې، د خپلې غېږ بنديوانه کړې مې وه، له پستو اننګيو نه مې ورته مچکې اخيستې، د خوندونو په درياب کې لاهوو وم په سرو ګلابي شونډو يې غوښتل خپل غچ له ما واخلي، سره ژبه يې په خپلو شونډو تېره کړه، بيا يې ځانته مخامخ کړم، پر شونډو يې راته پستې شونډې کېښودې، د خړپ سره نور په ځان نه يم پوهه شوی، چې ايا خيال مې ليدو او که دا هرڅه رښتيا و؛ خو نه دا هرڅه رښتيا نه و، ځکه دا هرڅه د مينې د خبرو دلاسه و، چې دغه صحنه يې زما ترسترګو را انځور کړې وه.
ورځې تېرېدې او هره ورځ به په هماغه ټاکلې ځای کې د لينا ليدو ته ولاړ وم، چې زه يې هلته په ځان مېئن کړی وم.
زما هم نور څه کار نه و، بس ښه وظيفه مې همدا وه، چې لينا به سهار ښوونځي ته تلله او ما به له مخکې نه ورته د عسکر په شان لاره نيولې وه او چې کله به يې د ښوونځي د رخصتېدو وخت راغی، نو بيا به مې هم هغه ځای ته ځان ورسوو، چې دابه کور ته راتلله. بلا اخره د لينا زړه هم د وخت په تېرېدو سره نرم شو زما د مينې نړۍ پرې زوروره شوه د خپل راتلونکي ژوند لپاره ورته زه ډېر مهم ښکارېدم؛ نو ځکه يې اوس له مانه مخ نه اړوو.
په ښکارګرو تورو سترګو به يې هره ورځ دوه ځلې راته سترګک وهه، چې دغه د سترګک خبره ان تر ليکونو ورسېده، د خپلې مينې په جال کې مې ښه لوېدلې ولېدله، ځکه چې دا څو کاله مې د هغې په لاس ته راوړلو تېر کړل.
بلااخره اوس د هغې له خوانه به هره ورځ ماته يو يو ليک راته، چې زما نوره وزګارتيا يې ختمه کړه او هغه خبرې مې رښتيا کېدې دکومو چې زه غوښتونکی وم، لينا مې اوس په زړه ښې لوبې وکړلې، د هغه وروروستي ليک ځواب يې راته ليکلی و، کوم چې ما په هغه شپه ليکلی و،چې زه پيښور ته د درس ويلو لپاره تلم، لينا په خط کې ليکلې وو:

سلامونه او مینه... !!!

سلام ځکه درته لیکم، چې ډېر سلامونه دې راته په لیکونو کې لیکلې دي، مینه مې ځکه لیکلې، چې دمینې په الفاظو دې زه دومره درنده تللې او ستایلې یم، چې هیڅکله به سپکه نشم او ستا د ښکلي رنګه خطونو پور به زه ځکه ادا نکړم، چې رنګه قلمونه نلرم او نه به یې هغه شان ښکلي ولیکلی شم؛ خو ستا دلیکونو شمار زما له حسابه وتلې خبره ده او نه یې شمېرلی شم.

لومړی لیک چې تا راته لیکلی و، ځکه مې ټوټه ټوټه کړ چې په مینه نه پوهېدم او نه مې مینه پېژندله، چې مینه څه ته وایي؟ ښه دې کړېدي پر ما میئن شوی یې او زه به هم له نن نه پس تاسره مینه کوم، ځکه ما په ژوند کې له خدای ج پیغمبرانو مور او پلار او کورنۍ نه بغیر له بل چاسره مینه نده کړې او که کوم یې؛ نو ته مې د زړګي سر یې او له تاسره مینه کوم.

خو ای !

ته مې دا خبره واوره، تا ویل زړه نلرې او نه پکې رحم شته، زړه لرم خو ټولنه پښتنه ده رحم پکې شته، خو انتخاب پکې نشته؛ نو ځکه به مې تاته ځواب نه درکوو اوس چې ځواب درکوم دکوټې څلور دېوالونه دي د ګروپ پرځای مې ځان ته لاټین لګولی، د مینې د الفاظو پرځای مې درته د کرکې الفاظ لیکل شروع کړل؛ خو بېرته مې وران کړل په هره ورقه کې رانه زیاته چټلې کېږي، ما ویل که دکرکې الفاظ دې له ما زړه توري کړي او په خپل حال مې پرېږدې، نو ښه به وي؛ خو چې ستا د خطونو دردونکي توري مې را یاد شي له سترګو مې اوښکې څڅوي پر بدن مې د کمزورۍ حالات واکمنېږي، زړه مې څړیکې وهي او ستا مینه رانه غواړي، تا په هنري الفاظو کې رانغاړلې یم؛ خو زه به دې د غېږې بندېوان کړم، چې ارمان دې درپوره کړم او د لاس په مړوند به دې د مینې په نړۍ کې ویده کړم، چې زه به دې په تورو وېښتانو کې ګوتې وهم او ته به مې په څنګل خوبونه کوې؛ خو نور اجازت نشته ځکه تا په یوه لیک کې له ماغوښتلی هم و، هغه به کوم وخت وي، چې زه ستا په څنګل خوب وکړم او هغه وعده به دې زه اوس درپوره کړم؛ خو نور الله مهربانه باچا دی دوخت انتظار کوه چې څه به کېږي.

اوس له تا یوه هیله لرم، چې ته خپلو نورو زده کړو ته ادامه ورکړه او خپلې زده کړې پای ته ورسوه.
چرته چې دې مخکې د تللو تکل کړی و ، هماغه ځای ته لاړ شه او نور زما په اړه سوچونه مکوه؛ ځکه زما یوه خبره ده او پخپله خبره به تر پایه ودرېږم.
ګرانه ترڅو چې ماته د ورکړې لمبر رارسیږي، هغه به بل وخت وي، ځکه له ما مشرانې شته دی او ته په دې اړه سوچونه مکوه، چې زه به دبل ناوې جوړه شم او نه مې دبل ناویتوب خوښیږي.
ښه نو نوره ډېره نه خوږېږم د اوس لپاره همدومره مینه بس دی بیا نور ورانېږي.
ځکه د هغه سندرغاړې سندره درته ډالۍ کوم چې وایي:
چې په مـا میندې ځه اوس ګـــــرځه لیونی !
چې په ځان نه پوهیدې ځه اوس ګرځه لیونی !
په ډېره مینه چې ته څوک یادوې هغه !

لیک مې په بیا بیا ولوستو ، هر لفظ یې زما په زړه کې منډې رامنډې وهلې د هغې مجسمه به مې تر سترګو انځور شوه د خط لیکل به یې رایاد شول چې دا توري به یې د قلم له ژبې څنګه د کاغذ پرمخ کېنښلي وي ایا دا ټول هنر به د قلم وي او که د لینا د زړه به وي؟
بس په همدې خبرو خبرو له ځان سره بنګېدمه، چې ټلیفون مې وشرنګېده ملګری شبیر مې و ، ویل یې الیاسه !
-چرته یې ؟
-کور کې یم
-واده ته نه ځې
-واده چرته دی؟او دچا دی؟
-وه هلکه د ملګري اتل واده دی کنه په جلال اباد کې.
ورسره مې ومنله شبیر خپل موټر ته کېناستو دوه نور ملګري جعفر او رشید هم راسره ملګري شول.

په ګډه مو د جلال اباد په لور مزل پيل کړ، بنډار ګرم وو په موټر کې ټوکې ټکالې ښې ګرمې روانې وې، موټر د څوکۍ ولسوالۍ امنيتې پوستې سره تالاشي شو، ښه جانانه موسم و، کنړۍ سيند ښه په مستۍ سره غړمبېده ګرد چاپېره غرونه او بيا د ملګري اتل د واده خوشالي هريو سم نڅول ځکه اتل خو په ملګرتيا کې سم اتل و.

موټر سپين جومات تر شا پرېښود، جعفر غږ کړ، وه هلکانو نورې ټوکې واده ته پرېږدئ، بيا هلته تکرارې ټوکې خوند نکوي؛ خو رشيد نه قرارېده کله به په ماپسې لګېده او کله به په جعفر پسې.

شبير هم د موټر په ايکسليټر پښه ورټينګه کړه او ټيپ ته يې د بريالي صمدي کېسټ ور دننه کړ

اوس نو د بريالي صمدي په غږ ګرمې موسيقۍ په موټر کې ټول پر نڅا راوستل، له يوې خوا واده ته تګ او بل طرف ته د ملګرو بنډار ټول په خوشالۍ راوستلي وو.

چې دې سندرې بيا په رشيد سم پيريان راوستل او هاهو يې جوړ کړی و.

عشق ليونی کړمه ښکلې مې جانان دی

ګرځم ليونو سره خبرې مې ګرېوان دی

خو زه يې بلې نړۍ ته بوتلم، لينا يې رايادہ کړه او د هغې په سوچونو کې ډوب لاړم، شبير غږ کړ هلکه څنګه سوچي شوې؛ خو رشيد او جعفر چکچکې او شپېلي وهل موټر يې د چغو د لاسه په سري غر غر راخيستی و، چې له نور ګله هم راواوښتو په سرک تېرېدونکو موټرو او پياده کسانو به مو موټر ته کتل او له ځانه سره به يې څه ويل، چې خامخا به يې په خولو کې دا الفاظ اړول را اړول چې دا له څه قسم خلک دي، چې ډمتوب يې شروع کړی دی، بلاخره د ماښام خړه لګېده چې په بهسودو پله تېر شو او سيده د مخابراتو چوک باندې د ښار زړه ته رادننه شو.

د جلال اباد ښار په رنګا رنګ رڼاګانو پوښل شوی، ټول بازار کولاو وو موټر مو د ډنډ غاړې ته ننوېستو د واده والا ملګري کورته مو سودا واخېسته.

ببرته په چوک کې راتاوو شو او د بنګړيوالونو کوځې کوز سر سره مو تازه مېوه د واده کورته هم را ونيوله د موټر مخه مو د قصبې په طرف کړه د ميا

اسلم له پلازې تېر اطلاعاتو کلتور ریاست مو ترشا پرېښود او د مستوفیت له څلور لارې چې تېر شو اتل ته مو زنګ ووهه
اتله بچیم موږ قصبې ته راداخل شوې یو نور نه یو بلد ، چې ستاسو کور چرته دی، هغه پته راکړه او راته یې وویل چې د میاصاحب کلي ته راشئ
واده مو ښه په خوشالۍ سره تېر کړ د تنګ ټکور پروګرام هم پکې نېول شوی و ، د محلي سندرغاړو ډله یې راوستې وه.
ځان سره مې وویل کوم وخت به وي، چې زما او دلینا واده ته هم له بیلا بیلو ځایونو ملګري او انډیوالان راشي واده مو تېر کړ او بېرته مخ په کنړ شو.
ورځې او شپې تېرېدې دمینې نړۍ نور بیخې له دې نړۍ نه بې برخې کړی وم، دکور ټول لوی او واړه راباندې خبر شول، هریو به راته نصحیتونه کول او ویل به یې، چې له دغې جنۍ کرار شه ځکه هغه د ملک لور ده او ته بیا یو عادي کس یې، ځکه هغوی په دې کلي کې لور نه ورکوي او نه به یې تاته درکړي.
مابه ویل ولې زه له چانه کم یم څه، پلار مې هم په غوسه و او ویل یې ځویه ته اوس ښځې ته اړتیا نلرې، چې زه تاته ښځه وکړم درسونه دې پای ته ورسوه او بیا به درته دښځې غم کوو.
پلار مې دکورنۍ د ټولو غړیو سره مشوره کړې وه او بیا یې زه د پیښور تګ ته چمتو کړم، که څه هم زما زړه نه کېده؛ خو هغوی زورور شول ځکه اوس له ما سره لینا پوره جوړه شوې وه، هره سهار په اوه نیمو بجو او هره غرمه په ۱۲ بجو به مو سره د سترګو په اشارو خبرې کولې، کله چې به یې د اشارو خبرې خلاصې شوې، یو مینه ناک سترګک به یې وواهه تور باڼه به یې د سترګو له یو بل سره وجنګېدل، له ځان سره به موسکۍ شوه او د اسپې په شان قدمونه به یې شروع کړل، چې د ښوونځي سینډلو به یې له ځمکې ټک ټک پورته کاوه، تر هغې به مې ورکتل، چې له سترګو به مې پناه شوه او د هغې له تګ وروسته به مې بیا هغه صحنې په مخکې تکراریدې، چې کومې به مخکې تېرې شوې وې.
د پلار غوسه مې ورځ په ورځ زیاتېده، اخر یې مجبوره کړم، چې په زور مې ولیږې، ځکه خبر شوی و ، چې زوی مې راته په کلي کې نوم بد نکړي او د پلانکي لور؛ خو د غټې کورنۍ ده هسې نه چې کورنۍ یې خبره شي او بیا به

د دواړو کورنیو ترمنځ د ښمني شروع شي؛ نو ښه یې دا وګڼله چې په سبا ته مې له کوره رخصت کړي، ځکه هره ورځ به ما دکور له کارونو ځان پټوه او تل به مې سترګې هغه ځایونو ته نیولې وې، چې په کومه لار به لینا تېرېدله او د هغې دیدن به مې کوو، مایې دیدن نشو قضا کولی او که مې قضا کوو، نو بیا به ورځ راباندې ښه نه تېرېده.

د شپې مې ورته بیا لیک ولیکه او داسې دردونکي الفاظ مې پکې انځور کړل، چې دچپ لاس ځینې رګونه مې په ستنه ووهل او په لیکل شوي لیک مې یو، یو څاڅکی وینه وڅڅوله، چې د هر زخمي شوي ځای څرېکو به هغه رایادوله او دامې ارزو هم وه چې کله مې د لاس زخمونو ته پام کېږي؛ نو هغه به مې نېغه مخې ته ودرېږي.

لیک مې داسې ولیکه !

زما زړه او زما د زړه په نړۍ کې لوېدونکې مینې تاته مې دومره سلامونه چې، سلام، سلام او سلامونه درته لیکم او ختمېږي نه او ته په وعلیکم سلام، سلام، سلام باندې شونډې پرانیزې او بېرته دې شونډې له یوې بلې سره لګېږي او دغه خوند زه دلته احساس کړم او د خوشالۍ نه ټوپونه ووهم.

ته پوهېږې کله چې دې لیک تر ما راورسېد؛ نو ما داسې احساس وکړ، چې زه په خوب کې تا وینم او ته راته هغه څه وایې، چې تا په لیک کې لیکلي وو.

زه ډېر زیات خوشاله شوم، چې بعد له څلورو کلونو وروسته دې لومړنی لیک تر ما راورسېد او اخر هم قانع شوې، چې د زړه درد څه ته وایي؟

مینه څه ته وایي؟

او په یو چا مینېدل څنګه وي؟

ښه نوچې ته پوهه شوې یې، لکه ټوله دنیا چې پوهیدلې وي؛ خو زه له تا مینه غواړم ! ځه له تا دژوند ملګرې جوړول غواړم او ځه تا په خپل څنګ کې د ټول عمر لپاره لیدل غواړم.

داچې زه سهار ته پخیر پیښور ته ځم، نو دا لیک مې ستا د لیک په جواب کې ولیکه، چې بیا به کله زه ستا ښکارګرې سترګې ګورم او کله به ستا په څنګکل سر ږدم.

هغه ارمان به مې ته راپوره کوې، چې ویل دې هغه ارمان به دې زه پوره کړم، چې تا یې رانه غوښتنه کړې وه او ته به مې په څنګل سر ږدې؛ خو کله چې په دې لیک کې ستا دنوم په تورو مې قلم وربرابر شي؛ نو نېغه مې مخې ته ودرېږې او راته وایې، چې او هو جان! صبر چې لا وخت یې ندی دا جمله مه لیکه.

بنه یا لیکل شوې او یانه لیکل شوې؛ خو چې هغه خبره دې له یاده ونه وځي.

اوس دومره درته لیکم، چې زه سباته هغه ځای ته ځم، چې ته یې هم غوښتونکې وې؛ خو هغه سندره چې دې د لیک په پای کې لیکلې وه:

چې په ما میندې ځــه اوس ګرځه لیونی !
چې په ځان نه پوهېدې ځه اوس ګرځه لیونی !

دغې سندرې زه یو څه اندېښمن کړی یم نه، چې بې وفایې راسره وکړې دتل لپاره مې پرېښږدې او د هغه لیک په لیکل شویو جملو مې ونه غولوې.

لکه قیس خان چې وایي:

اخـــــر ولې بې وفا شوې
داپه څـــــه رانه جدا شوې
ما خو ټول ژوند ستا په نوم کړ
او تــــه لاړې دبل چــا شوې
په مینه ستا د لاسته راوړلو په هیله ستا الیاس !

***

په سهار مې ځان تګ ته چمتو کړ، د کورنۍ له غړیو مې خدای پاماني راواخیسته او هغه ځای کې ودرېدم، په کوم ځای کې چې به مې دلینا انتظار کوو.

دا ځل دلیک په ورکولو کې ډېر توپیر و، مخکې چې به مې لیک ورکوو؛ نو یا به مې د چا په لاس ورته ورکوو او یا به مې هم د هغې مخې ته خطا کوو؛ خو داځل مې لیک د هغې په پاسته ورغوې کې ورکېښود، چې د لاس سره یې زما د لاس ټکربدل او ففففففففف! لکه په پستو مالوچو کې چې لاس کېږدم، د ظالم لور سمه پاغونده وه، چې د ځان طرف ته یې کش کړم ښکته او پورته

مې ورته وکتل لکه د هندي سینما وتلې لوبغاړې کرینه کپور، چې مې ترڅنګ ولاړه وي؛ خو نه دا کرینه کپور نه وه دا لینا کپور وه، چاچې زما په زړه کې ځاله جوړه کړې وه او زما د سترګو خوبونه یې حرام کړي و، ښه شیبه یې راله سترګو ته وکتل لکه خپل ځان چې پکې ګوري، ډېره نا اشنا صحنه وه، یو بل ته موکتل، د یوبل په لیدلو نه مړېدلو د هغې او زما په سترګو کې اوښکو منډې رامنډې وهلې بیا هم کوشه وه، زړه مو نه صبرېده له سترګو یې اوښکو پر مخ لیکې جوړې کړې ما ویل، چې څوک رانشي؛ خو الله ج پر موږ رحم وکړ او په کوڅه کې هیڅوک نه معلومېدل ښه وه، ډېره د مینې دردونکې شیبه وه، چې میئن د مینې له درده خبر و؛ خو معشوقه اخر هم د مینې درد وژړوله، ومې غوښتل، چې اوښکې یې وچې کړم؛ خو زما لاس یې پر خپلو سترګو پرېښود او خپل پاسته لاسونه، چې زما په سترګو کې اوښکې هم ځلېدلې زما په سترګو کېښودل.
اوښکې یې راوچې کړې د ښوونځی له بکسه یې لاسي د ستمال را وویست، خپلې اوښکې یې پرې پاکې کړې د ستمال یې ماته راکړ او راته یې وویل چې د مخ خولې به په لاره کې پرې وچې کړې.
نور دې الله مل شه ښه سفر ولرې دا روانه شوه او زه تر هغې په خپل ځای ولاړم وم، چې دا مې له سترګو پناه شوه.
موټر ته وختم مخ په جلال اباد موټر حرکت وکړ، له موټره مې لاس خپلې سیمې ته جګ کړ خدای پاماني مې ورسره وکړه، د هغې لاسي د ستمال مې سترګو ته ونیو او تر هغې مې سترګو ته نیولی و، چې په مخابراتو چوک کې موټر ودرېد او موټروان راته وویل، ځوانه ویښ شه جلال اباد ته را ورسېدلو.
له موټره ښکته شوم، په چوک کې تالاشۍ کې د تورخم لین مارسیډیز موټر ته پورته شوم، بیا مې هم سترګو ته د ستمال نیولی و، کله چې مې له سترګو د ستمال لرې کړ؛ نو موټر د غازي امان الله خان ښارګوټي له سترګو پناه کوو او د موټر په ټیپ کې دا ټپیزې غږېدلې
زمـــا د دواړو سترګو توره
خلاص به دې نشم له پېغوره
په عـــاشوقانو باندې تل وي تهمتونه

***

اوربل يې بيا په مخ راخور کړ

زمـــا يې زړه د دنيا تور کړ

ښکلي په ناز کاته کوي رنځور يې کړمه

***

د مارسيډيز موټر مزل د تورخم سرک او په عاشوقۍ کې د ټپو اوربدل بيا نو بيل خوند کوي، دوه بجې وې چې په تورخم کې له موټره ښکته شوم، هوټل ته ننوتم د غرمې ډوډۍ مې وخوړه د ماسپخين لمانځه وروسته د پيښور په موټر کې کېناستم او موټر مخ په پيښور حرکت وکړ.

په حيات اباد کې موټر د پاکستاني فوجيانو لخوا تالاشۍ ته ودرېد يو يو کس يې راښکته کوو او پوښتنه يې ترې کوله چې له کومه ځايه راغلی يې.

ماته چې لمبر رارسېده؛ نو له ما مخکې يو بل کس ته يې وويل، چې ځوانه ته د کوم ځای يې؟

هغه ورته وايي، چې زه خو د صوابۍ يم، ښه چرته تللی وی، سړي ورته وويل تورخم ته تللی وم بس ډېرې پوښتنې يې ترې وکړې اخر يې هم سړی راګېر کړ، نه ورسره شناختي کارډ و او نه ورسره بل څه کارت چې ځان پرې خلاص کړي ورته يې وويل، نه رښتيا ووايه؛ خو سړی ورته وايي، چې رښتيا وايم د صوابۍ يم.

پوليس والا ورته بيا وويل، ته چې کله چولې اخلې؛ نو څنګه چوله خرڅونکي ته وايې، چې چولې راکړه سړي پوليس والا ته وويل، چې ورته وايم د شل روپو چولې راکړه نه ويم غلت شوم ورته وايم به چې جي د بيستو روپو چولې کړه.

سړی يې غاړې ته کړ کله چې ماته لمبر راورسېد ؛ نو ما ورته وويل چې جي زه خو ستوډنټ يم او په پيښور کې د رحمان بابا په علاقه کې اوسيږم، څه يې راته ونه ويل، نوره سورلي هم موټر ته پورته شوه

په رينګ روډ کې د رحمان بابا له سټاپ سره کوز شوم او د خپل ملګري ځای ته مې ځان ورسوو.



په نيمه لار کې پاتې... www.samsoor.com صحت سمسور

شپږ میاشتې په پېښور کې
په پېښور کې مې شپږ میاشتې د انګلیسي ژبې او کمپیوټر کورسونه وویل، هر سهار ۷ بجې به کورسونو ته تللم او د ورځې دولس بجې به بېرته د خپل ملګري اطاق ته راتلم.
ملګری مې دکمپیوټري پروګرامونو انجینر دی ملوند نومېږي هغه به هم مرسته راسره کوله.
کله چې مې په شپږو میاشتو کې د کمپیوټر یو څو پروګرامونه له افیس نه نیولې ان تر فوټوشاپ، کورلډرا او هارډ ویر پورې پای ته ورسول؛ نو ایله د انټرنېټ له نړۍ سره هم بلد شوم.
خو لینا به مې له یاده نه وتله، هر وخت به د هغې د لاس د ستمال او زما په لاس کې شوي زخم رایادوله.
ما خپل لاس پخپله زخمي کړی و، دلاس له درده هم ډېر کړېدم، ډاکتر ته لاړم او دلاس د درد لپاره مې دوا واخیسته؛ خو د زړه له درد سره مې څه چاره نشوه کولای، ځکه د زړه درد ډېر زیات دردولم، نور هم دردونه یوې خواته او د زړه درد بلې خواته کړه، هغه دردونه به دوا ګانو غلي کړل؛ خو د زړه درد به په هیڅ شي هم نه کرارېده.
انټرنېټ ته به کېناستم په ګوګل ایرت کې به مې د افغانستان نقشه راواړوله او د جلال اباد ـ کونړ ترمنځ په غزیدلي سرک به مې کلیک وکړ او بیا به دغشي په واسطه مخکې تللم اخر به هم خپلې سیمې ته ورسېدم هغه کوڅې ته به داخل شوم چې په کومه کوڅه به،
زما د زړه سر !
زما ژوند !
زما د هیلو ترجمانه !
او زما دمینې نړۍ، ښوونځی ته تلله....
په هماغه کوڅه به ورسره زه د غشي په واسطه تر ښوونځي تلم، دهغوی د ښوونځي د تصویر لیدل به مې هره ورځ د انټرنېټ په مرسته کوو.

په ذهن کې به  مې ببلابېلې پوښتنې ګرځېدلې، چې اوس خو به يې لېسه رخصت وي، اوس به په لېسه کې نه وي، اوس به چېرته وي او همداسې نورې ډېرې خبرې، چې مابه تل له ځان سره کولې.
يوه ورځ به راباندې دکال هومره تېرېدله او بيا لا شپږ مياشتې د کانکور امتحان ته پاتې وې، د يکشنبې په ورځ به مو کورسونه رخصت وو.
ځکه د پاکستان د رخصتۍ قانون هم د غربي ملکونو په کردار راڅرخي، هره يکشنبه  به مو چکرې وهلې کله به د رخصتۍ په ورځ آرمي ستړېديوم، باغ ناران او همداسې نورو ځايونو ته تللو.
دا يکشنبه به مو نيت وکړ، چې «سر درياب» ته دماهي خوړلو لپاره لاړ شو مونږ پنځه ملګري وو، يو پکې ملوند هم و لاړو، ماهي پخوونکي ته مو د ۴ کيلو ماهيانو فرمايش ورکړ، نور مو له ځانه ماشومان جوړ کړل ثوک په اوبنانو کېناستل ثوک کيشتيو ته وختل، ښه ورځ مو تېره کړه خو دماهيانو خوراک د ټولو په سرونو درد کړ.
د شپې ۸ بجې وې چې خپل د اوسېدلو ځای ته راورسېدو، شين چای مو په پيالو کې واچوه او د داود حنيف دې سندرې ته مو ښه وطنی اتڼ شروع کړ چې:
دا غـرونه غـــرونه افغانستان دی
تاريخ يې معلوم په ټول جهان دی...
موږ هم ورته اتڼ شروع کړ، چې ښه ستړي شوو؛ نو بيا مو د خوب غبرګې ته ځان وسپاره ځکه نن ورځ ډېره زياته ستړې ورځ وه، ټوله ورځ مو د ريکشو او موټرو غرهار ماغزه خوړلي وو، ټول په وخت ويده شو ځکه هره شپه به مو تر ۱ بجې پورې مطالعه کوله؛ خو دا شپه په ۱۱ بجو ځملاستلو لامې سترګو پر خوب ورغلې وې، چې ټليفون مې وشرنګېده چې شمېرې ته مې وکتل
د افغانستان وه ومې ويل خدايه خير، چې کومه پېښه نه وي شوې، چې په نيمه شپه دا ثوک شو؛ خو ټليفون چې مې اوکی کړ له بلې خوا نه نرۍ ښځينه غږ راغی.
سلام! جانه بيخي دچا تپوس نکوې دا چېرته يې؟
وعليکم سلام ګرانې داته يې؟

هو زه یم کنه !
ښه ګرانې ته څوک یې ما خو ونه پیژندلې؟
اوهوو ! خود به مې نه پیژنې
ښه ښه مره لیونۍ ! ومې پیژندلې وبخښه سیلۍ ایسته هوا شې چې والوځې
دا څه قسم نوم یې درباندې ایښی دی سیلۍ او هوا !!؟
اوس که سیلۍ درته وایم نو یې خو سیلۍ(؟)
که هوا درته وایم څنګه به وي (؟)
ته چې مې په هر نوم یادوې اجازت دی
ښه ګرانې ! په سر مې درد دی خبره راته وکړه او که نه وي زه به سباته درته زنګ ووهم او بیا به خبرې وکړو.
جانه !
قربان وایه !
داسې وکړه چې زمونږ کره جرګه راولېږه
ای ! لیونۍ شوې خو به نه یې !؟
نه لیونۍ نه یم؛ خو ما پسې ډېرې جرګې او مرکې راځي، یو مې پکې د ماما زوی هم دی چې وایي، دا به ماته کوی
ښه تا یادوي؟( خود ما ـ یادوي)
چې تا غواړي خو ویې کړه کنه؟
د ماما زوی دې څه کار کوي؟ هغه د انجینرۍ پوهنځي د څلورم کال محصل دی.
اوهو انجینر صیب دی بیا خو دې مبارک شه !
او که ما یادوې تر اوسه زه لا په پوهنتون کې هم نه یم، په ما به څه وکړې؟
په تابه ! خو ته به مې د ژوند ملګری شې کنه.
زه مړې له مانه تېره شه او هماغه انجینر صیب صحیح دی.
هماغه وکړه، نوره کورنۍ مو څه وایي؟
ای ساده ګله !
هغوی وایي، چې یو خو هلک انجینر دی او پلار مې وایي بل مې خوری دی، پردی څوک ندی، ټول رضا دی خو یوه زه نه یمه رضا

هاهاها
چې ته ناراضه یې نو یې دې کنه !
چې د مور او پلار خوښه وي؛ نو بیا لور ته چا خوښه ورکړه.
بس زما لخوانه همدا اوس مبارکي درواخله ساده ګلې، چې ته په انجینر صیب کبر کوې.
ګوره الیاسه !!!
ولې مې ژوند تباه کوې !
ژوند دې نه تباه کوم ګرانې، زه خوشالیږم، چې د ژوند ملګرى دې یو انجینر جوړیږي، او زه خو نه انجینر یم او نه څه کوم بل کسبګر
عادي ځوان یم له نورو مې توپیر دادى چې زه خبرې ډېرې کوم
هاهاها
ښه که خبرې ډېرې کوې؛ نو زما هم په ډېرو خبرو خوښېږې او زه نه غواړم، چې زه دې د بل دکور ناوې جوړه شم، زه به یوازې ستا ناوې جوړېږم.
بد کوې چې زما ناوې جوړېږې !
بد ورته وایې او که ښه ورته وایې، زه پرته له تا ژوندى نشم پاتې کېدلى.
ولې نو ځان وژنې؟
هو داخبره مې واوره که ستا نه شوم د بل به هم نشم.
اوففففففف !
ګرانې ! افسوس ستا پر حال نورې داخبرې پرېږده، یو خو مې ملګرې هم وېده دې او بل نن ټول ستړې یو.
خیر که ستړى یې ویده شه؛ خو زما دا خبره واوره، چې زموږ ټوله کورنۍ رضا ده او د ماما زوى ته مې ورکوي، که چېرته یې ورکړم؛ نو خون به مې ستا په غاړه وي.
ولې ؟
ځکه که ما یو ځل د زهرو ګوټ تر ستوني تېر کړ؛ نو بیا به مې ارمان درشي.
هغه یوه ټپه هم ده
ارمان به هله زما درشي
بیا به ارمان راپسې وکړې نه به یمه

او جان !که کولی شې زر تر زر سبا ته جرګه راولېږه
اسویلی مې له ځان سره وکړ او ورته مې وویل اوس کار له وخته تېر دی
ځکه چې ټول ستا په ورکړې رضا شویدي، یو خو ستا دماما زوی دی او بل انجینر دی.
پدې وخت کې اوس زه نه ځایږم چې په تا دې جرګه وکړم
بس زما د ژوند ارمانه الیاس جانه نوره دې خوښه خپله !
دالله پامان !!
ټلیفون بند شو
خو زه یې له یو عالم سوچونو سره پرېښودم، ځکه سیلۍ له مانه نه وه خبره، چې ما زړه پر یو چا بایللی او تا پر چا وبایللو.
ته ځوک غواړې او زه ځوک غواړم.
ستا په زړه کې ځوک ناست دی اوزما په زړه کې ځوک ناسته ده.
هئ !؟ هئ !؟ نو لیونۍ
هغه متل به دې اورېدلی وي چې وایي،
یو خوا ډانګ دی او بل خوا پړانګ.
زه اوس په دوو خبرو کې حیران وم، هیڅ مې ځان ته مشوره نشوه ورکولی له ځان سره بنګېدمه، چې میرویس راوېښ شو او راباندې غږ یې کړ، هلکه ما ټولې خبرې واورېدې څه خبره ده؟ خو چې ښځه درته کوي خو وه یې کړه کنه.
دا نو اوس بېل غم شو، اوس میرویس ته خبرې وکړم او که ځانته دحل لاره ولټوم، میرویس ته مې وویل اشنا ویده شه سباته به بیا خبرې کوو؛ خو میرویس داسې شله انسان وو سم کلک راپورې وننښته هله ملګریه ! هره خبره وي راته ویې کړه، کنه وي چې اوس ټول راویښوم او ورته وایم، چې الیاس ته یې اوس له کور نه زنګ راوهلی و، چې ښځه مو درته وکړه او کنه وي ټلیفون یې تاسې وګورئ.
ورته مې وویل چوف شه ته؛ خو مې هوښیار ملګری یې ټوله کیسه درته کوم.
له سره مې ورته شروع وکړه او همداسې ورته لګیا وم، چې سهار ته حلیم غږ کړ، پاڅیږئ ملګرو لمانځه ته

لمونځ چې مې وکړ، میرویس مې خواته راغی ملګریه ! تا کیسه کوله او زه ورته ویده شوی وم، کیسه څه ده؟ لږه مې اورېدلې او نوره پاتې ده.
هئ !؟ هئ !؟ له ځان سره مې وویل راشه که تودېږې اوس به له دې شله نه ځان ځنګه خلاصوم.
خو څه ټوله کیسه مې ورته وکړه.
راته یې وویل، افسوس ستا پر حال باندې زه به درته دعا کوم، چې الله دې کامیاب کړه.
ما ورته وویل امین
خو ما د سیلۍ په خبرو هیڅ غوږ ونه ګراوه، ځکه هغه پر مامیئنه وه او د هغې کورنۍ د خپلې لور لپاره ور کس انجینرصیب باله. ځکه پښتنه ټولنه همداسې ده.
دلور او زوی خوښې ته مور او پلار نه ګوري، چې د لور یې ځوک خوښ دی او دزوی یې ځوک خوښېږي.
زما مینه خو له بل چاسره وه؛ نو ځکه مې پرېکړه نشوه کولی او دا خبره مې همداسې غلې پرېښوده.
له بلې خوا د کانکور امتحان هم په رانژدې کېدو وو او ماچې دا دومره وخت په درس ویلو تېروو نو لینا به مې بیخې له سترګو نه پناه کېدله، چې کله به رایاده شوه ښه شیبه به مې ورپسې وژړل او بیا به مې د هغې د لاس په راکړې د ستمال خپلې اوښکې وچې کړې ځکه یوشاعر وایي:
یوځـلې چې ځـــــوک زړه ته شي دننه
نه وځــي له زړه نه هغه نه وځي له زړه نه
رښتیا چې له زړه نه مې نه وتله او تل به مې ویل، چې خدایه ته یې زما کړې او ته مې ورته ورسوې.
خو زه هم د چا له زړه نه وتلم او د چا په زړه کې به مې لوبې کولې
همیشه به مې په غوږنو کې هیډفونې پرتې وې، چې له غمجنې او مینه ناکې موسیقۍ نه به مې خوند اخیسته.
په فوټو شاپ کې به دلینا په خیالي انځورونو جوړولو لګیا وم.

هره ورځ به مې دلینا ښېلاښېل، رنګه خیالي انځورونه جوړول او بیا به مې پرې په یولیډ او اډاب پرېمیر پروګرام کې پر تصویري بڼه سندره جوړوله.
شپږ میاشتې مې په پوره کېدو وې، ځینې کمپیوټري پروګرامونه مې هم زده کړل.
په وروستۍ شپه مې ملګرو ښه ګرم بنډار جوړ کړی و، ډېرې زیاتې ټوکې ټکالې مو سره وکړې، کله چې ټول ویده شول نو ماته له ډېرې خوشالۍ خوب نه راته.
ویل مې چې کله به سهار کېږي، څو پخیر خپل ګران وطن ته لاړشم او هلته هغه څوک بیا وګورم، چې په لیدلو یې زما زړه ټکور بده.
سهار چې مې له ملګرو سره یوځای چای وڅښه، له ټولو مې خدای پاماني راواخیسته.
ټول خپه معلومېدل، ورته ومې ویل، زه خو ژوندی سړی یم څه مړ خو نه یم، چې خپه کېږئ راپسې او بل ټلیفون یا انټرنېټ خو شته له یو بل سره به خبرې کوو.
کله ناکله تاسې هم تپوس کوئ او زه به یې هم کوم.
ریکشې ته وختم، له خوشالۍ مې زړه ټوپونه وهل، په حاجي کیمپ هډه کې له ریکشې ښکته شوم او د تورخم لین ټوډي موټر ته وختم همدا مې ویل، چې کله به تورخم ته پخیر رسیږم؛ ځکه دغه سرک هم کنډو کپر دی.
خو موټر چلوونکی هم چالاکه و، په دوو ساعتونو کې یې تر تورخم راورسولو په تورخم کې، چې له موټره ښکته شوم او دې غاړې ته راواوښتم، زړه مې ښېله هوا کوله نرې شمال مې د پیکي وینښتان یوې او بلې خواته اړول را اړول، ما ویل چې له ځانه مرغۍ جوړه کړم او د خپل هېواد له خوږې هوا نه خوند واخلم.
له ډېرې خوشالۍ نه په ځان نه پوهېدم، په چابکو قدمونو د جلال اباد موټر ته وختم، په تالاشۍ چوک کې له موټره ښکته شوم، پښې مې بوډۍ وې، په پیاده رو کې راخوشې شوم، د بایسکلونو له کوڅې چې تېر شوم، د زر ګرانو پر دوکانونو مې سترګې ولګېدې، ژر د یو زرګر دوکان ته ننوتم او یوه دانه دذسرو زرو ګوتمه مې هغې چا ته واخیسته، چاچې زما په زړه پاچاهي کوله.

نېغ دکنړ هډې ته لاړم، ګورم چې شبير ملګرى مې تيار په هډه کې ولاړ دى، سترګې يې پر ما لګيدې راغاړې وت، ستړې مشې مو سره وکړه هغې خپل موټر له هډې راوويست او مخ په کونړ روان شو.
له شبيره مې دکلي د حال پوښتنې کولې، چې ويل يې، تر اوسه خو خيرت دى. دکانکور د ازموينې په اړه يې راته وويل، چې درې ورځې وروسته امتحان اخيستل کېږي، په همدې خبرو کې وو چې له ښيوې بازاره واوښتو ورته مې وويل، په سر مې درد دى که چېرته دې کومه دواخانه په نظر درغله نو ودرېږه خبرې مو کولې، چې نور ګل راورسېده.
د سر درد ګولۍ مو رااخيستې يو دانه مې وخوړه يو څه مې ورسره حالات راښه شول هماغه و، چې موټر له څوکۍ ولسوالۍ تېر شو او د خپلې سيمې عطرين بوى مې حس کړ.
کله چې له موټره ښکته شوم، چاپيره رانه د خپل کور ماشومان تاوو شوي څوک وايي کاکا ستړى مشې، څوک وايي ماما ستړى مشې، څوک وايي لالا ستړى مشې، کور ته راورسېدم مور مې کلک په غېږ کې ونېولم، په دواړه مخه يې ښکل کړم، له سترګو نه مې بې اختياره اوښکې راغلې.
مور مې اوښکې راوچې کړې او راته يې وويل خير خو دى ولې ژاړې.
اه ! مورې ځار او قربان ستا له مينې د جنتونو سرداره شې الله دې زما په ژوند زما له سره مه کموه، اوښکې يې راوچې کړې د ډوډۍ يې راته وويل، ومې ويل مورې ډوډۍ مې په لاره کې خوړلې ده سر مې درد کوي، دم يې کړم شين چاى راته واچوو او د سر په کېمنډلو يې راته شروع وکړه، کله چې لږ څه راښه شوم، چاى مې په سر واړو له کوره راووتم او د کلي حال مې واخيست، هاغه ځاى ته لاړم، چې زه به د لينا په انتظار ولاړ وم.
ښه شيبه مې هلته تېره کړه په خيال کې مې دهغې څېره انځور کړه؛خو ومې نه ليده.

## (۲)
## دکانکور د ازموینې پایلې !

د کانکور امتحان مې ورکړ په ځان ډاډه وم، چې انشاالله خامخا به کامیابېږم،لومړی انتخاب مې دکابل ژورنالېزم، دوهم انتخاب مې د ننگرهار د ژورنالېزم کوډ خانې ته خیژوو ؛ خو پوی نه شوم په غلطۍ کې رانه د ننگرهار د کمپیوټر ساینس کوډ خانه توره شوه، هماغه وجه وه کله چې دکانکور د ازموینې پایلې اعلان شوې؛ نو زه د ننگرهار پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي ته په ۲۸۰ نمبرو بریالی شوی وم.

زه هم ډېر خوشاله وم چې دبې نتیجې له نومه خلاص یم؛ خو خپه هغه کسانو ته وم چې بې پایلې وو ، هغوی به له دې دولس کاله تعلیم نه څه گټه واخلي، پداسې حال کې چې لېسانسه وو ته هم دندې نه پیدا کېږي، څکه د حکومت له حاله خو تاسې ټول ښه خبریاست؟

څو ورځې نه وې تېرې ، چې لینا سره د خپله موره زما دکامیابېدو مبارکۍ ته راغله ډېر زیات خوشاله شوم، خپل کامیابېدو ته دومره خوشاله نه وم، لکه د هغې مور چې زما دکامیابېدو مبارکۍ ته راغله.

مور ته مې وویل ، باید په دې مبارکۍ کې ورته څه واخلم.

هماغه وو چې لاړم لینا او د لینا مور ته مې یو ښکلی کمیس په مبارکۍ کې له دوکانداره راونیو.

ورته ډالۍ مې کړ او زړه مې ایله یو څه ځای ته راغی، اوس مې له ځان سره دا کرل ربېل کول چې خدایه هغه به کوم وخت وي، چې لینا هم زموږ دکور غړې شي، څکه چې په هر لمانځه کې به مې یادوله.

په ټلیفون کې مې گوتې وهلې، چې د سیلۍ د پلار اکبر کاکا په شمېره مې سترگې ولگېدې زنگ مې ورته وواهه له جوړ پخیر وروسته مې د خپلې کامیابۍ نه خبر کړ.

هماغه وو چې په سبا د سیلۍ مور او پلار زما دکامیابېدو دمبارکۍ لپاره راغلل د سیلۍ پوښتنه مې ترې وکړه، چې مورې سیلۍ مو څنگه رانه وستله

هغې راته وویل، چې بچیه سیلۍ مو کور کې پرېښوده کور کې مو څوک نه وو مشره انګور مې د خپل پلار کورته تللې ده.
ښه، ښه ډېره ښه ده نور خو خیرت وو ، بلکل بچیه خیر دی، زیاته خوشاله شوم الله دې په هر ډګر کې بریالی لره.
مننه مې ترې وکړه ویې ویل، الیا سه بچیه سیلۍ مې ورکړه !
له خولې مې اه ! ! ووته
چاته ؟
پلار یې خپل خوری ته ورکړه.
ډېر ښه مو وکړل ځکه مور او پلار تل اولاد ته ښه ځای ګوري، چې په ښه ځای کې لور ورکړي او په ښه کورنۍ کې زوی ته ښځه وکړي.
مورې څنګه سیلۍ خو به خپه نه وي؟
ولا زویه چې ورکړې مو ده سخت کړاو کوي ټوله شپه وېښه وي، دوه موټې مخ یې پاتې شوی دی.
اوففففففففففف ! له ځان سره مې وویل، د سیلۍ د ارمانونو قاتله، رښتیا چې سیلۍ بیخې زما له یاده وتلې وه، شپه شوه ټلیفون مې راواخیست د سیلۍ دکور شمېرې ته مې زنګ وواهه ښه وو ټلیفون سیلۍ پورته کړ.
له سلام او روغبړ وروسته مې ورسره خبرې پیل کړې سیلۍ راته ویل، زه خو تا نه پیژنم چې ته څوک یې؟ که له چاسره دې کار وي؛ نو هغې ته به ټلیفون ورکړم.
له غږه یې وپیژندم نور یې هیڅ ونه ویل او ویې ویل تاته چې ما په کوم شپه ټلیفون وکړ، تابیا ښه مور زمونږ کره په جرګه راولېږله.
ددې خبرې جواب له ماسره نه وو ، ما ورته وویل ګرانې وخت ته اړتیا وه.
ښه چې تا وخت ته اړتیا لرله؛ خو زه په کور کې د چا نه خوښېدم.
خو خبره نه وه، چې ما د چا په اړه سوچونه کول او زه د چا غوښتونکی وم.
ورته مې وویل خیر دی ګرانې ! په ژوند کې دا تودې سړې راځي.
سیلۍ وویل، نور نه یمه خبره خو ته زما د ارمانونو قاتل یې همداسې ستا ارمانونه قتلېدل غواړم.
چغه مې کړه نا ، اااااا !

خدای دې نکړي مکوه

سیلۍ راته وویل، ښه داسې چغې چې ما وهلې او تاپرې هیڅ غور نه کاوه بس دومره درته وایم، چې تل په نیمه لار کې پاتې اوسه.

خیر دی ګرانې ! داسې مه وایه

سیلۍ وویل ښېرې نکوم؛ خو زما ارمانونه به څنګه شي؟

ما ورته وویل، خو پوره به شي کنه.

سیلۍ وویل اوس هسې هم نه پوره کېږي؛ خو دا واوره چې زما د ارمانونو پوښتنه به درنه په هغه جهان کې کوم.

سمه ده ګرانې ! ستا د ارمانو قاتل زه شوم؛ خو زما د ارمانونو قاتله به څوک وي؟

غلې شوه.

ورته مې وویل، ګرانې! اوس صبر ولره، خپل راتلونکي ژوند ته فکر وکړه، ته خو پېغله انجلۍ یې ښکلا لرې، ځواني لرې، ښایست لرې، غټه کورنۍ لرې او همداسې نور.....

سیلۍ وویل که هرڅه لرم؛ خو ځان ته یې لرم ستا راسره څه کار نشته.

الیاسه وروستۍ خبره مې واوره، په کومه ورځ چې زما ډولۍ ته راځې؛ نو په هغه ورځ به زما د ډولۍ پر ځای زما د جنازې کټ ته اوږه ورکړې.

لکه د شاداب بیت چې زما د مینېدلو ترجماني کوي:

دا که ډولۍ وي نو زه ستا ډولۍ ته نه ژاړمه

د خپل شهید ارمان رواني جنــازې ته ژاړم

خدای پاماني یې ونکړه او ټیلیفون یې بند کړ.

پدې خبره راباندې سر وچورلیده، بېلا بېلو فکرونو په مخه کړم، له ځان سره مې وویل، الله دې خیر پیښ کړي کله چې یې د واده وخت راځي؛ نو مورته به یې دا هرڅه وایم، چې خبره شي او د زهر خوړولو مخه یې ونیسي.

مور یې په دې خبره وه، چې د سیلۍ زه خوښېدلم ځکه سیلۍ کړاوو کاوه.

بلخوا لینا هم له ښوونځي فارغه شوې وه، لیدل کتل مو سره دومره نه کېدل، زړه مې ډېر کړېده، چې په ورځ کې که یې یو ځل هم ووینم؛ نو زړه به مې یو څه

ښه وي، دا سې کله کېدل، چې پيغله انجلۍ دې له کوره کوڅې ته راووځي او بيا دې له ماسره وګوري.
بله ورځ يې د يو ماښوم په خوله جواب راولېږه.
ويل يې چې الياس ماما عمه مې وايي زموږ کور ته ژر راشه
همدا سې ور روان شوم، کور ته يې ورغلم، لکه خوب چې وينم او دخوب په نړۍ کې دا هرڅه ګورم په لينا مې سترګې ولګېدې، چې له ځانه يې سمه ناوې جوړه کړې وه.
راغږ يې کړ الياس جانه ! څه ته ګورې.
زه بيا هم پر خپل ځای ولاړ وم ورارہ ته يې اشاره وکړه، وراره يې له کوره بهر شو دکور ور يې بند کړ او زه يې له ځان سره خپلې خونې ته دننه کړم.
کله چې ما او لينا خونې ته ننوتو او لينا ماته دروح افزا شربت په ګيلاس کې اچوو؛ نو له سره يې ځادر وښويده او د ملا د تير پر حيصه يې تيندک وخوړ او لاندې وغورځېد ، طلايي غټ اوږده پاسته ويښتان يې وځلېدل دنريو سرو شونډو له کرښو يې موسکا دخولې غاښونه ښکاره کړل، زر زر يې پر شونډو ژبه تېره کړه او ويې ويل؛ خو ځښه کنه ولې څه چل درباندې وشو، ما ورته وويل اول يې ته وڅښه بيا به يې زه وڅښم.
خو له ځانه خبره نشوه چې زړوکی يې له سره ښويدلی دی، چې پام يې شو نو زر يې خپل زړوکی په سر کړ او ويې ويل ښه چې دا سې ده؛ نو زه به ځان ته دا بل ګيلاس ډک کړم او لومړی به يې زه وڅښم ګيلاس يې ځانته ډک کړ د شربت ګيلاس يې په لاس کې ونيو ، خولې ته يې پورته کړ دلاس او ګيلاس ترمنځ يې خالي ګاه۹۰ درجې زاويه جوړه کړه په سرو نريو شونډيو يې، ګيلاس کېښود سترګو يې رپ وخوړ په غړپ غړپ يې شربت له ستونې تېرېده، چې د ستونې تېره هډوکی يې کله پورته او کله ښکته خواته ته.
له ځان سره مې وويل، ګيلاسه بختوره مزې دې وکړې، چې په سرو نريو شونډو دې هرڅوک ړدي، زر مې خپل شربت د هغې په ګيلاس کې واړوه اوهغه ځای ته مې خپلې شونډې برابرې کړې، چې په کوم ځای لينا شونډې ايښې وې، ترمنځ مو د مينې خبرې پيل شوې.

لینا خپله کوټه دومره ښکلې جوړه کړې وه، لکه زمونږ د دواړه د واده شپه چې وي، رنګا رنګ قیمتي عطرونه یې پکې شیندلي وو، عطرین لوګی ګرد چاپیره په کوټه کې تاوېده راتاوېده او د خپلې مینې پور یې غوښته، ما لینا ته کتل او لینا ماته کتل، دکوټې دکړیکو پردو ته مې پام شو چې ښکلې پردې ورته پرتې وې، مخ مې چپې خواته تاوو کړ د لینا ښکلی عکس د مېز پر سر نصب و.

تار تار ویښته یې په تندي راخواره وو.

ورته مې وویل لېنا داکوټه دې خپله ده ؟

وویل هو ! خود مې خپله ده ولې ستا څه خیال دی څه پردۍ به وي؟

ماخو دا ګمان کوو، چې دابه مو د میلمنو وي

هاهاها

ویې خندل ورته مې وویل؛ نو دې کې ده خندا څه خبره ده.

نه د زړه سره دا کوټه زما شخصي کوټه ده

ته راپاڅیږه کنه !

دا تخت وګوره چې تخت یې څنګه دی؟

زه چې کله کوټې ته راننوتم نو لومړی نظر مې پر تخت پرېوت؛ خو له ذهنه مې وتلی و.

لینا راته رایاد کړ او ویې ویل چې خپلې کوټې ته مې دا تخت اخیستی او دخیره سره چې کله زما او ستا واده وو نو تخت ته حاجت نشته.

ورته ومې ویل هئ !؟ هئ !؟؛ نو هغه به کوم وخت وي؟

یو دم لکه پیریان چې پرې راشي، کلک یې په غېږ ونیولم او تخت ته یې ګذار کړم.

څنګل یې زما د سر نه لاندې کړه او راته یې وویل، هغه ورځ نن راغله کنه چې ته یې ارماني وې

اوس مې په څنګل سر کېږده او بې غمه ویده شه ما ورته وویل، لیونۍ چې ستا په پسته څنګل مې سر پروت وي؛ نو ماته به څه خوب راشي ! لږ خو مې پرېږده چې سترګو ته دې وګورم.

لینا راته وویل ښه ډېر ورته وګوره، چې داسې ورځ بیا نه راځي.

غټې ښکارګرې سترګې وې کټل وو او د هغې چې څه خوښه وه هماغه یې کول؛ خو ماته اجازت نه وو او نه زما زړه غوښتل، چې زه دې غلت حرکت وکړم، هماغه وو چې د چپ لاس ګوتې یې زما پر شونډو تېرې کړې او بېرته یې خپلو شونډو ته ویوړې چپ یې کړې، بیا یې هم طاقت ونشو د ښي مخ په غمبوري یې راته چک ولګو داوففففففف ! غږ مې له خولې ووته راته یې وویل، وبخښه چې په ځان پوهه نشوم، ما ورته وویل څه څه خبره نشته ته خو وی څه خبره نشته؛ خو په مخ دې زما د غاښونو چاپ پاتې شو.

ورته مې وویل، ځه خیر دی لږ ساعت وروسته بېرته عادي حالت ته راځي.

په فکر کې لاړه ورته مې وویل لینا مبارک دې شه مخ یې زما طرف ته راتاوو کړ

او ویې وویل د څه شي مبارکي

ما ورته وویل د ښوونځی نه د فارغېدو

ویې ویل مننه ! زه خو وخته فارغه شوې یم او ته اوس مبارکي راکوې.

ناڅاپه یې له خولې ووتل ته خبر نه یې ما ورته وویل، نه د څه شي نه به خبر شم؟

لینا راته وویل زه هم په کانکور کې د خوست حقوقو پوهنځي ته بریالۍ شوې یم.

ښه بیا خو دې ډېر ډېر مبارک وي.

مننه زما ګرانه په تا هم له زړه خوشاله یم، چې کمپیوټر ساینس پوهنځي ته کامیاب شوی یې او هسې دې هم ځینې کمپیوټري پروګرامونه لوستلي دي اسان به درته وي، ما هم وویل، څوک چې درس وایي، هرڅه ورته اسان وي.

له ډېل بیتېه راپاڅېده ویې ویل،

اخ ! له ما خو سور کړی چرګ هیر و، زر پاڅېده سور کړی چرګ یې له اخباره را وویست، که هر څومره مې ورته وویل، چې زه یې نه خورم؛ خو په خپل خبره ولاړه وه او زه هم په دې خبره ورته کلک وم، چې راشه او څنګل دې زما د سر نه لاندې کړه او ویده مې کړه !

ویې خندل، بس ندی، موړ نشوې د څنګل په خوب باندې؟

ما ورغږ کړ کاشکې مړیدلی !

په سوال زاریو یې پیل وکړ، زه هم له تخته راپاڅېدم
چرګ یې په قاب کې کېښود، سلات او نور هرڅه یې له مخکې برابر کړي ول،
مخې ته یې راله کېښودل، ورته ومې خندل، ولې زه درته څه حیوان ښکارم،
چې دومره ډېر څه دې زما مخې ته کېښودل؟
نه ! حیوان راته نه ښکارې؛ خو انسان راته ښکارې
بیا یې و خندل، نه ته خو داسې ښکارې لکه بنیادم
ما هم ورته ډېر وخندل، په مخ مې له ډېرې مینې نه څپېړه ورکړه او ورته مې
وویل:
ای لیونۍ ! اوس په خبرو راغلې، دا څو کاله مخکې چرته وې؟
ویې خندل، خو هغه دڅو کلونو زور درته نن ورځ درښایمه چې پته دې
ولګیږي.
ورته مې وویل، ښه نو لینا ګۍ ! اوبه شته؟ منډې یې کړې لکه چې ترې هیرې
شوې وې، چې راغله دکوکاکولا بوتل یې په لاس کې نیولی و، زر زر یې ترې
یو ګیلاس راډک کړ، ماته یې راکړ ویې خندل، ولې مړې دې نښتې وه؟ خو
وړه ګوله پورته کوه کنه !
ورته مې وویل: نه لیونۍ ! مړې مې نه وه نښتې، بلکې تږی شوم.
ښه نو داسې ووایه ! اوس به درته اوبه راوړم لاړه او له اوبو یې شیشیز جیګ
راډک کړ چې اوبه پکې له ورایه ښکلې ښکارېدلې.
یو ګیلاس اوبه چې مې وڅښلې، لږ څه طبعه مې جوړه شوه.
ورته مې وویل، نور دې د ډوډۍ کالي درتوله وه، چې بې وخته ډوډۍ دې
راباندې وخوړه، نوره نشم خوړلی، ویې ویل، په زوره به یې خورې، ځکه چې
پیسې پرې تللې.
څومره پیسې پرې تللې؟ زر وایه چې در یې کړم، ویې خندل، ماته پته ده چې
هسې هم نوره نه خورې او ویل مې چې په دې چل درباندې ټول خلاص کړم،
خو ماته یې اسانه لار راځي.
ته کېنه مه پاځېږه !
ښه نه پاځیږم

پاتې ټوله غوښه به يې د چرګ له هډوکو رابېلوله او لکه ماشوم په خوله کې به يې راکوله.
هغه څوک چې څو کاله مخکې يې زما قواره نه خوښېده هغه اوس زما مخې ته ناسته ده او دومره مهربانه ده، چې د مينې يې هيڅ حد نشته.
له ډوډۍ خوړلو وروسته دکور بلې خونې ته لاړو، چې يوه غټه ايمپيټري پکې پرته وه لينا يې بټنه ور زور کړه او ماته يې وويل ته کېنه او نور سيال کوه.
چې څنګه کوچ ته کېناستم نو ايمپټري کې د نازيه اقبال په غږ دا سندره چالانه شوه نن مې د ماما دماما د زوی واده دی...
واده چرته و دلينا مستي وه، چې په رڼا ورځ يې نن ماته ښودله، ډوډۍ ما ډېره خوړلې وه او نڅا ورته لينا کوله چې خپله خوړل شوې ډوډۍ هضم کړي، لينا دې سندرې ته داسې تاوېدله، چې وينښتانو زړونه نړول تنکۍ سينې يې په تنګو کاڼن جامو کې نيغې راوتې وې، اوږدو لاسونو يې د نڅا ښکلا لا زياته کړې وه.
زما سندرې ته مې پام نه و، د لينا حرکتونه مې څارل، چې په دې کې سندره ختمه شوه او زما ترسترګو د لينا قواره ګرده ګرده تاوېدله چې يو دم يې راغږ کړ بيا دربانديږ څه وشو؟
ومې ويل خوب مې ليده.
د څه خوب لکه دا اوس صحنه! ماته د خوب ليده دي. په خوب کې يې مه وينه، نه رښتيا دا اوس ته وې لينا وويل ولې نو څوک وه؟
ګرانې! نوره مې هم دزړه انګړ ته راننوتې، له تانه دا غواړم، چې ما په نيمه لار کې پرېنږدې کنه نو د ارمانونو قاتله به مې ته يې.
ددې خبرې په کولو سره مې سيلۍ نېغه سترګو ته ودرېده، چې ويل يې زما د ارمانونو قاتله که چېرته زه ستا نشوم نو د بل به هم نشم او له خدايه دا غواړم، چې ته تل په نيمه لار کې پاتې شې.
لينا وويل نه خداي دې نکړي، چې زه ستا د ارمانونو قاتله جوړه شم، زه به تاته دومره مينه درکړم چې هره دردونکې شيبه به دې له ذهنه وباسم او د مينې په نړۍ کې به دې وساتم.

ورته ومې ویل ګرانې ! زما ژوند بغیر له تانه تېرېږي؛ غواړم چې نوره خپله هغه وعده پوره کړم چې له تا سره مې کړې وه او ته مې د ژوند ملګرې شې.
لینا وویل ګرانه ! لږ صبر وکړه لا ماته نمبر شته چې ماته لمبر رارسیږي؛ نو بیا به زه احوال درکړم، چې اوس دې خپله مور راولېږه.
ښه سمه ده ګرانې ستا به ومنم.
لینا راته وویل، زما دزړه سره که زما منې نور ناوخته شو د کورنۍ غړي مو کور ته راځي، ځکه هغوی زما د ترور زوی جوړو ته تللي دي.
کولای شې چې نور لاړ شې او د بل داسې وخت انتظار به کوو، چې په کور کې مو څوک نه وي او تاته به بیا احوال درکوم.
ما وویل ښه دا اوس چې دې نڅا وکړه دادې هغه د جوړو په خاطر وکړه، چې تا وویل د ترور د زوی جوړې مې دي.
هونو خوشالي کې څوک په ځان نه پوهیږي.
لینا وویل زه چې نه یم تللې؛ نو زه به ورته ووایم، چې ما خپله برخه خوشالي دلته په خپل کور کې وکړه، ورته ومې ویل، یره نو ډېره چالاکه یې.
ولې چالاکي دې نه خوښیږي؟
ولې مې نه خوښیږي
سم کار دې وکړ، ته راشه چې زه یې جایزه درکړم، ستا ددې چالاکۍ ،
د څه شي جایزه راکوې؟
د واسکټ له جیبه مې د سرو زرو ګوتمه راوویسته ورته ومې ویل لاس دې راکړه
لینا راته وویل په لاس مې څه کوې؟
ډېر تېوسونه مکوه له ځانه دې سمه خبریاله جوړه کړېده
اوهو خبریاله ولا خبریالي؛ خو مې ډېره خوښیږي ته له ځانه ژورنالېست نه جوړوې؟
ما ورته وویل نه.
نو ولې نه؟
ته به ژورنالېست شې او زه به ژونالېسته
سمه ده دا خبرې به بل وخت کوو؟

خو بل کوم وخت به داسې یا راشي یا نه
ای جینۍ ماغزه دې سر کې ډېر دي، چې دومره تپوسونه کوې
اوس به ځوک راشي بیا به هرڅه همداسې پاتې شي
سمه ده خپل دواړه اوږده لاسونه یې را وغځول، په لاس کې مې دګوتمې له
ډبي نه ګوتمه راوویسته
دګوتمې په لیدو یې اه ! له خولې نه ووته
ورته مې وویل، ولې نو څه وشول
منکر شوه نا داسې نشي کېدای، زه دا ګوتمه اوس نه په لاس کوم، کله چې د
کوژدې مراسم ترسره کېدل، نو بیا به یې هاغه وخت زما په لاس کړې.
ما هم ورته وویل، نه لینا هغه وخت بیا هرڅه اسان دي؛ خو اوس به دا زما په
خاطر په ګوته  کوې چې زه یې ستا په لاس ووینم، چې څومره ښکلې درسره
ښکاري او کنه
خامخا به ښکلې ښکاري چې تا راته راوړې ده.
او بېرته ورته ګورې هم.
زر یې خپل ښی لاس راوغزوه، ماېې هم د ښي لاس خپره په خپل لاس کلکه
ونېوله او دقچې ګوتې پسې ګوته کې مې ورله ګوتمه دننه کړه
له دغې صحنې مې بلا خوند اخیسته، چې دکور ور ټک ټک شو
او لینا راته وویل، چې ته زما کوټې ته لاړ شه هلته څوک نه راځي
چې ور یې بېرته کړ وراره یې وو او ویل یې، چې عمه پلار دوی مې را روان
دي
لینا په منډه ماپسې راغله، کلکه غاړه یې رانه واخیسته، اننګي یې راته
مچي کړل او نور یې له کوره رخصت کړم.
وختونه تېرېدل زما او دلینا مینه داسې حد ته ورسېده چې جداکېدل یې په
عمر هم ډېر مشکل کار وو بغیر له مرګه که مړه شوای؛ نو له یو بله به جدا خښ
شوی وای؛ خو په ژوندوني اوس زما او د هغې ترمنځ د مینې تار ښه کلک و.
لینا چې به کله له ماسره مخامخ شوه؛ نو کلکه غېږه به یې رانه واخیسته او
ویل به یې، چې زړګیه له تا بغیر مې ژوند نه تېرېږي او ته مې د زړه سر یې.

کله ناکله به یې په ټوکه کې دا پوښتنې هم کولې، چې زما خوږه قندولکه له تا
زار شم تعویذ خو به دې راباندې نه وي کړی، چې همیش مې ستا یادونه خوب
ته نه پرېږدي او بیخي مې هره شپه مخې، مخې ته کېږي ربښتیا راته ووایه
ای لینا لیونۍ !
څه وایې الیاس لیونیه !
ښه لیونۍ که دومره تکړه یې زما تقلید مکوه !
- د څه شي تقلید ؟
- زه چې درته د لیونۍ نوم اخلم؛ نو ته ولې لیوني وایې؟
لینا وویل، ښه د نن نه پس به زه درته مطلبي وایم، چې څنګه یې مطلبي اشنا
- خوله به ستا پرې ستړې کېږي، زما خو به نه ستړې کېږي
- ښه که تا د جان غږ کوو نو زه به درته د قندولک غږ کوم
- که تا دلیونۍ غږ کوو نو زه به درته د مطلبي اشنا غږ کوم
- څنګه یې مطلبي اشنا ارمان دې پوره شو او کنه
- نور ارمانونه خو پوره شوی دی؛ خو یو د سرې ډولۍ ارمان پاتې دی، چې دا
به کله پوره کېږي.
- کله چې زه ستا په نوم شوم؛ خو بیا به پوره شي او کنه شوم.
په خبره کې یې راولوېدم ورته مې وویل، لیونۍ چپ شه، چې نوره مخکې
لاړه نشې زه پوهه شوم.

## (۷)

## د محصلۍ ژوند

له کوره چې مې خدای پاماني راخیسته مور مې راله په سر قران شریف ونیو، کوتې ته یې دننه کړم او بیا یې راپسې اوبه وشیندلې ډېرې دعاګانې یې راته وکړې.

مهرباني مور مې وویل، ځویه خپل مونځ او اودس په خپل وخت په جمع سره کوه، له کوره را ووتم هر یو ملګري راسره مخه ښه کوله

ورور مې له مخکې نه بستره د غواګۍ په ډاله کې اچولې وه، موټر کې کېناستم او هغه شیبې مې رایادېدې، چې ما او لینا به هر ماښام له یو بل سره د مینې په خبرو تېرولې.

د جمعې په مبارکه ورځ، چې به څوک نه وو بیا به مو پر ښېغمه زړونو دیو بل په مړوندونو خوبونه کول، ښه وختونه وو او تېریدل خو زه یې ډېر ارمانجن وم.

کاشکې داسې وختونه بیا راشي، چې د یو بل پر مړوندونو خوب وکړو په همدې خبرو خبرو کې و، چې موټر د شیرزي لوبغالي مخې ته ودرېد.

بل ملګری چې په ګډه مو له مخکې نه اطاق په کرایه نیولی و، خپلې بسترې مو د تبلغیانو په شان څنګ ته واچولې او د خان محمد کنړي د مارکېټ ځلورم منزل په یو اطاق کې مو وا ړول، د نورو خوراکي توکو پسې لاندې ښار ته راکوز شوو، سودا مو واخیسته په ټول اطاق کې ۵ نفره ملګري شول، ټول وطنداران وو، ښه و د محصلۍ ژوند و روان و.

د پنجشنبې په ورځ چې څنګه له پوهنتونه رارخصت شوم، سیده د کنړ هډې ته او بیا کور ته لاړم، په ماښام د لینا د کور په خوا وځېدم هغې راته وویل چې دا څو ورځې چېرته وې، زما خو لارې ته سترګې په کتلو کتلو سترې شوې؟

هئ !؟ ګراني ستا له سترګو نه ځار شم ولې خبره نشوې؟

له څه نه به خبره شم؟

له مانه خبره شه کنه، ښه نو په تا څه شویدي، په ما هیڅ هم ندي شوي.

ای جان !

څه وای قربان !
ښه خبره دا سې ده، چې زموږ پوهنتون شروع شوی دی او تللی یم ننګرهار ته
دا خودې ډېر ښه کار کړیدی
جان ولې ته پوهنتون ته نه ځې؟
نه قربان !
زما خو دغه پوهنځی نه خوښېږي او که وایم یې؛ نو بیا به شخصي ډاکتري
وایم هغه هم په ننګرهار کې.
ښه نو له ځانه ډاکتره جوړوې؟
هو ډاکتري مې ډېره خوښېږي او که د خدای رضا وه ډاکتره به جوړه شم
بس که به زما په دعا کېږې کنه
رب دې باچا کړه چې سلام ته دې درځمه ګرانې
اوهو ! باچاهي مې نده پکار.
نو څه شی دې پکار ده، یوائې او یوآځې ډاکتري
بس له خیره د ډاکترۍ ارمان به دې زه پوره کړم
ته او زما د ډاکترۍ ارمان، پوره کول یې ډېره لرې خبره ده
ګرانې ! لرې خبره نده ماته اسانه ده.
چې اسانه ده دوخت انتظار به وکړم
ما هم وویل سمه ده.
رخصت مې ترې واخیست او ورته ومې ویل، نور به زه دوه اوونۍ وروسته او
یاهم یوه، یوه اونۍ وروسته راځم بیا به سره ګورو، ځکه یوه خوا محصلي
شي بله خوا غریبي شي؛ نو سړی کوم یو ته شي.
هغه ټپه به دې اوربدلې وي چې وایي:
د محصل ټول عمر د غم وي.
څوک چې د غم عمر لري محصل دې شینه.
وختونه تېرېدل او د پوهنتون درسونه هم پیچلی شول، یو خو مې لومړی کال
و، ډېر زیات ویرېدلم هسې نه چې چانس ونه خورم او بله خوا پر ځان هم لږ څه
ډاډه وم.

څه درسونه چې استادانو ما ته په لومړي سمستر کې راښودل هغه مې په پېښور کې لوستلي وو.
دومره مشکل نه و؛ خو بیا مې هم خپله خواري کوله، ځکه ځینې خلک وایي، چې د امتحان نوم هم ګران وي.
د لومړي سمستر د پای ازموینې، چې ختمې شوې په ښه درجه بریالی وم.
همداسې وخت تېرېده، نو زما په زړه کې هم همدا سوچونه ګرځېدل، چې ترڅو زما پوهنتون ختمېږي نو لینا باید زه د خپل ځان په نوم کړم.
زموږ په سیمه دا تاویلې ماویلې ډېرې دي، د پلانکي زوی ښځه ونکړه او د پلانکي زوی ښځه وکړه د هغه سړي بچي نه کېږي، ما کور جوړ نکړ او ما دا ونکړ مړه بس لانجې دي په سر به دې درد کړي.
نن ددې مبارکۍ ته ځم اوسبا د بل، بس خبرې دي او د هرچا په خولو جاري وي، داسې خبرې چې به ما کله واورېدې؛ نو بیا به مې تر درېو ورځو پورې ماغزه د قاره ځای ته نه راتلل؛ خو شکر چې زما په مخکې به دا خبرې اوس چا نه کولې.
یوه ورځ مې د جومات ملا امام ته وویل، چې مولوي صاحب د ځینو غلتو رواجونو په باره کې هم دې خلکو ته مسلې کوه چې لږ پوهه شي، دوی اوس هم هاغه پخواني سوچونه کوي اوس د قلم وخت دی د ترقۍ وخت دی داسې یو څه په ذهن کې ورپیچکاري کړه، چې سمې لارې ته شي.
ما اصلي خبره داکوله چې ویل مې د صبر مېوه خوږه وي او لینا هم ویل چې د صبر مېوه خوږه وي؛ خو نه په داسې مسایلو کې د صبر مېوه خوږه نه وي. زه چې دلینا له خولې خبرېدم پلانکۍ ښځه راغلې وه او ویل چې لینا مې د زوی ډېره خوښېږي او بلې داسې ویلې که چېرته یې مونږ ته راکړي؛ نو زموږ کور به پرې ښایسته معلومېږي لکه ډیوه.
لنډه داچې د دوهم سمستر د پای ازموینې راورسېدې، له یوخوا درسونه او له بلې خوا د مینې ودانه نړۍ چې منډې رامنډې به مې پکې وهلې او تل به مې د سوچ په نړۍ کې لینا الوت کاوه هغه څوک چې ما غوښتله.
د فیسبوک، ټویټر، یاهو او سکایف له نړۍ سره مې د لنډ وخت لپاره مخه ښه وکړه ټلیفون مې هم بند کړ او درسونو ته مې شروع وکړه هماغه څه چې ما به

تل له ځانه سره ویل، دصبر مېوه خوږه وي خو د صبر مېوه زما لپاره خوږه ثابته شوه او لینا.....لینا زما شوه
مبارک مبارک !
له ځان سره مې ویل، ایا لینا رښتیا زما شوه؟
بېرته مې ورته خپله جواب ورکوو هو رښتیا زما شوه
سبا د پنجشنبې ورځ وه دکمپوټر امتحان مې درلود چیپټر مې درې ځلې ولوسته؛ خو نور ټول کار د عملي امتحان وو.
د شپې دولس بجې مې د خوب غېږې ته ځان ور وسپاره کمپله مې پر سر راکش کړه د شپې دوه بجې به وې، چې په خوب کې مې لینا د واده په جامو کې لیده، چې زما ناوې جوړېږي او زما راتلونکې مېرمن به وي لاس یې زما په لاس کې وي او په مېده مېده قدمونو روان یو ، مشر ورور یې راشي او د لینا لاس زما د لاس نه خلاص کړي او ووایې، چې ته زما د خور مېړه نشې جوړېدلی، یره نو زما هم عصاب کار پرېږدي، په غوسه ور وګورم، کله چې څپیړه ورته جګه کړم او وار پرې کوم؛ نو لاس مې ایسته دلینا په مخ ولګیږي، چې له دې سره راپاڅېدم ومې ویل، خدایه خیر بالښت ته مې وکتل دلاس نښان مې پکې له ورایه ښکارېده.
تر سهاره مې خوب ونکړ او د خوب د تعبیر معلومول مې غوښته څنګه به وي.
جومات ته لاړم د مولا شاګرد جمعې ته مخکې شوی وو ، ومې ویل مولوي صیب نن شپه، چې ما خوب ولیده؛ نو ته جومات ته نه یې راغلی بس مونځ مې وکړ، بېرته خپل اطاق ته راغلم سر مې په کمپله کې ننویستی وو ، چې خوب وړی وم ملګري صادق راپاڅولم ویې ویل، الیاسه هله پاڅېږه، چې امتحان ته به ځې، چای مې ونه څښه خوب ته په تشویش کې وم، چې د خوب تعبیر به څنګه وي ځکه یوه جمعه کېده ما خپل ټلیفون بند کړی و.
ماښام کې چې به مې وزګار وخت پیدا کړ؛ نو مبایل به مې چالان کړ او د کور احوال به مې له پلار نه واخیست او بېرته به مې بند کړ.
پوهنتون ته لاړم په نه زړه مې پارچه حل کړه، بېرته له پوهنتونه راووتم، سیده خپل اطاق ته راغلم، ټلیفون مې راواخیست، ورور ته مې زنګ وواهه او ورته مې وویل، چې څنګه یې کورته خیر دی؟

هغه وویل، شکر دی څه نشته بس امن دی ډېر زیات ټینګار مي پرې وکړ او ورته مې وویل، که څه شی شوي وي؛ نو خیر دی ما ته یې ووایه !
راته یې وویل، تراوسه خو داسې څه نشته چې د ویلو وي او که وی خو درته ویل مې کنه ټلیفون مې بند کړ.
له خپل اطاقه را ووتم د بنګړیوالو پر کوڅه تېر شوم، چې د ننګرهار ښاروالۍ مخې ته راورسېدم نو ټلیفون ته مې زنګ راغی، چې ومې کتل د سیلۍ پلار اکبر کاکا وو، ویل یې ځویه نن د سیلۍ رخت (یعنې د واده جوړه ) دی او سبا ته یې واده دی حتما ته راشه.
ټلیفون ته مې غوسه راغله چې دا یوه هفته بند وې ایله مې ماغزه درنه بې غمه وو اوس چې مې څنګه خلاص کړې؛ نو زیری رابانديې وشو، چې د سیلۍ واده دی او حتماً ورته راشه.
له ځان سره مې وویل، ښه دادې یوه، نور دې الله خیر کړي، چې څه پېښېږي.
څنګه د ښاروالۍ له ګېټ نه سیده د کابل بانک طرف ته پورې وتم؛ نو بیا مې ټلیفون وشرنګېده چې ومې کتل ملګری شبیر مې و، ومې ویل خدایه خیر راپیښ کړې، لینګي مې په رپېدو شول لکه بد زیری چې پر ما کېږي، لا مې ټلیفون په لاس کې ټنګېدو، چې د اوکۍ پر بټنه مې زور کړ.
شبیر وویل، خبر شوې؟
ما ورته وویل، ولې څه شوي؟
شابه ! حل راته وایه، څه چل شویدی؟
غریو نیولی غوندې شو، له ځان سره وسنګېده، لکه کوم بد زیری چې پر ما کوي، راته یې وویل:
د ویلو وس یې نلرم.
ښه چې د ویلو وس یې نلرې بس دادی زه درغلم.
انتظار مې کوه په دوو ساعتونو کې درسېږم، بیا به یې راته ووایې، چې هر څه وو.
راته یې وویل، له یوې خوا ستا امتحانونه دي او له بلې خوا داسې بد زیری کول.

پوه شوم، ورته مې وویل، لینا مې بیګاه په خوب کې لیدلې وه، چې زما ناوې جوړېږي.
شبیر وویل، افسوس وروره ستا پرحال ! هغه غریبه له ځانه خبره نه وه چې له داسې حالات سره به مخامخ کېږي او ستاسې د دواړو مینه به په نیمه کې پاتې کېږي، ځکه هغه یې بېګاه وركړه.
ورته مې وویل
چاته؟
شبیر وویل، په خارج کې.
له خارج سره نور په ځان نه یم پوهه شوی، کله چې مې سترګې وغړولې، له سره مې سپینه د بنداژ پټۍ تاوه وه او په ښي لاس کې مې سیروم چالان و، اوښکې مې را ماتې شوې، په زوره زوره مې وژړل، اوس یوا ځې ژړا راپاتې شوه، دومره مې په روغتون کې وژړل، چې سترګو مې درد وکړ. ډاکتران یو یو راځي او دلاسه کوي مې، چې ته خو غښتلی سړی یې ولې داسې ژاړې؟
شبیر له کونړه ځان را رسولی و، نور ځوک یې نه وو خبر کړي؛ خو زما ټلیفون چې چالان و، د کابل بانک عسکرانو لیدلی وم، چې ضعف شوی یم، شبیر له کابل بانک ساتونکو سره زما په ټلیفون خبرې کړې وې او د پیښې ټول جریان یې ورته ویلي و، د کابل بانک ساتونکو دومره توره کړې وه، چې زه یې روغتون ته رسولی وم، ځکه په لوېدلو کې زما سر هم مات شوی و او بیا له ځانه ناخبره وم.
شبیر ته مې وویل، نن باید ما کونړ ته ورسوې، چې هرڅنګه کېږي او د هغه چا کره به هم ورځو، چې مخکې یې دکنړ مرکز اسعداباد کې یې ماته میلمستیا کړې وه.
د اطاق ملګري مې خبر شوي و، ټول مې تپوس له راغلل، شبیر ته مې دومره وویل، دوی ته وو ایه، چې موږ کنړ ته ځو او بېرته به د شنبې په ورځ راشو.
پیکه ورځ وه، هرڅه ته چې مې کتل لکه ټول، چې زما پر حال خبر وي او زما پر خپګان اوښکې تویوي، په اسمان کې هم دغم ورېځو منډې رامنډې وهلې، چې دلمر ساه به کله ورېځو اخیسته او کله به هم ورېځ د لمرخوراک شوه.

نن ورځ ټوله دنیا پر ما راتنګه وه، هرڅه ته چې به مې کتل، کرکه به مې ترې کېدله، انسانان راته ارمان قتلوونکي ښکارېدل، هره چاته به مې غوسه راتلله، له کوره مې زړه تور شو، بیخې مې ویل، چې کاشکې په دې دنیا کې پېدا شوی نه وای؛ خو شبیر به ډاډ راکوه، ناشکري مکوه ! الله ج مهربانه دی، ویې خندل او ویل یې، چې سرونه وي ملګریه ! نو خولۍ ډېرې دي.
ومې ویل، بې ځایه خبرې مکوه ! ورور ته مې غوسه راغله او ومې ویل چې ده ولې زه خبر نکړم، چې لاړم زه به ورسره کار لرم.
د سیلۍ خبره مې سترګو ته ودرېده، چې ویل یې، زما د ارمانونو قاتله ! الله دې په نیمه لار کې پاتې کړه، چې پته دې ولګیږي، همدا سې وشول، د هغه چا ازار ووهلم چې ما پر ي کبر وکړ او له زیاتو غوښتنو سره سره یې بیا هم زما زړه ته ونه کتل.
له ننګرهار تر کونړه مې په ټوله لار دومره وژړل، چې شبیر نور ماته په نصیحتونو ستړی شو، له موټره چې ښکته شوم، سترغلي مې پړسېدلي وو.
دلینا هغه دستمال مې سترګو ته نیولی و، چې هغې د ښوونځي په دوره کې ماته کړی و.
د کورنۍ له ټولو غړیو ناهیلی شوم، څه خبرې چې مې په خولې راتللې له مشر نه نیولې ان دکورنیو تر نورو غړیو پورې کولې.
مور ته مې وویل، ته چې دومره خبرېدلې، دا جینۍ خارج کې غواړي؛ نو لږ تر لږه زه خو به دې خبر کړی وای، چې ما یې یو څه غم خوړلی وای، که داسې وي؛ نو اوس له مانه خپل لاسونه ووینځئ په عمر به نور خپل کور ته ونه ګورم.
د مور په سترګو کې مې اوښکې اوښتې راوښتې، چې د ماښام اذانونه په شروع کېدو شول، له کوره راووتم د ننګرهار موټر ته ختلم چې کلک شبیر ونیولم، راته یې وویل، اشنا ! ما خپه کوې، چې په دې تیاره ماښام بېرته جلال اباد ته ځې.
ورته مې وویل، نور زما دلته ساعت نه تېرېږي او نه زما د لته څوک شته، بس ته مې هم د ملګرتیا له لېسته ویستلې.
ده وویل، ښه دې وکړل، چې د ملګرتیا د لېسته دې ویستم.

هماغه و، چې شپه مې د شبیر سره تېره کړه، دکورنۍ ټول غړي راپسې په ګرځېدلو ګرځېدلو ستړي شوي وو، چې اخر د شبیر ټلیفون وشرنګېده، ورته مې وویل، چې زما پوښتنه چا کوله ورته ووایه چې دلته نشته.
شبیر بهر ته ووت، چې بېرته راغی، نو راته یې وویل، چې الیاسه! ډوډۍ هسې هم تیاره ده، وبه یې خورو!
ورته مې وویل، زما زړه ته نه کېږي؛ خو د هغې ډېر ټینګار اړ کړم، چې یو څو مړۍ ډوډۍ تر ستوني تېره کړم.
شپې ځان د تورتم په ویرونکو تیارو کې ونغاړه، شبیر مې په خوب ویده پرېښوده او زه د هغه چا دکور ترمخه کېناستم، چې یوه ورځ یې پر همدغه دروازه خپل کور ته دننه کړی وم، دا کور د لینا و، په غلي غږ مې لینا ته ډېرې چغې ووهلې؛ خو دلینا درک نه معلومېده، دومره غوسه (قهر) راغلې وه، که دکورنۍ هرڅوک یې په لاس راغلي و، نو ساه به مې په دوو ګوتو ترې ویستلې وای؛ خو هماغه و، چې زما د ارمانونو قاتلې دروازه خلاصه کړه او غبرګې ته یې ځان راګذار کړ، په داسې حال کې چې اوس هم زه له ځانه ناخبره وم، ستورو داسې سترګکونه وهل تا به ویل، چې دوی هم زموږ پر جدا والي سلګۍ وهي.
زما حالات شیبه په شیبه خرابېدل، د ودرېدلو وس راکې نه و، اوښکو مې ټول زور له سترګو وویسته، بدن مې ټول رېږدېده، د خبرو توان راکې نه و، چې یا هغه ملامته کړم او یا ځان ته د ملامتیا ګوته ونیسم.
دا ټول کارونه د پښتنې ټبر ناوړه رواجونه دي، چې لور او زوی ته خوښه نه ورکول کېږي او په دغه اور کې هلک او انجلۍ دواړه سوځي، لکه زه او لینا دواړه چې پکې سوځېدو.
له هغې نورې مشرانې هم وې؛ خو چې خوښې ته یې ورله ونه کتل له سترګو یې پناه کړه او د ارمانونو دنیا یې ورړنګه کړه.
زما کورنۍ، خو لا زما زړه ته هم راونه کتل او همداسې یې پرخپل حال پرېښودم.

د شپې ویرونکي خاموشي زما او د هغې سلګیو ماته کړې وه او د ژمي سوړ باد مو بیا پر بدن داسې بد لګېده، لکه دا چې رانه د مینې کولو د ګناه غچ اخلي.
زما په پرتله هغه لږه ښه وه، په ټکني غږ یې وویل:
ال یاس ! جانه ! ای جانه!
بس د قدرت کارونه دي، چې نه زه تاته درو سېدم او نه ته ماته، دا به یې زموږ په تقدیر کې لیکلي وو .
خو جانه ! اوس چې مې تا زړه کې ځای نیولی دی، زه به راتلونکی ژوند څنګه تېروم؟ له تانه خو زما بغیر ژوند نه تېرېږي ! ته مې د زړه سر یې او ته مې د مینې دنیا یې !
دا چې تا ماسره دومره ډېره مینه کړېده، د هغې مینې پور به دې زه په ټول عمر درپوره نکړم؛ خو زما دې نه منله او په بار بار مې درته ویل، چې دلته څوک د لور او زوی خوښې ته نه ګوري، تېر شه له دې مینې .
هغې خبرې کولې او ما سلګۍ وهلې، چې له خولې یې دا سندره په دومره دردونکي غږ چې ژړا ورسره ملګرې وه زمزمه کوله، چې نور بیا زه په ځان نه یم پوهه شوی .
چې په ما میندې، ځه اوس ګرځه لیونی !
چې په ځان نه پوهېدې، ځه اوس ګرځه لیونی !
کله چې مې سترګې غړولې، نه غړیدلې ځکه د ډېرو اوښکو بهولو او درد له لاسه مې سترګې پړسیدلې وې، د اعصابو د درد دلاسه بیخي په ځان نه پوهېدم.
غږ مې کړ، زه چېرته یم ؟
شبیر راغږ کړ، ته زموږ په کور کې یې !
له کور سره مې بیګانې هغه صحنه مخې ته ودرېده، چې لینا زما غېږې ته راغله او په سلګو سلګو موږ دواړو ښه ډېر وژړل، لینا خبرې کولې او ما یې خبرو ته غوږ نیولی و ، چې بیا په ځان نه وم پوه شوی.
شبیر ته مې وویل، زه خو د خپلې مینې په خواکې وم، دلته څنګه راوستل شوم او چا راوستم؟

هغه ټوله کیسه راته له الف نه تر یا پورې وکړله، پوښتنه مې ترې وکړه چې څو بجې دي؟
راته یې وویل، څه باندې دولس بجې دي !
سترګې مې د ډېر درد له لاسه نشوې خلاصولی، کلکې سره نښتې وې، په اعصابو مې لکه چې ټوله دنیا پرته وي، داسې دردونو راګېر کړی وم، بیا سلګیو ونیولم، ښه ډېر مې وژړل، چې د اوښکو په تویولو سره مې سترګې لږې ببرته شوې، ایله بېله مې دنیا ولیده، شکر مې وویست،خدایه ! شکر چې روغ انسان دې پیدا کړی یم.
شبیر راته وویل، چې ډوډۍ وخوره ! له ډاکتره مې درته دوا راوړې ده، چې هغه هم وخورې لږ څه به ښه شې.
ډوډۍ مې لږه وخوړله، یو څو د درد ګولۍ مې تر ستونې تېرې کړې، ما ویل که چېرته مې دا ګولۍ د بلې دنیا میلمه کړي ښه به شي، ځکه په دې دنیا کې خو راته ژوند کول نور ډېر ګران شول او دلینا پرته راته په دې نړۍ کې اوسېدل دوزخ ښکاره کېده، شبیر را وړاندې شو، په سترګو کې یې راته د سترګو دوایي واچوله، چې ایله یې درد په قلاره شو.
بیا مې نېغه لینا سترګو ته ودرېدله، چې له سترګو مې بیا د اوښکو رودونو پرمخ لیکې جوړې کړې، دومره مې ورپسې وژړل، لکه یوه مور چې د زوی په غم ناکراره وي او یو څوک ورته د تسلۍ لپاره پیدا شي او ډاډ ورکړي.
کله چې به شبیر په ژړا ولیدم، نو په غوصه به شو او ویل به یې ملګریه ! چې سر ژوندی وي خولۍ ډېرې دي، چې ته ژوندی یې، جینکۍ هم ډېرې دي.
ما به ورته وویل، لیونیه ! ته مې له زړه څه خبر یې ! دا خبرې هغه چاته وکړه چې نه پرې پوهېږي، ماچې له چا سره مینه وکړه داسې مینه بیا په عمر نه پیدا کېږي، ځکه په ژوند کې خو یوځلې خیز همدا مینه ده، چې انسان پرې د سکون احساس کوي او هغه هم له یو کس سره، ځکه ما په ژوند کې له یو چاسره مینه وکړه او هغه مینه لاړه دبل شوه، نو زه به اوس نه ژاړمه؟ ته راته وو ایه !
هغه به بیا نور دلیلونه راته ویل؛ خو ما به پرې هیڅ غور نه کاوه.

په همدې خبرو خبرو کې دنشې زوروروګولیو د خوب غېږې ته کش کړی وم، بیا په ځان نه یم پوه شوی، کله چې مې سترګې وغړولې، تکه توره شپه وه، غږ مې کړ

شبیره ! وه شبیره !

شبیر زر راویښ شو ویې ویل:

څه خبره ده !

ورته مې وویل چې لږې اوبه راکړه ! اوبه مې وڅښلې، ساعت ته مې وکتل، د شپې دولس بجې وې.

له شبیره مې اجازت راواخیسته او ورته مې وویل چې زه باید لاړشم !

- چېرته؟

-د لینا دوی کور ته !

-اوس خو شپه ده، بل ټول خلک ویده دي هسې نه چې د هغوی د کورنۍ څوک راویښ شي او خدای مکړه بله لانجه جوړه کړي، دا خو کلی دی او د کلي خلک بیا له وړې خبرې غټه خبره جوړوي اوبله هغه جینۍ اوس دبل چا په نوم ده !

بس دی یار، له هغې تېر شه ! دابه درته ښه وي، خپل راتلونکي ژوند ته فکر وکړه! ځکه یار مې یې دربانديې خپه کېږم.

که هرڅومره خبرې مې شبیر ته وکړې، خو نه یې منلې، اخر پاڅېده، تازه مېوه یې راواخیسته، یوه کیله او منه مې وخوړه، لږ څه طاقت راکې پېدا شو؛ خو سوچ مې ټول د لینا سره و، چې اوس به څنګه وي؟ ویده به وي او که ویښه؟ ژاړي به که نه به ژاړي؟ زه به ورته یاد یم کنه؟ بس په همدې خبرو له ځان سره لګیا وم، چې شبیر مې دوایي ترڅنګ کېښودله او له ځان سره مې د لینا د هغې سندرې زمزمه شروع کړه، چې لینا راته تېره شپه ویله او زه بیا په ځان نه وم پوه شوی.

چــې په مــا میندې، څه اوس ګــرځه لیونی !

چې په ځان نه پوهېدې، څه اوس ګرځه لیونی !

ژړا راته بده وه، خو بې له ژړلو بله لار نه وه راپاتې، ځکه زړه په ژړا سپکېږي او یوه څه سکون اخلي، خو زما ژړا له سترګو زور وویسته اوداسې به مې سترغلي پړسېدل، چې بیا به مې لار نه لېدله.

کله چې مې دوایي وخوړله؛ نو له ځان سره مې وویل، چې شبیر ویده شو نو حتما به نن شپه دلینا خواته ځان رسوم، ځکه هغه به زما په طمعه وي، خو شبیر کاني کړې وې او په اوبو کې یې د خوب ګولۍ ګډې کړې وې، چې نور بیا په ځان نه وم پوه شوی، سهار اته بجې وې، چې سترګې مې وغړولې، ځان او شبیر ته مې بد رد شروع کړل، شبیر ته مې وویل، شبیره ! په وخت به دې راپاڅولی وای، چې امتحان ته خو مې ځان رسولی وی، شبیر خپه شو راته یې وویل:

امتحان څو بجې شروع کېږي؟؟

ما ورته وویل، یاره ! اته بجې شروع کېده، خو اوس نو خبره له اتوبجو اوښتې وه.

ټلیفون مې روښانه کړ، زیات مسیجونه راغلي و، چې ډېر پکې د سیلۍ د پلار اکبر کاکا وو.

ما د ټلیفون سکرین ته کتلی نشول، ځکه له یوې خوا مې پر مغزو بوج و او له بلې خوا مې سترګې د درد له لاسه تکې سرې اوښتې وې.

ټلیفون مې شبیر ته ورکړ او ورته مې وویل، شبیره ! کوم مسیجونه چې راغلې دي، هغه وګوره چې څه یې لیکلي دي.

شبیر مسیجونه وکتل ویې ویل، څه خاصه خبره نشته، خواکبر کاکا دې په ټلیفون زیاته وسه کړېده، چې د هغې میسجونه دي اوس ټلیفون ته راځي.

د اکبر کاکا د نوم په اورېدو سره راته د سیلۍ واده رایاد شو، چې د تېرې شوې جمعې په ورځ یې ډولۍ وه او اکبر کاکا زموږ دکورنۍ په شمول ماته ځانګړې بلنه راکړې وه.

ټلیفون مې د شبیر دلاسه واخیسته، اکبر کاکا ته مې زنګ وواهه، پرځای ددې چې زه ورته بهانه وکړم، چې څنګه د سیلۍ واده ته درنه رغلم هغه رامخکې شو او په ژړه غوني او له درده ډک و، په سلګیو کې یې راته وویل، زویه ! سیلۍ مو د واده په ورځ له لاسه ورکړه !

څنګه مو دلاسه ورکړه؟

په ژړا سر شو ، بچیه !..... بچیه !........... بچیه !

هغه مړه شوه او بالاخره خاورو ته مو وسپارله، ستا په ټلیفون مې ډېره خواري وکړه؛ خو ستا ټلیفون بند و، ماویل چې وادہ ته به یې راشې، واده به یې ووینې، خو وروستی دیدن یې هم تا ونه کړ.

ټلیفون مې پرې کړ، ډېر زيات مې د سیلۍ په مرګ وژړل او هغه خبره یې رایاده شوه، چې زما د ډولۍ په ورځ به زما کټ تورو خاورو ته په خپلو اوږو یوسې، لکه څنګه چې دې زما ارمانونونه خاورې ابرې کړل، داسې دې هم ستا ارمانونونه خاورې ایرې شي او په نیمه لار کې پاتې کېدل دې همېش غوارم.

ربښتیا په نیمه لار کې پاتې شوم، له یوې خوا د سیلۍ مرګ او د بلې خوا د لینا کوژده په نن ورځ له امتحانه پاتې کېدل، د سترګو اعصابو او د ځان درد خو پرېږده چې په دې حال یې کړم، سوچونو په مخه کړی وم.

له شبیره مې وغوښتل، چې نن باید داکبر کاکا کره لاړ شو هماغه و، چې شبیر خپل موټر چالان کړ او د موټر مخه مو د مرکز اسعداباد په لور کړه .

د سیلۍ دوی کور ته لاړو، اکبر کاکا ته مې تسلي ورکړه، د سیلۍ مېره ډېر خپه ښکارېده، د واده د سپینو جامو پرځای تورې جامې پرتن کړې وې، چې سترغلي یې له ورایه پړسیدلي ښکارېدل، رنګ یې تک زېړ تښتېدلی و او څه څه سوچونه به یې د واده د شپې په اړه کول، چې د خوبونو شاهزادګۍ یې خپل ژوند ته خپله د پای ټکی ایښی و.

له اکبر کاکا نه مې د سیلۍ د مرګ په اړه وپوښتل، په سلګیو کې یې راته خبرې شروع کړې ،

بچیه ! سیلۍ مو د واده په موټر کې له شاوو سره کېنوله او موټر مو په خیرو خیرت سره رخصت کړ؛ خو له زړه مې هغه ساعت یو خدای خبر و چې څه پرې تېرېدل.

زه خبر نشوم چې سیلۍ څنګه مړه شوه او په څه شي مړه شوه، خو کله چې پوه شوم، دومره زهر یې خوړلي وو، چې د زړه والونه یې ورته بند کړي و.

ډاکترانو يې معده پاکه ووينځله، اکسيجن يې ورته چالان کړ؛ خو کار يې ونکړ، هماغه و چې د زهرو له لاسه يې خپل ژوند ته د واده په شپه د پای ټکی کېښود او ډېر ارمانونه يې له ځان سره خاورو ته يوړل، بيا مې له خپلې ښځې وپوښتل هغې راته وويل، چې د سيلۍ ته خوښېدلې او مور ته يې ويلي هم ول، چې الياس زما نشو، نو زه به توري خاوري شم، زه څه خبر وم، چې ته يې خوښېدلې، که ته يې خوښېدلی زويه! مابه لاس نېولې ستاسې کور ته دروستې وه.
په زړه کې مې تېره شوه، اکبر کاکا ته له ما څه خبر يې، چې په ما څه تېرېږي اوکه خبر شې نو ته به هم راسره په چغو چغو وژاړې او پته هم نشته چې مړ به شم، که ژوندی به پاتې شم.
ځکه چې ما هرڅه وبايلل، لينا مې له لاسه ورکړه، سيلۍ زما له لاسه د تورو خاورو بندېوانه شوه، له درس ويلو پاتې شوم او د تل لپاره مې کورنۍ هم رانه پاتې شوه
په ماتو قدمونو مې ترې خدای پاماني راواخيسته، غمونو دردنو او سوچونو داسې ليونی رانه جوړ کړی و، چې د سيلۍ د پلار نورو خبرو ته زما پام شوی نه و، چې ماته به يې څه څه ويلي وو.
کتل مې چې شبير د لاسه نېولی يم او هغه هديرې ته راورسېدلو، چې په ځينو قبرونو ماتې شوې رنګارنګ شيشې او ټوټې ښکارېدلې، ورېځې په اسمان کې تللې راتللې لکه دوی، چې هم د سيلۍ په مرګ له اسمانه اوښکې راتويوي.
خو زما سترګې چې له ډېره درده خوږېدلې او اعصاب مې ګډ وډ و، په تازه جوړ شوي قبر، چې د واده د زلمي د غاړې اميلونه به وو په خاورين قبر سلګۍ وهلې.
دا قبر د سيلۍ و!
له سترګو مې اوښکو پرمخ لارې جوړې کړې، شبير ته مې پام شو، هغه هم داسې سلګۍ وهلې لکه د کورنۍ کوم غړی، چې يې له لاسه ورکړی وي.
په سلګيو سلګيو کې مې د سيلۍ له سترې اروا بښنه غوښته.

کاش ! ته له ماخبره وای او یا هم ما خبره کړی وای، چې زه په چا میئن وم او ته په چا میئنه وې، زه په هغه چا میئن وم، چې لاس ته مې رانه وړه او ته چې په چا میئنه وې، هغه تا لاس ته رانه وړو .

تا خپل ژوند ته د پای ټکی کېښود ، خو زه اوس هم له دغه درده رنځېږم او له خدایه غواړم، چې زه هم ستا ملګری شم، ځکه ما هم خپله مینه وبایلله .

له شبیره مې د توش قلم غوښتنه وکړه له، هغې په پنځو ملتو کې توش قلم تر ما راورسو او د سیلۍ د قبر د پښو برخې شناختې نه مې لړه خاوره واړوله او هغه سپینه د کفن ټوټه رابښکاره شوه، چې د هغې شناختې نه تړل شوې وه .

که څه هم سترګې مې د درد د لاسه خوږېدلې او سم لیدل مې پرې نشول کولای؛ خو ومې لیکل:

((ستا د ارمانونو قاتل زه شوم؛ خو زما د ارمانونو قاتله به څوک شي؟))

بیا مې له سترګو اوښکې په رابهېدو شوې، د اسمان زړه هم ډک معلومېده، اسمان هم غوښتل چې راسره وژاړي او زما په درد کې له ما سره شریک شي .

له شناختې لرې شوې خاوره مې بېرته ورته راټوله، چې له اسمانه هم باران په وربدلو شروع وکړه، شبیر تر لاس ونیولم او موټر ته یې وخیژولم.

د سترګو او اعصابو درد داسې لیونی کړی وم، چې نه د جلال اباد په ډاکترانو کار وشو او نه هم د ذپاکستان.

دا ټول د مینې دلاسه !!

نه مې لینا لاس ته راوړله او نه مې بېرته سم درسونه وویل، هغه ورځ هم راورسېده چې په کومه ورځ چې د لینا ډولۍ زموږ له کلي بل کلي ته وړل کېده، زه هم مجبوره وم، هیڅ مې د لاسه نه کېدل، هاغه خبره مې مخې ته ودرېده، چې کومه خبره مالینا ته په خط کې لیکلې وه:

((ګرانې ! تاته به دې پښتو اجازت نه درکوي، چې ما د خپل ځان په نوم کړې او ماته به د خپلې کورنۍ پیغور ښکاري، چې د بل په نوم شوې دې زه له کوره وتښتوم او د نورو هېوادونو میلمنه دې کړم.))

خو دغه ټپه بیا زور راکوي

که زورور یې زور معلوم کړه

نن مې ډولۍ د کلي منځ کې تېروینه

يو ملګري مې خبر کړم، چې نن دلينا ډولۍ ده، اوففففففففففففف !؛ نو د ډولۍ په اوريدو سره مې مغزو کار پرېښود ، سم دم ليونی شوم، له پښو مې ځمکه وتښتېده، اعصابو مې کار پرېښود ، سترګو مې تور وخوړ، نور په ځان نه يم پوه شوی.
کله چې مې سترګې وغړولې، د اطاق ملګري رانه ګرد چاپير ناست دي، څوک مې زړه سولوي او څوک د ليمبو شربتونه په خوله کې راته اړوي.
ډاکترانو راباندې ژړا بنده کړې وه، راته يې ويلي وو:
که نور دې وژړل نو د سترګو پردې به دې کار پرېږدي، هيڅ به هم نه وينې، ړوند انسان به درنه جوړ شي.
هماغه و، چې د خپل ملګري صادق سره يو ډاکتر ته لاړم، صادق ته مې وويل، چې ته زما لپاره د مبايل يو کارت راواخله او زه به له ډاکتره دوايي راواخلم .
کله چې صادق کارت پسې لاړ، ماله ډاکتره د زهر ګولۍ واخيستلې، اطاق ته راغلم، د نورې دوايي ترڅنګ مې د زهرو ګولۍ تر ستونې تېرې کړه، بيا پرځان نه يم پوهه شوی، چې څه چل به راباندی شوی و، کله چې مې سترګې وغړولې، په خوله کې مې سپين پيپ معدې ته تېر شويدی او ترڅنګ مې د کورنۍ غړي او شبير ولاړ دي .
د ټولو له خولې د شکر کلمات راوځي او همدا وايي:
د الله فضل دی چې سترګې دې وغړولې ؟
نه يم خبر چې ما به څو ورځې په روغتون کې تېرې کړې وې.
د کورنۍ غړيو که هرڅومره مينه راکوله خو زما لپاره د دوی مينه په زړه کې نه وه، ځکه زما زړه ډېر درديدلی و او يوه ته مې هم په مينه ونه کتل.
شبير ته مې دلاس په اشاره وويل، چې زه ولې مړ نشوم؟
شبير راته وويل، ای کم عقله ! ولې خپل ژوند خاورې ايرې کوې ! ته خو ځوان يې، بايد مبارزه وکړې، په ژوند شکر وباسه ! په کمزوري غږ مې ورته وويل، شبيره ! څومره وخت کېږي، چې زه دلته په دې روغتون کې يم ؟
شبير راته وويل، شپږ ورځې دې کېږي.

مور مې راوړاندې شوه، خدای خبر شه چې مخکې به يې څومره ښکل کړی او دم کړی وم، بيا راوړاندې شوه، په دواړه مخه يې ښکل کړم او وی ويل، زما ګل بچيه ! الله به دې زر تر زره ښه کړي او مورې هيله لرو چې روغ جوړ به راسره کور ته لاړ شې.

مور مې خبرې کولې او ما ورته سر خوځاوه .

هغه ورځ هم راورسېده، چې د سترګو اعصابو او د زړه دعلاج لپاره مې هندوستان د تللو تکل وکړ؛ خو مينه مې له ياده نه وتله، تل مې په زړه کې نېغه ګرځېدله او کله ناکله به مې له سترګو اوښکې هم ورپسې تللې، په سبايي مو پرواز و، شبير راسره ملګری شو، له کنړه د شبير سره په موټر کې کېناستم، موټر چې له څوکۍ ولسوالۍ راتېر شو، نو يو دم مې راډيو ته پام شو، ستنه مې د يوې نړيوالې راډيو پرڅپه برابره کړه، چې څنګه مې د چالانولو په بټنه زور کړ، نو يو دم مې دا سندره تر غوږ شوه، چې کله به ماته لينا زمزمه کوله !

چې په ما ميندې، ځــــه اوس ګرځه ليونی !

چې په ځان نه پوهېدې، ځه اوس ګرځه ليونی !

سندره ختمه شوه او ماهم بېرته راډيو بنده کړه، بيا هغه تېرو صحنو ته لاړم، کومې د مينې خوږې شيبې، چې زما او د لينا ترمنځ تېرې شوې وې، خو ما ددې سندرې په اورېدلو سره په ټول موټر کې ان تر کابله وژړل.

په نن ورځ مو هندوستان ته درې بجې پرواز و، د حامد کرزي نړيوال ډګر ته مو دولس بجې ځانونه ورسول، په انتظار خونه کې کېناستلو، لږ وخت نه و تېر شوی، چې د طيارې عملې غږ کړ، بس تيار شئ ! چې طيارې ته خېژو چې څنګه د طيارې په طرف روان شوم، نو لکه خوب چې ګورم له خولې مې

اه !ووت

پر داسې چا مې سترګې ولګېدلې، چې هيڅ مې باور نه کېده چې دا به هماغه وي.

ځکه دا هرڅه د هغې د لاسه پر ما وشول، نه مې لاس ته راوړله او نه مې سترګې ښې شوې، اوس مې هم سترګو درد کاوه، هغه د ستمال مې په لاس

کې نېولی و، چې لینا راکړی و، د سترګو او اعصابو د درملنې لپاره هندوستان ته تلل، ټول مې د زوربېدلې مینې له لاسه وو .
خلک طیارې ته په ختلو وو، خو دې چې څنګه پر ماسترګې ولګېدلې ځای پرځای ودرېده.
که څه هم زما سترګو دومره لیدل نشو کولای او په سترګو مې تورې پردې تلې راتلې؛ خو بیا مې هم هغې ته په ځیر ځیر وکتل، زړه مې وو، چې خواته یې ورشم او په غېږ کې یې ټینګه ونیسم او د خپلې مینې تود شوی زور پرې سوړ کړم؛ خو چې څنګه مې قدمونه ور واخیستل، له سترګو مې اوښکې را روانې شوې، هغه پرخپل ځای لکه د مېخ ولاړه وه، چې ټلیفون ته یې زنګ راغی او د ټلیفون پر زنګ یې دا سندره سبت کړې وه.
جینا لګی هو
پهلې سی زیاده
توم پې مرنا لګی هو
په دې وخت کې د طیارې کارکوونکو غږ کړ، څه ته ګوری؟ هله نو چې پرواز ته چمتو یو کله چې مې شاوخوا نظر واچوو ما او لینا یوآځې په تش مېدان کې پاتې و، چې لږ وړاندې مې وکتل، بلې طیارې هم څرخونه تاوول، دې ته یې د ژوند ملګری را ورسېد، لاس یې ورکړ او روان شول. زما له سترګو د اوښکو باران په ورېدلو شو، هیڅ په ځان پوه نشوم، چې زه چرته ولاړ یم او چرته ځم؟
کله چې مې سترګې د هغې په طرف کړې، د طیارې په زینو ختله، مخ یې راواړو او شونډې یې ببرته شوې، چې خامخا به یې په خوله دا سندره جاري وه .
چې په مـــا مېندي، څه اوس ګـــرڅه لیونی !
چې په ځان نه پوهېدي، څه اوس ګرڅه لیونی !
بیا پرځان نه یم پوه شوی، کله چې مې سترګې وغړولې، نه هغه وه، نه دطیارو میدان او نه هندوستان،
یوآځې مې دبدن عکاسي د روغتون سپینو دېوالونو کوله.

پای

۵/۹/۱۳۹۴
د سهار لس بجې د انعکاس راډیو د فتر